د موضوعي خپرونو لړۍ

# مینه، ویره او تربیه:
# په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پروړاندې ورځنی تاوتریخوالی



ډیبرا ج. سمیت

۱۳۸۲ کال سلواغه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د موضوعي څېړونو لړۍ

# مینه، ویره او تربیه:
# په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې ورځنی تاوتریخوالی

ډیبرا ج. سمیت

د دغه څېړنې مالې مرسته د اروپا کمیسیون لخوا تمویل شوه

۱۳۸۲ کال سلواغه

©د چاپ حق، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۷ کال. ټول حقوق محفوظ دي. د دغه خپرونې د هیڅ یوې برخې بیا چاپ، د استفادې
وړ کوم سیستم کې ذخیره، او نورو بڼو ته لکه الکترونیکي، ثبت، ته د هغو اړول، د خپروونکي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې، د
اجازې څخه پرته منع دی، د اجازې لپاره کولای شئ دغې بریښنا پتې او یا ټلفون شمیرې سره اړیکې ټینګې کړئ. areu@areu.org.af ۵۴۸
۰۷۹۹۶۰۸ ۹۳+ ...

## د لیکونکی په هکله

ډیبرا جې سمیت د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د جندر او روغتیا د څانګې د څېړنې لوړ رتبه امره ده. د ۲۰۰۷ کال د جنوری په میاشت کې کله چې نوموړې په دغه اداره کې کار پیل کړ، له هغه مهال څخه را په دی خوا هغه یو څېړنیزه مقام کې کار کوي چې په هغه کې دودیزه قانون او د مناقشو د ټولنیزی حل لارو څېړنه؛ په ولسی جرګه کې د ښځو د جندر ګټو استازیتوب؛ حکومتي وزارتونو کې د جندر پرمختګ ؛ او د کورنیو د دینامیزم او زور زیاتې څېړنې شاملی دي. نوموړی مخکې له دی چې افغانستان ته راشی، د لنډن د روغتنپالنې په ښوونځي او ټراپکل هلت کې کار کاوو چرته چې هغې د روغتیایي پالسۍ څېړنه په مالاوي او زمبیا کې تر سره کړه. نوموړې د لندن د اقتصاد او سیاسي پوهو د ښوونځي څخه دوکتورا لري،چې د دغه رتبې د ترلاسه کولو لپاره یې د هندوستان په راجستان ایالت کې د جندر مسایلو په هکله سیمه ییزه څېړنه تر سره کړه.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری په هکله

د افغانستان دڅیړنې او ارزونې اداره یوه خپلواکه څیړ نیزه موسسه ده او مرکزي دفتر یې په کابل کې دی.د دغه سازمان دنده په لوړ کیفیت سره د څېړنو تر سره کول دي چې په پلان جوړونه او د هغه په پلي کولو کې لاربښود او ګټور وي. دغه اداره د څیړنې او زده کړې کلتور ته د څیړنیز ظرفیت د ځواکمن کولو او د نیوکو د آسانولو له لارې پرمختګ ورکوي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري لرلید دادي چې د هغه فعالیتونه د افغانانو ژوند ښه کړي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په ۲۰۰۲ کال کې د مرستندویه ټولنې پوسیله چې په افغانستان کې کار کوي، تاسیس شوه او د بسپنه ورکوونکو هیوادونو، ملګرو ملتونو او نورو څوا ړخیزه نمایندګیو، نادولتي سازمانونو(NGOs) د استازو څخه یو مدیره پلاوې لري.

د دغه ادارې اوسنۍ بودجه د اروپا د کمیسیون،د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، نړیوال بانک او د ډنمارک،سویس، ناروې، سویډن او انګلستان هېوادونو لخوا برابرېږي.

# کورودانې

د زیاتو کسانو له مرستې، ملاتړ، او وخت لګولو څخه پرته به د دغه پاڼې لیکل او د هغه لپاره څېړنه د پلي کېدو وړ نوي.

په کومو کلیو او ښاري سیمو کې چې څېړنه تر سره شوه، د څېړنیزه ډلې له غړو څخه د دغو کلیو او ښارونو د اوسېدونکو د میلمستیا لپاره؛ د خپلو د کورنیو د کیسو په ویلو کې او د خپل د ژوند د تفصیلاتو د شرح او بیان لپاره د هغوی د زغم؛ د څېړنې د موخو سره د توافق او ملاتړ لپاره د هغوی د تیاري او ملاتړ څخه، او د څېړنې ډلې ته د خپل ارزښمتند وخت د ورکولو او له هغوی سره د مرستی لپاره، له هغو څخه زیاته خوښې او مننه کوو. زه د لیکوالې په توګه داسی هیله لرم چې د خپل د توان په اندازه مې د هغوی له دغو معلوماتو او کیسو سره چې له څېړنیزه ډلې سره یې شریکې کړې دی، د هغوي په بیا لیکلو او تحلیل کې مې انصاف کړی وي.

دغه څېړنه به د څېړنیزه ډلې د خوارۍ، ځان وقفولو او ټینګار څخه پرته چې د مرکو او معلوماتو په راټولولو کې یې په څېړنیزه سیمو کې تر سره کړې دي، شونی نوی. فهیمی، سکینه، وفايي او زهرا په بامیانو کې: اسیلا ، هما ، نیکزاد ، او رویش په هرات کې: حنیفه، جلیل، مانون او پروین په ننګرهار کې: فروزش، لینا ، قاسمیار او ساغر په کابل کې. د څېړنیزه ډلې هغو غړو چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې له اداری سره د ساحوي کار د بشپړېدو څخه وروسته دندی ته ادامه ورکړې ده، هغوی همدارنګه باید د هغوی د تحلیلي پوهی او تفسیل ته ددوامداره پام له کبله وپېژندل شی.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری او د افغانستان بشري حقونو د خپلواک کمیسیون تر منځ د همکاری د دغه کار په بشپړېدو کې یوه غوره برخه وه. زه په ځانګړې توګه غوارم چې د سیمه ییزه ټولو کارکوونکو څخه په بامیانو ، هرات او ننګرهار کې د هغوی له میلمستیا او مرستې څخه چې هغوی زما همکارانو او ما ته زموږ په بیا بیا کتنو باندی وړاندی کړه، کورودانې او مننه وکړم.

د معلوماتو د راغونډولو د پای پړاو په لور د ارزلا اشرف او هم یاسمین ملاتړ او مرسته د معلوماتو د مفصل عنصر په ډاډمنتیا او بشپړتیا کې اړینه او لازمي وه. یاسمین څخه د کورنیو د نخشو د طرحی او کښلو لپاره خاصه مننه کووم. له څېړنیزه ډلې څخه د څېړنې د پلي کولو سره د مقابلې کولو لپاره د ایلین سمرز د ملاتړ څخه چې د خپل په وخت کې ستونزمن کار دی، مننه کوم. له ټولو ناڅرګندو لوستونکو او پامیلا هنتې څخه د هغوی د نظراتو او لیدلورو څخه چې د دغه پاڼې په هکله یې وکړی مننه کووم.

په پای کې، غوارم چې له پالا کانتور څخه د هغې د بی پایه مشورو او ملاتړ لپاره چې د دغه څېړنیزه پروژی په اوږدو کې یې وکړ، مننه وکړم.

ډیبرا ج. سمیت، د ۲۰۰۸ کال فبروری

# لړلیک


لنډیز ........ x
۱. سریزه ........ ۱
۲. د ځېړنې طرز ........ ۴
۱.۲ د ځېرونکو او د ځواب ورکوونکو تر منځ اړیکې ټینګول ........ ۵
۲.۲ د تحلیل طرز ........ ۸
۳. لومړی برخه ځېړنیزه سیمې ........ ۱۰
۱.۳ د بامیانو ولایت ........ ۱۰
۲.۳ د کابل ولایت ........ ۱۱
۳.۳ د هرات ولایت ........ ۱۲
۴.۳ د ننګرهار ولایت ........ ۱۴
۴. دوهمه مرحله: د ماشومانو لپاره د مور او پلار هیلې او ارمانونه او په کورنۍ کې د ماشومانو رول ........ ۱۶
۱.۴ د ماشومانو لپاره هیلې او ارمانونه ........ ۱۶
۲.۴ د ماشومانو لپاره هیلې او ارمانونه: زده کړه ........ ۱۷
۳.۴ په کورنۍ کې د ماشومانو رول او مسؤلیتونه ........ ۲۰
۴.۴ د ماشومانو په روزلو کې د کورنۍ د مختلفو غړو دنده ........ ۲۱
۵. د بدني سزا په اړه لید لوری: څه منل شوی، څوک وهل کیږي، او څوک د تاوتریخوال د تر سره کولو حق لري ........ ۲۳
۱.۵ د بدنی سزا بڼې او ډولونه ........ ۲۳
۲.۵ د هلکانو او نجونو د بدنی سزا توپیر ........ ۲۵
۳.۵ په کورنۍ کې څوک د ماشومانو د وهلو حق لري ........ ۲۵
۴.۵ د هغه زیان پیژندل چې ماشومانو ته د تاوتریخوالی به مټ ور رسیدلی وی ........ ۲۷
۶. د بدنی سزا په اړوند لیدلوری د حقایقو او اصوراتو اختلاف ........ ۲۹
۱.۶ بدنی سزا د وروستی وسیلی په توګه ........ ۲۹
۲.۶ بدنی سزا د یو ډول ښه تادیب په توګه ........ ۳۰
۳.۶ د ماشومانو پر وړاندی د هر ډول تاوتریخوالی نه منل ........ ۳۱
۴.۶ د کورنیو په منځ کې مخالفتونه ........ ۳۴
۵.۶ کورنۍ شخړې او مخالفتونه ........ ۳۷
۷. د ماشومانو پر وړاندی د تاوتریخوالی دلایل، ویره او د نورو لارو نشتوالی ........ ۳۹
۱.۷ ماشومان په ویره کې ساتل ........ ۳۹
۲.۷ د مور او پلار څخه ویره ........ ۴۱
۳.۷ د نورو لارو چارو په لټه ........ ۴۲
۴.۷ د بدنی سزا پر ځای نوری لاری چاری او د ماشومانو د روزلو لپاره د نوي مهارتونو زده کړه ........ ۴۳
۸. د ماشومانو پر وړاندی د تاوتریخوالی دلایل۲: د کنټرول دلاسه ورکول ........ ۴۵
۱.۸ د مشرانو احساسات څرنګه د تاوتریخوالی کچه مالوموی ........ ۴۵

۱.۱.۸. د نورو خلکو قار او غوسه پر ماشومانو ویستل ۴۷
۲.۱.۸. د لویانو د تاوتریخوالی په هکله د ماشومانو مکلفیتونه ۴۸
۲.۸. د اقتصادی ناخوندیتوب غیری مستقیمی اغیزی ۴۹
۹. په مخکې لاری د بدلون لپاره فرصتونه ۵۱
۱.۹. په یوه کورنۍ کې د نسلونو په اوږدو کې بدلون ۵۱
۲.۹. د وخت په تیریدو سره به انفرادی سلوک او کړو وړو کې بدلون ۵۳
۱۰. په مخکې لاری۲: پایلې او وړاندیزونه ۵۲
پنځه اساسی دلایل چې د ماشومانو پر وړاندی د تاوتریخوالی سبب گرځی ۵۲
د پالیسی او پروگرامونو لپاره وړاندیزونه ۵۷
موخز ۵۹
ضمیمه: د کورنیو نخشې او د نخشو لارښود ۶۰
د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری خپرونې ۶۲

## لنډيز

دغه څېړنيز کتاب د کورنيو د څلورديوالونو په منځ کې د ماشومانو پر وړاندې تاوتريخوالي تر بحث لاندې نيسي. د دغه څېړنې لپاره معلومات چې د خپل ماهيت له لحاظه کيفيتي دي، د افغانستان د څلورو ولايتونو: باميانو، هرات، کابل او ننګرهار له کليوالو او ښاري سيمو څخه راغونډ شوي. په دغه څېړنه کې هڅه شوې چې د تاو تريخوالي افراطي او يا غير معمولي حالات راغونډ نشي، بلکې دغه څېړنه د تاو تريخوالي د ډېر نورمال او طبيعي حالت پورې چې د خلکو د ورځنيز ژوند(ورځنيز تاو تريخوالي) برخه ده، اړه لري.

په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي په دوو برخو وېشل کېږي: تاو تريخوالي چې د انضباط او يا سزا په ډول ترې کار اخستل کېږي او تاو تريخوالي چې د غوسې، تشويش او يا نااميدۍ له کبله د مرتکب لخوا ترسره کېږي. دا څرګنده ده چې په حقيقت کې ددغه دوه ډوله تاو تريخوالي ترمنځ ښايي تداخل موجود وي، سره لدې، د تحليلي وضاحت په موخه په دوه برخو وېشل ګټور کار دی.

## اساسي موندنې:

- په کومو ټولنو کې چېرې چې دغه څېړنه ترسره کېده، د کورنۍ د غړو لخوا د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي منل شوی: يعنې دغه کار په پراخه کچه پېژندل شوی او کار ترې اخيستل شويدی.
- تر يوې زياتې اندازې پورې، د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي د منلو وړ ندی؛ زياتره خلک هغه ته د ماشومانو د تربيې لپاره د يوې ښې لارې په سترګه نه ګوري.
- اکثره خلک په دې اند دي چې د خپلو ماشومانو د انضباط لپاره د تاوتريخوالي څخه پرته لارې خپلې کړي، خو زياتره خلک له دغه شان لارو څخه واقف ندي.
- د ماشومانو پر وړاندې زياتره تاو تريخوالي د لويانو پر احساساتو پورې تړلی دی، کله چې مشران روحي فشار لري او خپله غوسه پر ماشومانو او يا خويندو ورونو باندې کښيني.
- د مرتکبينو په اړوند د ټولنيز لېږ قضاوت سره، کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي د مور او پلار او د ماشومانو تر منځ د يوې عادي اړيکې په توګه منل کېږي. متعاقباً، د يو ماشوم پر وړاندې د ظالميدو په پايله کې د ماشوم له کور څخه تښتيدو يا د بدنامۍ ويره يا اندېښنه نشته.

په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې د دوامداره يا مزمن تاو تريخوالي پنځه بنسټيز دلايل پېژندل شوي دي:

- لومړی دا چې، ځينې خلک د ماشومانو بدنې سزا د هغوی د روزلو يوه ښه لار ګڼي.
- دوهم، هغه خلک چې فکر کوي وهل يا بدنی سزا بايد د وروستنۍ هڅې په توګه يوازې د اخلاقو د ډېر زيات انحراف په حالاتو کې استعمال شي، او يا هيڅ استعمال نشی، دغه خلک د ماشومانو د روزلو لپاره د مورنيز او پلارنيز څه نا څه مهارتونو او ميتودونو سره اشنا دي.
- دريم، د ماشومانو د راتلونکې لپاره د مور او پلار اندېښنې چې د هغوی ماشومان به په راتلونکې کې د کورنۍ او ټولنې ښه غړي نه وي، دغه اندېښنې او د مورنيز او پلارنيز مهارتونو يا د انضباط ميتودونو د نه پوهې سره يو ځای ميندې او پلرونه دې ته هڅوي څو د بدني سزا څخه کار واخلي، حتی چې هغوی د ماشومانو سره د دوي دغه شان عمل سم او اغېزمن نه ګڼي.
- څلو رم، د کورنۍ د مشرانو روحي فشار او غوسه هغوی د ماشومانو وهلو ته اړ باسي. په کورنۍ کې د تشويش او محروميت ممکنه دلايل په کورنۍ کې د مشرانو او د کورنۍ د مادي اړتياوو اړوند د اقتصادي بې ثباتۍ ترمنځ زيانوونکې اړيکې وي.

- پنځم، له کومه ځایه چې په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی پراخ او معمول کار منل کیږي، د دغه ډول تاو تریخوالی په اړه ټولیزه قضاوت موجود ندی، چې په پایله کې تاو تریخوالی په ټولنه کې همدارنګه په نه بدلیدونکي بڼه پاتې کیږي.

دغې څېړنې داسې څرګنده کړې ده چې د وهلو او یا بدني سزا به بڼه د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی د صحیح توب او یا غلط والی په هکله د انفرادي اشخاصو او د ټولنو نظرونه یو شان ندي. ځکه خو خلک لېوال دي څو د خپلو ماشومانو د ښې تربیې لپاره تر ټولو غوره میتودونه تر بحث او څېړنې لاندې راوړي او پدې اړه د خپلو نظرونو بدلون ته حاضر دي. په داسې حال کې چې، په ټولنه کې دا غیر معموله خبر ده چې خپل غړي د ماشومانو په ورځني تاو تریخوالی باندې تورن کړي، ډېرئ خلکو تاییدوله چې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی دواړه فزیکي او روحي کېداې شي د ضرر لامل وګرځي او پدې آند وو چې د ماشومانو د روزلو او انضباط لپاره اغیزمنه لار نده.

هغه والدین چې ددې څېړنې کارکونکو د څېړنې په لړ کې ورسره خبرې اترې کړې، ډېر لېوال دي چې هغوې د خپلو بچیانو لپاره غوره والدین وي او خپل بچیان به په ښه توګه وروزي په همدې توګه، زیاتره ځواب ورکوونکې کولای شي چې د خپل حالت او دا چې ولې د هغوې په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی ترسره کېږي، درک او تحلیل یې کړي. دغه پوهه یا خبرتیا کېداې شي د نارینه وواو ښځو، ځوانانو او بوډاګانو، خان او غریب، تعلیم یافته او بې سوادو خلکو په منځکې وموندل شي.

## سپارښتنې:

- د میندو او پلارونو لپاره د ماشومانو د روزلو د مهارتونو د نورو لارو پروګرامونه رامنځته کول، چې له کلیوالو حالاتو سره مناسب وي. هر پروګرام چې د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی د مخنیوي په برخه کې کار کوي، لومړی باید پوه شې چې په ټولنو کې د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی د منفي پایلو او دا چې تاو تریخوالی د ماشومانو د انضباط یا تشویق لپاره غوره لاره نده، عمومي خبر تیا موجوده ده. له دی کبله د معلوماتي کمپاینونه باید د مورنیو او پلرنیو مهارتونو د نورو لارو په هکله د خلکو په خبرتیا تمرکز وکړي.

- د میندو او پلرونو لپاره د ماشومانو د روزلو نور مهارتونه باید د هغو موسسو لخوا طرح شي چې په دغه ساحه کې له بیلابیلو ټولنو سره په نږدې همکارۍ کې کار کوي، تر څو ډاډه شي چې دغه شان نوري لارې د افغانستان د بېلابېلو چاپېریالو لپاره اختصاص شوي.

- په سیمه کې د شتو سرچینو په مرسته کار کول د ټولنې نفوذ لرونکي خلکو په شمول د مشرانو (نارینه او هم ښځینه)، ملایانو، د روغتیایي پاملرنې سیمه ییز کارکوونکي یا ښوونکي، په ټولنو کې د ماشومانو د روزلو د نورو لارو د ښوونې او مباحثې د لیږدولو په برخه کې کېداې شي ګټور ثابت شي. نوموړې څېړنې په ټولنه کې داسې اشخاص وپېژندل چې په ځانګړې توګه د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی پر ضد وو. دغه اشخاص کېداې شي د هغه پروګرامونو په وسیله چې موخه یې په کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی قابو کول دي په ګوته شي او د ماشومانو د روزلو د نورو لارو د مهارت پیغامونو او د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی له امله د ضرر پېښېدو پوهې د خپرلو لپاره وګمارل شي.

- د ټولنې د لا زیاتې بوختیا تشویقونه. پروګرامونه او کمپاینونه اړین دي چې ټولنې یو ټولیزه قضاوت ته تشویق کړي چې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی به د هغوی په ټولنه کې و نه منل شي، او هغه خلک چې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی او زور زیاتې کوي هغوی وهڅوي چې دغه کار بس کړي. که چېرې د ماشومانو توهین باندې اغماض ونشي او په ټولنه کې معمول و نه منل شي نو حتی که خلک د روحي فشار لاندې یا د ناامیدۍ احساس هم کوي نو دغه کار به ونکړي.

- کورنیو ته ښوونه وشي چې روحي فشار له تاو تریخوالی څخه پرته اداره کړي. د تشویشونو د اداره کولو د پر مختللو مهارتونو په برابرولو او په کورنۍ کې د تشویش د اثراتو پراخه پوهه به په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی مخه ونیسي.

# ۱. سریزه

په ۲۰۰۷ کال کې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په افغانستان کې د کورنۍ د ډاینامېزم د بدلېدونکې طبیعت په هکله د څېړنې یوه پراخه پروژه پیل کړه، چې په ځانګړې توګه، په کورنیو کې د کورنیو جوړښت او د جندر بدلون او نسلي رولونه او اړیکې د تاوتریخوالی په کچه باندې څه ډول اغېزه کوي. کومې څېړنې چې تر اوسه سرته رسېدلي دا هڅه یې کړې څو اټکل کړي چې کوم ډول کورنی تاوتریخوالی چې د ټولنې لخوا د یو ګروپ په توګه، ښځې د یوې ډلې په ډول د نرانو په وړاندې، او د مختلفو نسلونو او افرادو لخوا که نارینه وي او که ښځینه، مناسب او قانوني ګڼل شوی وي. ددغه څېړنې موخه دا ده چې د روحي فشار اصلي عوامل یا په تاوتریخوالی پورې اړوند انفرادي او ټولنیز خصوصیات او د کورنۍ د غړو په منځکې د تاو تریخوالی منل درک او په ګوته یې کړي.

دغه پاڼه د پورتنۍ څېړنې له یوې فرعی برخې څخه بحث کوي: په کورنی واحد کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی[1]. د دغه څېړنې لپاره لومړنې معلومات، د افغانستان د څلورو ولایتونو، بامیانو، هرات، کابل او ننګرهار له کلیوالو او ښاري سیمو څخه راغونډ شوو، چې کاملاً کیفیتي څېړنیز معلومات دي.

دغه څېړنه کې هڅه شوی چې د تاو تریخوالی افراطی او یا غیر معمولي موارد راغونډ نشی بلکې دغه څېړنه د تاو تریخوالی د ډېر عام او عادي بڼو سره چې د خلکو د ورځنې ژوند ورځنیز تاو تریخوالی یوه برخه ده، تړاو لري په داسی حال کې چې د دغه څېړنې موخه دا نوه چې په کورنیو کې د تاو تریخوالی اندازه څرګنده کړي، دغه څېړنې وموندل چې په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی په خپلو ټولو بڼو سره د څېړنې په ټولو سیمو کې جاري دی. په حقیقت کې، د ماشومانو پر وړاندې فزیکې تاوتریخوالی په ټولو ۲۱ موضوعاً څېړل شویو کورنیو کې په بیلابیلو کچو موجود وو. د ټولنو د خلکو د کیسو پر بنسټ او په مسؤنه توګه داسی وییلي شو چې، که ټولو نه، خو یو اندازه ماشومانو په دغو ټولو کورنیو کې اکثره په لویو ټولنو کې په کورنۍ کې په بیلابیلو کچو تاو تریخوالی زغمې.

د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی په دوو برخو وېشل کیږی: تاو تریخوالی چې د انضباط او یا سزا په ډول تری کار اخستل کیږی؛ او تاو تریخوالی چې د غوسې، روحي فشار او یا نا امیدی له کبله د مرتکب لخوا ترسره کیږي. دغه دوه کتګوري د تاوتریخوالي د اداره شوی او نه اداره شوی مفهوم په نظر کې نیولو سره یو شان دی. داسی پوهه موجوده ده چې په حقیقت کې د دغو دوو کتګوریو تر منځ زیاتی موجود دی: په سمه او سنجول شوی ډول تاو تریخوالی چې د انضباط او یا سزا ورکولو په موخه وی، او تاو تریخوالی چې بنیاد یې د شخص غوسه وی او خپله اداره یې له لاسه ورکړی وی، د ماشومانو پر وړاندی د دغه دوه ډوله زور زیاتی تر منځ توپیر موجود دی.سره له دې، د تحلیلي څرګندونې په موخه د دغه دوه ډوله تاو تریخوالی طبقه بندي ګټور کار دی. سر بیره پر دی، د ماشومانو پر وړاندی زور زیاتې په ښکاره او عمومي توګه د دغه دوه کتګوریو په برخه کې د ځواب ویونکو لخوا تر بحث لاندی راتلی.

په بیلا بیلو ولایتونو کې د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالی په ډول ډول بڼو کې د لږ شان توپیر سره سره، د تاو تریخوالی ډېری عامی بڼې چې څرګنده شوی هغه، په څپېړه وهل، ناوړه خبری، په سوک، لغته، لښته، کیبل او یا بوټانو باندی وهل وو. په حقیقت کې، د ډېرو کورنیو لپاره دغه راز تاو تریخوالی کېدای شي د نورمال یا د ورځنې تاوتریخوالی بیلګه ورکړي. د بی شانه یا غیر معمول تاوتریخوالی د ډولونو بېلګې چې د دغه څېړنې په بهیر کې موندل شوي عبارت دي له په ماشومانو ډزی کول، په رسۍ تړل، د ژمې په سړه هوا کې بهر په یخو اوبو مینځل او د خلکو پر وړاندی د هغوی سپکاوی.

د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالي ډېرو کیسو باندی په مشرح توګه بحث وشو او د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالی په هکله بیلا بیلې لید لوری او مفکورې راغونډې شوی. دغه معلومات پدی موخه تجزیه کېږي څو د دغه لاندی مسایلو په پوهیدو کې تری ګټه واخستل شي:

[1] په دې څېړنه کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي کې ټولې بدني سزاګانې او واړه ظالمانه یا د سپکاوي څخه ډک عملونه شامل دي.

- د ماشومانو پر وړاندې د افرادو د تاوتريخوالي او دوامداره يا مزمن تاو تريخوالي دلايل او عوامل؛
- څوک د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي کوي؛
- څوک د ماشومانو پر وړاندې د تاو تريخوالي حق لري او د تاوتريخوالي د دغه شان وړوالي په هکله لويان څه ډول احساس کوي؛
- د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي څومره معمول دی؛ او،
- د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي د وخت په تيريدو سره څه بدلون موندلی دی.

دغه پاڼه د ماشومانو پر وړاندې د تاو تريخوالي په هکله د لويانو پر ليد لورو او مفکورو متمرکزه ده، هغوی خپله د ماشومتوب پر مهال دغه شان تاوتريخوالي پر خپل ځان ليدلی دی. د مشرانو ليدلورو باندې په تمرکز سره دغه پاڼه هغه مسايل چې ولې ميندې او پلرونه په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې سخت دريځ لري، تر بحث لاندې نيسي.[2] څېړنيزه ډلو له ماشومانو سره د عملي او ميتودي دلايلو له کبله مرکه و نه کړه.[3] همدارنګه، د ماشومانو پر وړاندې د تاو تريخوالي ځانګړې بڼې په دغه پاڼه کې نه څېړل کېږي. لومړی، د ماشومانو پر وړاندې جنسي تيری د دغه څېړنې د لويې پروژې له مقصد او بهير څخه بهر وو. دوهم، د ماشومانو واده او اجباري ودونه په دغه پاڼه کې تر پوښښ لاندې ندي راغلي، خو ددغه اداری په يوه بله پاڼه چې د ودونو د کړنلارو او په کورنۍ کې په تاوتريخوالي باندې د هغې د اغېزو اړوند پروژه کې راغلي، څېړل کيږي. دريم، په دغه پاڼه کې په اصلي توګه د ماشومانو پر وړاندې د فزيکي تاوتريخوالي او بدو ويناوو په هکله يو لړ بحثونو باندې ټينګار شوی دی. د ماشومانو پر وړاندې بې پروايي او په کورنۍ کې ماشومان په زوره شاقه کارونو ته اړول په تفسيل ندي بيان شوی، ځکه چې دغه مسايل د پراخې څېړنې د پروژې له مقصد څخه بهر وو او همدارنګ ځواب ورکوونکو په دې هکله ډېرې خبرې نکولې.

ددغه څېړنې د موندنو پر بنسټ، دغه پاڼه څو مهمه استدلالونه کوي. لومړی، په هغو ټولنو کې چې څېړنه تر سره شوه، د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالي د کورنۍ د غړو له خوا منل شوی کار وو، په زياته کچه تری کار اخستل کېدو او خلک ور سره آشنا وو. سره له دې، د ماشومانو په وړاندې تاو تريخوالي په پراخه کچه د منلو وړ ندی: د ماشومانو په وړاندې دا ډول کړه وړه د منلو وړ ندي او ښه هم نه برېښي. دوهم، او د لومړنۍ موندنې د پايلې په توګه، ډېر خلک ليوال دي څو د خپلو ماشومانو د روزنې لپاره د تاوتريخوالي څخه پرته نورې لارې چارې غوره کړي، مګر د ورته لارو چارو په اړوند ډېر لږ معلومات لري. دريم، ډېر تاو تريخوالي چې ماشومانو ته متوجه ده هغه د لويانو د احساساتو سره تړاؤ لري، کله چې د کورنۍ مشر غړي د فشار لاندې وي نو ماشومانو يا خويندې او ورونه د هغوی د غوسې قربانۍ ګرځي. څلورم، په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالي د نورمالي او عادي اړيکې د يوې برخې په څېر ګڼل کېږي او د ميندو او پلرونو د دغه کار په اړه کوم خاص ټولنيز قضاوت نکيږي. ځکه خو، د ماشوم په وړاندې د ظلم او سخت دريځ خپلولو پر مهال د رټلو يا تورنيدو څخه لږه ويره ليدل کېږي. د ماشومانو د روزلو د نورو لارو رامنځته کول، د روحي فشار د اداره کولو مهارتونه او په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د ډېر لفظي انتقاد (چې پخپله د ټولنې څخه رامنځته کېږي) تاوتريخوالي به د تاو تريخوالي په وړاندې د ننګونې تر ټولو ښې او اغېزمنې لارې وي.

دا لاندېنۍ فصل د نوموړې څېړنې ميتود تر بحث لاندې نيسي او د څېړنې هغه ميتودونه چې د معلوماتو د راټولولو او تحليل لپاره په

[2] د يوې وړوکې څېړنې لپاره چې په کابل کې ترسره شوه او له ماشومانو سره خبرې پکښې وشوې مګر ډېر د پاېښت په اړوند ده، فضل جليل (۲۰۰۳) ته ځير شی. په افغانستان کې ماشومانو باندې د بدني سزا د تأثير په اړوند معلوماتو لپاره د سويډن او ناروې د ماشومانو د ژغورنې ادارو سره اړيکه ټينګه کړی.

[3] د ماشومانو سره خبرې اترې د لويې پروژې د ميتودولوژۍ د وس څخه پورته ؤ. دې کار د څېړونکو ځانګړي مهارتونو ته اړتيا لرله کومو ته چې ترهغه وخته لاس رسی نه وه، او دې ډول کار ته يو ځانګړی ميتود او ګام پکار ؤ چې کېدای شي د څېړنې نورې برخې يې د خنډ سره مخ کړې وای.

کارول شوي، په لنډ ډول ښيي. بل، دریم فصل د څېړنې اته بیلابیلې سیمې تشریح کوي. څلورم فصل د والدینو هغو امیدونو او هیلو ته لنډه کتنه کوي کوم چې د خپلو ماشومانو د راتلونکي لپاره یې لري او همدارنګه په کورنۍ کې د ماشومانو رول روښانوی، څو هغه شرایط څرګنده کړي په کوم کې چې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی او اجبار ترسره کېږي. پنځم فصل د هغه تاوتریخوالي نمونې او ډولونه تشریح کوي چې په ټولنو کې چیرته چې دغه څېړنه ترسره شوه عادي او معمولي بریښي. همدارنګه دغه فصل د هلکانو او نجونو د روزنې ترمنځ توپیر په ګوته کوي او دا هم بیانوي چې په یوې کورنۍ کې چاته او پر چا باندې د تاو تریخوالی حق ورکول شوی. نوموړی فصل دا هم سپړي چې ټولنه د ماشومانو په وړاندې د تاو تریخوالی د زیان څخه څه خبرتیا لري. شپږم فصل د بدني سزا د استعمال په وړاندې د کړو وړو توپیر څېړي او داسې نمونې وړاندې کوي چې د یوې کورنۍ ګڼ شمېر غړي بیلابیل نظرونه لري. نوموړی فصل دا هم بیانوي چې څرنګه د خلکو معنوي نظرونه د ماشومانو سره د تاو تریخوالی په مهال د هغوي د اصلي چلند سره توپیر لري. اووم فصل د بدني سزا په اړه د میندو او پلرونو مختلف دلیلونه څېړي او د ماشومانو د روزنې او تربیې ځینې نوری لارې چې د ځواب ورکوونکو لخوا تشخیص شوي، وړاندې کوي. اتم فصل د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی لا زیات عوامل بیانوي، چې د لویانو د روحي فشار او نا امیدۍ د احساس له امله چې کېداي شي په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی لامل وګرځي، تمرکز کوي. نهم فصل د خلکو د ادراک او پوهې د څېړنې پوسیله حالاتو ته د بدلون لپاره خلاوو ته پام رااړوي څو جوته کړي چې څنګه او په څه ډول په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې تاو تریخوالی د وخت په تیریدو سره بدلون موندلې. وروستې او د دغه پاڼې د پای او بشپړیدونکې فصل تر ټولو مهمو او ارزښتناکو بحثونو باندې رڼا اچوي او د پالیسۍ او پروګرام هغه وړاندیزونه چې د دغه څېړنې څخه لاسته راځي وړاندې کوي.

لکه څرنګه چې دا مضمون په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د تاو تریخوالی اړونده مسایلو باندې تمرکز کوي مګر د یادونې وړ ده چې د نوموړې څېړنې کاري ټیم د ماشومانو سره د هغوي د والدینو او نورو مشرانو لخوا د ژورې مینې محبت او پاملرنې شاهد هم دي. همدا راز والدینو د خپلو ماشومانو د راتلونکې په اړه خپلې ژورې اندیښنې او پراخه هیلې او امیدونه څرګند کړل، لکه څرنګه چې پدې اړه په څلورم فصل کې ورته اشاره شوې ده.

# ۲. د څېړنې طرز

په هغه وخت کې د هغې وراره ناست ؤ او مونږ ته يې شا اړولې وه، کله چې ماجان[۴] هغه وليد نو ورته په غوسه شوه، لښته يې راواخيسته او وهل يې ورباندې پيل کړل. پدې وخت کې د هغې وراره د تاوتريخوالي زغملو ته چمتو ډېر غلی کښيناست. ماجان هغه (وراره) په ملا او لاسونو وهلو. دغه وړوکي ماشوم ډېر په نرمۍ سره ژړل او د ستومانه سترګو څخه يې اوښکې رابهيدلې. هغه کوښښ کاوه چې لاسونه په لستوڼو کې پټ کړي مګر ماجان لانور هم واهه او چيغې يې ورباندې وهلې "ته ماته غوږ نه نيسې نو دا ستا سزا ده" نو په هغه وخت کې زه بې حسه شوم او يوازې دومره مې وکړل چې لينا ته مې وويل چې ماشوم د ماجان د وهلو څخه وژغوره. کله چې لينا د ماجان څخه وغوښتل چې د ماشوم وهل ودروي، نو هغې د ماشوم وهل بند کړل او زمونږ خواته راغله، پدې وخت کې ماشوم ژړل مګر ډېر په نرمۍ او پټه سره. ما هغه ماشوم ته وويل چې زما خواته راشي، مګر هغه راڅخه ويريده، هغه د ټولو خلکو څخه په ويره کې ښکاريده کله مې چې ددوهم ځل دپاره د هغه (ماشوم) څخه وغوښتل چې زما خواته راشي مګر هغه بيا هم ما ته د راتګ څخه ويريده، پدې وخت کې ماجان ورباندې چيغه کړه چې راشي نو بيا هغه زما خواته راغی او ما د هغه مخ ښکل کړ او خپل څنګ ته مې کښيناو، خو هغه بيا هم ژړا پيل کړه. ما داسې احساس وکړ چې د نوموړي ماشوم لپاره دا لومړی ځل وه چې د هغه سره څوک مينه کوي او هغه ښکلوي. نو زما لپاره دا ډېر ستونزمن کار ؤ چې خپل ځان قابو کړم او اوښکې څڅيدل مې اودروم، دا ځکه چې نوموړی ماشوم خورا بې ګناه او معصوم ؤ.[۵]

له سيمې څخه د يادښتونو څخه، ساغر وفا د څېړنيزه ډلې يوه غړې

ددغو څلورو ولايتونو په څېړنه کې لومړي معلومات د هر ولايت د يوې ښاري او يوې کليوالې سيمې څخه سره راټول شوی دی. د څېړنې يو ببل ټيم چې د دوؤ نارينه ؤ او دوه ښځو څخه جوړ شوی ؤ په هر ولايت کې کار وکړ. په نوموړو څلورو ولايتونو کې د ۲۱ کورنيو له ۲۰۰ تنو نارينه و او ښځو سره په پوره توګه سره جلا جلا مرکې ترسره شوې، چې ډېرو سره يې د يوځل څخه زياته مرکه وشوه. په مجموعي ډول ۳۱۹ جلا جلا مرکې د ۲۱ کورنيو د مختلفو غړو سره وشوې. همدارنګه ۵۲ ګروپي مرکې چې ۲۸ يې له ښځو او ۲۸ يې له نارينه و سره ترسره شوې. دغه ګروپي مرکې نيمايي له کم عمره او نيمايي نورې له زيات عمر لرونکو سره چې نارينه او ښځينه دواړه پکښې شامل وو، ترسره شوې.

د ساحوي کار په لومړي سر کې ۴۶ مرکې د هغو خلکو سره ترسره شوې چې د سيمې په اړوند يې خورا ډېر معلومات لرل، ترسره شوې. په عين وخت کې د هغو کورنيو د غړو سره چې د څېړنې په دوران کې ورڅخه پوښتنې شوې وې او همدارنګه د ټولنې د نورو خلکو سره، غير رسمي خبرې اترې هم ترسره شوې. د پوښتونکي او پوښتل شوو ټولې مرکې او مباحثې کلمه په کلمه په ليکلي ډول ثبت شوي دي. د ساحوي څېړنو يادښتونه ددې لپاره ساتل شوي ترڅو اړوند غير رسمي خبری اتری او د ساحوي څېړونکو ليدنې او کتنې ثبت شي.

ځانګړې کلمې او عبارتونه د انګليسي ژبو څېړونکو او پښتو او دري ژبو څېړونکو لخوا په وضاحت سره بيانېدل، نو له همدې کبله د څېړنې په ټول بهير کې د ژباړنې موضوع خورا زيات اهميت درلود. د څېړنې ټيم ته يوازې دا په زړه پورې نه ده چې نيغ په نيغه کلمې وژباړي مګر دا هم اړينه ده چې په دري، پښتو او هزارګي کې کومې کلمې په کار وړل کېږي د هغو ضمني مفهوم د انګليسي معادلو الفاظو سره هم مقايسه کړل شي. د مثال په توګه، ددې څېړنې په لړ کې هغه څه چې ډېر د پام وړ دي هغه په پښتو کې د "وهل" او دری کې د "زدن" کلمې دي چې دغه دواړه کلمې د انګليسي "Beat" ته ژباړل کېږي، که څه هم په انګليسي ژبه کې د (beat) کلمه د يو چا په تکراري ډول وهل او ټکولو ته وايي چې دا په ضمني معنی سره يو ډول سخت او شديد تاوتريخوالی دی، د زدن او وهل کلمې يو ډول بدني تاو تريخوالی ته وايي چې په څپيړه وهل، په کوتک او کيبل وهل او يا په چاکو وهل،

[۴] په دې څېړنه کې ټولو نومونو ته تغير ورکول شوی دی.

[۵] دغه کورنۍ او همدارنګه د ماجان او د هغې د وراره اړيکې په ښه تفصيل سره په ۲.۲ برخه کې راغلې دي، او د کورنۍ ۴ نقشې ته هم ځير شی.

پکښې شامل دي. نو کله به هم چې د څېړنې په ترڅ کې ځواب ورکونکو د "زدن" یا "وهل" د کلمې یادونه کوله، نو د څېړنې ټیم به ورڅخه پوښتل چې کوم ډول وهل یې مطلب دی. خو بیاهم ددې راپور په ټولو نقل قولونو یا توضیحاتو کې د ورته ځرګندوالي امکان نه په سترګو کېږي. ددې لپاره چې ژباړه په پوره ډول صحیح شي نو باید کله چې په انګلیسي کې د "beat" کلمه استعمال شي نو مونږ باید هغه کټ مټ د "زدن او وهل" کلمو باندې وژباړو. له همدې کبله باید د دري او پښتو د کلمو (زدن او وهل) هغه ځرګنده معنی ورڅخه واخلو کومو ته مو چې مخکښې اشاره وکړه، همدارنګه د کابل د کلیوالي سیمې یو اوسېدونکی دا قول په لاندې ډول روښانه کوي:

> وهل د وهلو په معنی وي او مونږ ته ندی پکار چې پدې باندې وغږیږو چې وهل څه ته وایي. که مونږ څوک په لښته یا په څپېړه ووهو او یا په کوم بل څه او یا یې غوږ ورباندې تاؤ کړو، نو دا ټول برابر دي. ځینې خلک په څپېړه وهل کوي او ځینې یې په لښته.

## ۱.۲ د څېړونکو او د ځواب ورکونکو ترمنځ اړیکې ټینګول

په کورنۍ کې د قدرت د اړیکو د ډاینامیزم څېړل په عمومي توګه داسې یوې ځانګړې نړۍ ته داخلېدل دي چې شخصي فضا ګڼل کیږي د خلکو د سترګو له لید څخه لیرې وي. په کورنۍ کې دننه د تاوتریخوالي څېړنه د خصوصي ډګر د داسې سیمې پلټنې ته اړتیا لري چې په ځانګړې توګه د خلکو له ځیر څخه بهر ده. کورنۍ تاوتریخوالی د یو لړ فکتورونو پر اساس پټ او ناڅرګند پاتې کېږي چې دغه فکتورونه فرهنګې، او طبقه یې هویت، او شخصي وضعیتونو پورې، تړاؤ لري. د کورنۍ څخه بهر (او ډېری مهال دننه) د خپلولۍ د اړیکو په اړوند خبرې کول په عمومي ډول بې وفایي، بې ایمانۍ، بې اهمیته او ان تردې چې حماقت هم بلل کېږي. په کورنۍ تاوتریخوالي باندې داشان څېړنه ځانګړې میتودولوژیکي (د کړو وړو یا سلوک پوهه) ننګونې رامنځته کوي. ددغو ننګونو د پای ته رسولو یوازینۍ لاره د څېړنې یو میتودولوژي ده چې د بدلون موندنې، باور پیداکولو او د ساحې څخه لاس ته راوړل شویو معلوماتو ته په چټکۍ سره ځواب ویلو ته لومړیتوب ورکوي، ددې

فصل لومړۍ برخې ته په کتو باید په پام کې ونیول شي چې د کورنې تاوتریخوالي څېړل یوه ربړونکې تجربه ده. دا په هغه وخت کې چې د څېړونکو او د څېړنې د موضوع اړیکې د باور پر اساس وي ځکه داسې چارې د کیفیتي معلوماتو د راټولولو لپاره اړینې دي.

د باور او رضایت رامنځته کولو لپاره دوه ټکي ډېر اړین دي چې یو یې وخت او بل یې دا چې د ځواب ورکونکو (مخاطبینو) نظر د څېړونکو په اړوند څه دی. د دغه ډول څېړنې د ترسره کولو لپاره هېڅکله پوره اندازه وخت نه ورکول کېږي، خو بیاهم په دواړو ولایتونو کې د بیلابیلو ډلو ګمارلو، په څېړنیزو سیمو کې هرې ډلې ته د کار کولو لپاره اووه میاشتې ور په برخه شو. کله چې په ورته پروژه باندې ډېر څېړونکی کار کوي نو دا ځانته منفي اړخونه لري. څرنګه چې لاندې بیانېږي، که چیری د یوې څېړنیزه ډلې په واسطه مو دغه معلومات را غونډ کړی وای نو دوه یا له دوؤ څخه زیات کلونه وخت به لږیدلی وی. د دې پر ځای چې په یوه سیمه کې پوره درې نیمې میاشتې کار و وشي او بیا بلې سیمې ته وخوځیږي، په دواړو سیمو (کلیواله او ښاري) کې یې په عین وخت کې څېړنه تر سره شوه. په عین وخت کې په دواړو سیمو کې د اووه میاشتو د پرله پسې کار پایله دا شوه چې د ټولنې او څېړونکو تر منځ یې اړیکې لا ټینګې شوې چې که چېرې دا کار په هره سیمه کې درې نیمې میاشتې تر سره شوی وای نو دومره به یې د ټولنې سره د اړیکو په ټینګوالي کې مرسته نه وای کړې. په همدې توګه د کارکولو لپاره عملي فکرونه هم موجود وؤ. لومړي، د وخت په تیریدو سره د څېړونکو ورتیاوې او مهارتونه غښتلي شول، او په دواړو سیمو کې د شپږو میاشتو د کار په نتیجه کې د هغوی مهارتونه او توان له هر بل وخت څخه زیات لوړ شوو. دوهم، داچې څېړونکو د کورنیو د اړیکو په اړوند نوې پوهې ترلاسه کړې نو ځکه یې کولای شو څو د څېړنې دواړو سیمو ته په عین وخت کې ځواب ووایي. دریم، که چېرې د څېړنې سیمې په یو موقعیت کې (ښاری/یا کلیواله) امنیتي اندیښنې یا نور ناڅاپه یا د مخنیوي نه وړ پیښې رامنځته کیدی، پدی صورت کې په بل موقعیت کې کار په مخ تلو، چې دغه فعالیت د ساحوي کار په بهیر کې د پام وړ څند څخه د مخنیوی په برخه کې مرسته وکړه.

د باور او د اړیکو رامنځته کولو په وړتیا کې له څیړونکو څخه د څیړنیزو کورنیو برداشت اساسي رول لري. کوم څه چې د څیړنې ځواب

ورکوونکي د خپل د ژوند په هکله د ځرګندولو لپاره تیار وی او په کوم ډول چي هغوی یې ځرګندوی له دی حقیقت څخه متاثر کیږی چي هغوی د خپرونکو په هکله څه فکر کوی. کله چي د یو بیګانه شخص په توګه د یو کورنۍ شخصي مسایلو په هکله څیړنه کوو ، په دی کي هم ګټي او هم زیانونه شته او همدارنګه که چیري څیړونکی د سیمي له دننه څخه وي نو پدي صورت کي هم یو لړ ګټي لري او هم زیانونه. نو په هر ولایت کي د څیړنیزو ډلو د ټاکلو پر مهال دا ټکي په پام کي نیول شوي دي: څیړونکي د هغه ولایت او سېدونکي یا په اړوند ولایت کي یي ژوند کاوه، نوموړی څیړونکي د توکم او قبیلي له پلوه د سیمي د هغه خلکو سره چي تر څیړني لاندی وو یو شان وو ، او د امکان تر پولي د څیړني هر ټیم د نارینه او ښځینه څخه جوړ شوی ؤ چي تقریباً د بیلابیل عمر او بیلابیل مدني حالت لرونکي ؤ. په ځیني مواردو کي د دغو ځانګړتیاوو په لرلو سره هغوي وکولای شو چي ځواب ورکوونکي هغوی له ځان سره برابر وګڼي. څیړونکو پخپله هم ددې ډول برابروالي احساس کاوه او د دې احساس په مټ هغوي وتوانیدل ترڅو خپل احساسات له هغو کسانو سره ګډ کړي د کومو د ژوند په اړوند یې چي پلټنې کولې. په ځیني وختونو کي څیړونکو خپلې شخصي کیسې، د جګړو تجربې، مهاجرت او په خپلو کورنیو کي شخړې او همکارۍ هم د ځواب ورکونکو سره شریکوې. نو د قصو او تجربو داسې دوه اړخیزه شریکول، ځواب ورکونکو ته موقع ورپه برخه کړه ترڅو هغوي د خپلو معلوماتو او تجربو په ګډولو کي د آرامتیا احساس وکړي.

په داسی حال کي چي، په ځیني مواردو کي غوره ده چي څیړونکي مختلف یا پردی وبریښي. که چیری ځواب ورکوونکو ته داسی وبریښي چي څیړونکي د هغوی له ټولني سره ډیری نږدی اړیکي لری نو ښایي چي هغوی به په ډاګه خبری ونکړي، او ویره به دا وی چي کیدای شی د هغوی کورنۍ خبری د ټولني د نورو خلکو تر غوږونو ورسیږی. معمولاً هغه خلک چي موږته ډیر نږدی ژوند کوی، موږ خپلې خصوصي کیسې هغو ته نه ور اوروو. په ټولنه کي موقف او اعتبار په دی پوری تړلي دي چي د نورو خلکو فکر او پوهه زموږ په هکله څه ده، ځکه خو ، مناسبه خبر ده چي د ځواب ورکوونکو لپاره د خپلي د کورنۍ د دننه حالاتو په پرده کي ساتنه مهمه خبر وی. د کلیوالو سیمو په جوړښت کي زیاتره وخت څیړونکي د سیمي د اوسېدونکو په پرتله مختلف ښکاریدل دا ځکه چي د هغوي ظاهري

بڼه د کلیوالو خلکو په پرتله منظمه د سواد لرونکی او د دندو لرونکي، ښکاریدل. مګر په ښاري سیمو کي ورته توپیر ډېر کم لیدل کېده، که څه هم چي د څیړونکو تحصیلي او اقتصادي موقف د ځینو هغو خلکو په پرتله چي مرکي ورسره کیدی یوه اندازه مختلف ښکاره کېده. همدارنګه د سیمه ییزو ښځو په پرتله په ښځینه څیړونکو کي هم خورا توپیر لیدل کېده چي البته دا ځانګړتیا په څیړونکو کي د پراخ فعالیت او د دندې لرلو له کبله ځرګندیده. دا ډول حالت د سیمیزو ښځو لخوا د حسد او کینې ور بلل کېده، مګر په ټیټ نظر یې ورته نه کتل او د نیوکي ګوته یې هم نه ورته نیوله. په عمومي ډول کوښښ کېده چي څیړونکي او د هغوي کورنۍ په هغو سیمو کي چي څیړني ترسره کېږي ډېر مشهور نه وي (دا کار په یو ولایت کي د یوې ستونزمنې ننګوني په څیر ثابت شوی چیرې چي څلور څیړونکي د اړوند ولایت په بیلابیلو ښاري سیمو کي ژوند کوي).

بله موضوع په دی اړه چي څیړونکو د خپل د بیګانه توب دریځ ساتلې وی دا وه چي، څیړنیزو ډلو هڅه وکړه څو ټولنو ته خپل ځانونه د نادولتي ارګانونو لخوا، چي له مخکي هلته کار کاوو، ور و نه پیژني، د دغه کار لپاره دوه دلایل موجود وو: لومړی ددې لپاره چي ځواب ورکونکي په دې اندیښنه کي نشي چي ګواکي د هغوي معلومات به د نوموړو مؤسسو د ساحوي کارکونکو لاسته ورشي او یا دا چي د څیړني ټیم به د نوموړو خیریه مؤسسو او ټولني د پخوانیو اړیکو په وړاندې خنډ وګرځي. دوهم، دا میتود او کړنلار ددی لپاره غوره شوه څو د هغه نادولتي موسسو سره چي د ټولني وګړو ته مرستي چمتو کوي په تړاو کي و نه ګڼل شي او په همدی ترتیب د مرستندویه موسسو ورته شکل کي د ظاهریدو څخه مخنیوی وشي.

په عمومي توګه بیګانه خلکو ته د پیاوړو په سترګه کتل کېږي دا ځکه چي د هغوی له موجودیت څخه هدف څه ورکول او یا هم د څه اخستل وی. دغه موضوع د ټولني د غړو سره د په روښانه توګه د لومړنۍ غونډی په بهیر کي بحث شوه کله چي خلکو د خپلو مادي منابعو د کموالي په هکله اندیښني بیانولی یا یې نیغ په نیغه د مرستی غوښتنه کوله پدی آند چي ښایي بیګانه خلک د څه ورکولو لپاره هلته میشت دي، یا ښایی مخالف او ټینګ اوسي پدی آند چي دغه پردي او بیګانه خلک ښایي د هغوی څخه د څه ترلاسه کولو یا اخستلو لپاره ورغلي وي. اکثره وخت میلمه پالنه د ټولني لخوا د دغو

دوو ستونزو پواسطه له ګواښ سره مخ کېده او بیا بیا د څېړنې ټیم ته بې وخت ورکاوه ترڅو د خپل د موجودیت هدف بیان کړي. په حقیقت کې، څېړنیز ټیمونه تر یوه حده د معلوماتو د راټولولو او د سیمه ییزو خلکو د وخت نیولو په برخه کې سیمې ته د خلکو څخه د څه ترلاسه کولو لپاره تللي وو. که څه هم چې دا کېداي شي وویل شي چې ځینو خلکو به ویل چې پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره د خوښې احساس کوي ځکه چې هغوی ته دا موقع برابره شوې چې پکې د خپلو ستونزو په اړوند خبرې کوي او د خپل تیر ژوندون یادونه راتازه کوي.

د بامیان، هرات او جلال آباد په ولایتونو کې څېړنېز ټیمونه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا ګمارل شوي ؤ. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون تصور او کار هم د څېړونکو په اړه د خلکو درک او په کلیو کې د هغوی د رول څرنګوالي متأثره کاوه. دغه کمیسیون د څېړنو په اکثره سیمو کې مشهور ؤ.[٧] د دغه کمیسون په اړه د ټولنو نظریات توپیر درلود، چې ځینو به دغه کمیسیون د داسې یو ارګان په څیر ګاڼه چې ښځې د کورنۍ تاوتریخوالي څخه ژغوري او د کورنیو د غړو ترمنځ اړیکو کې مثبت بدلون رامنځته کوي، پداسې حال کې چې ځیني نور پدې آند وو چې نوموړی ارګان په کورنیو کې جلاتوب منځته راوړي او ښځې دې ته هڅوي څو د خپلو میړونو څخه طلاق واخلي. کله نا کله د دغه کمیسیون منفي درک د ټولنو غړي دې ته اړ کړل ترڅو د څېړونکو سره په کورنیو کې د هغوی د اړیکو په هکله او په ځانګړې توګه په کورنیو کې د تاوتریخوالي په هکله خبرې ونکړي.

له دې کبله په ځینو سیمو کې څېړونکو زیات وخت او هڅې ولګولې ترڅو خلک ډاډه کړي چې هغوی خپلې خبرې په ډاګه څرګندې کړي او هر څه چې هغوی بیان کړي هغه به محرم پاتې شي او څېړونکي به هغه په کوم بل مقصد استعمال نکړي. په داسې حال کې چې، دا د څېړنې د ټیم اخلاقي دنده وه چې د خلکو د غوښتنې سره سم هغوي داسې اداري ته ولیږي چې عملي مرستې چمتو کوي، همدارنګه که چېرې چې هغوی د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون څخه په نیغه توګه د مرستې غوښتنه کوله، نو څېړونکو به هغوی ته د نوموړي کمیسیون سره د مستقیمې اړیکې نیولو لارښونه کوله.

لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه د څېړنې لومړني معلومات د انفرادي مرکو، ګډبحثونو، غیررسمي خبرواترو او مشاهدو په مټ ترلاسه شول. د څو اړخیزه نامحدوده او د تعدیل وړ او ارتجاعي کړنلارو د ټاکنې دلیل، ځواب ویونکو ته د یوې زمینې مساعدول وو څو خپل نظریات او مهم ټکي چې هغوی یې په خپلو کورنیو کې د جندر او نسلي ډاینامیزم (په کورنیو کې د بدلون انګیزه) په برخه کې ګوري، تشریح او تعریف کړي او همدارنګه په مناسب وخت کې خلک په نرمۍ او اوښیارۍ سره دې ته وهڅوي چې په خپله خوښه د تاوتریخوالي په اړوند خبرې وکړي. ددغو طریقو په کار وړل ددې لپاره هم اړین دي چې د څېړونکو لخوا چې کوم نامناسبه نظرونه موجود دي لکه په بشپړ ډول په ټولو پېښو څېړل، دهغو څخه ځان وژغوري. د معلوماتو د راټولولو لپاره د مختلفو لاروچارو په کار وړل د مختلفو موخو د لاسته راوړلو لپاره ترسره شوې. څېړونکو د څېړنې په ټولو سیمو کې د سیمو د مشرانو سره د پېژندګلوۍ څخه وروسته، د سیمې د ډېرو اوسېدونکو (نارینه او ښځینه) سره ګڼ شمېر غیررسمي لیدنې وکړې او همدارنګه یې له هغو خلکو سره ګډبحثونه ترسره کړل کوم چې د ټولنې په اړوند پوهه لرله. ګډ بحثونه له هغو خلکو سره ترسره شول چې په ټولنه کې به یې کار کاوه لکه د روغتیا کارکونکي او ښوونکي او همدارنګه له هغو سیمه ییزو اوسېدونکو سره چې د سیمې په اړوند یې زیات معلومات لرل لکه ملک یا دایې. د دغه ډول مرکو او غیر رسمي خبرو اترو موخه د ټولنې په اړوند د عمومي معلوماتو، د هغوي تاریخ، د سیاست او ژوند استراتیژۍ او د څېړنې د قضیې د کورنیو په ګوته کول ؤ.

ګډ بحثونه ددې لپاره هم ترسره شول چې په کورنیو کې د مختلفو تاوتریخوالو خپوروالی او منل څرګند کړي. څېړونکو د څېړنې په لړ کې ګڼ شمېر په لاس جوړ شوي انځورونه استعمال کړل چې دغو انځورونو د کورنۍ ژوند د مختلفو پېښو په ګډون د تاوتریخوالي ګڼ شمېر ډولونه هم ښودل، دا ددې لپاره چې ځواب ورکونکي دې ته وهڅول شي ترڅو د مختلفو کورنیو تاوتریخوالي په اړوند خبرې اترې

[٧] څېړونکو خپل ځان د بشر د حقوقو د نړیوال کمیسون کارکونکي وښودل چې د هغې څېړنې لپاره کارکوي کومه چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری(AREU) لخوا تنظیم شوې وه. هغوی د بشر د حقوقو د نړیوال کمیسون د هغو کارکونکو څخه چې له مخکې څخه یې هلته کار کاوه، و نه غوښتل ترڅو یې ټولنې ته ورمعرفي کړي.

وکړي. د ګډونکوونکو د هوساینې لپاره په مشترکو ناستو کې د یوې کورنۍ څخه دوه غړو ګډون ونکړ (مګر ځینې وختونه داسې ونشول). دا څرګند حقیقت دی چې د نارینه او ښځو سره بېلې بېلې مشترکې ناستې ترسره شوې، څېړنیزو ټیمونو ګروپونه د عمر او مقام سره سم په لانورو ګروپونو ووېشل. سپیرږیرو او سپین سرو او په ځانګړې توګه د هغو متاهلو بالغو ماشومانو سره، په یو ګروپ کې خبرې ترسره شوې. له هغو ځوانو سړیانو او ښځو سره چې ماشومان ولري د امکان تر پولې په بېلابېلو ګروپونو کې وکتل شول. د پیغلو او ځلمیو په ځینو ګروپونو کې مجردو ځوانانو هم ګډون درلود. همدارنګه یو لړ مشترکې ناستې په ځانګړې توګه د مجردو ځوانانو (نارینه او ښځینه) او یا د هغو ځوانانو سره چې تازه یې واده کړی وي، ترسره شول.

په ولایاتو کې د څېړنې په هره کلیوا له او ښاري سیمه کې هغه کورنۍ د کتنو لپاره په ګوته شوې په کومو کې چې عملي پیښې تر سترګو شوې دي، د نومړو کورنیو په اړوند د هغو معلوماتو څخه ګټه پورته شوه کوم چې د مشترکو ناستو پر مهال ترلاسه شوي ؤ، او د ټاکلي معیار سره سم پنځه کورنۍ چې ټولنه کې په ټاوتریخوالي او پنځه کورنۍ چې همغاړیتوب باندې نامتو وې وټاکل شوې. څېړونکو سربېره پردې نورې کورنۍ چې د مختلفو اقتصادي او تعلیمي جوړښتونو لرونکې وې هم د مرکو لپاره وټاکلې. مګر له بلې خوا په ټاکلو کې د پېچې اچولو طرز په نسبي توګه یو ډېر اسان او بسیط کار دی. په حقیقت کې په ساحو کې ربښتینې ټاکنه ډېر ستونزمن دي. په نتیجه کې ویلای شو چې د څېړنې ټیم د څېړنې په ټولو سیمو کې په دې ندی توانیدلی چې هغه لس کورنۍ چې لومړی ټاکل شوي، په پرله پسې ډول وګوري. په ځینې نورو حالاتو کې لکه څرنګه چې مرکې ترسره شوې وې او نومړې کورنۍ د څېړونکو سره بلدې وې مګر وروسته جوته شوه چې دواړه کورنۍ یو د بل سره نژدې اړیکې لري او د یوې کورنۍ په څېر ښکاري. په حقیقت کې یوه کورنۍ د بامیان ولایت د ښاري سیمې څخه ټاکل شوې وه او بله د همغه ولایت د کلیوالي سیمې څخه چې دواړه د یوې لویې کورنۍ په څېر ښکاریدې.

د کورنۍ په اړیکو پورې اړوند ډېری څېړنې، کورنۍ د خپل تحلیل د واحد په څیر ګڼي. همدارنګه دا څېړنه په پراخه توګه د کورنیو اړیکو په اغېزه پورې تړاو لري او دا تر بحث لاندې نیسي چې څرنګه د کورنیو هغه غړي چې په مختلفو کورنیو کې اوسېږي، د یو بل په ژوند او اړیکو باندې اغېزه کوي. همدا راز د خپل منځ څخه پرته ځانګړې خپلوان کېداي شي د کورنۍ په اړیکو باندې د پام وړ اغېزه ولري. برسیره پردې په افغاني ټولنه کې به د کورنۍ ترمنځ د پولې پیدا کول ستونزمن کار وي. په نمونه یې ډول یوه کورنۍ داسې ښودل شوې وه چې د خلکو یو ګروپ دی چې د ځانګړو موخو لپاره ګډ ژوند تیروي چې هغه لګښتونه، نسل تولیدول، ټولنیز ژوند، تولید او پانګه اچونې څخه عبارت دی[۷] که څه هم، له ځینو سره چې د څېړنې ټیم د څېړنې په لړ کې وپوښتل هغوي وویل چې په یوې حویلۍ کې سره اوسېږي مګر خپل ځانونه یې بېل وګڼل که څه هم د برابرې یعني یوې ځمکې د کرکېلې څخه په ګډه ګټه ترلاسه کوي. نو دا نورې ستونزمنې مسئلې را پورته کوي او دا ښیي چې د تحلیل د واحد په طور د کورنیو د هر کله بدلیدونکي طبیعت استعمالول څومره ستونزمن کار دی. د بیلګې په توګه کورنیو لومړۍنخشی ته پام وکړی[۸] (د جهانزیب کورنۍ) په هغه ځای کې چې د څېړنې ټیم پنځه مختلف غړي وکتل ترڅو په یوه کورنۍ کې د اړیکو ټینګوالی معلوم کړي.

## ۲.۲ د تحلیل طرز

که څه هم په څلورو واړو ولایتونو کې ورته طرز په کار واچول شو مګر بیا هم د مختلفو ولایتي معلوماتو د مجموعې پر اساس د مقایسې وړ تحلیل په ترسره کولو کې ستونزې موجودې وې. لومړی، د خبرو کولو مختلف ټولنیز نورمونه چې په مختلفو ولایتونو کې په سترګو کېږي کوم چې داښیي چې ځواب ورکونکي په خپلو کورنیو کې د تاوتریخوالي اندازې او ډولونه څومره په ډاګه کوي. دوهم، په ګڼ شمېر ولایتونو کې ګڼ شمېر څېړونکو څېړنې ترسره کړې ترڅو په نسبتاً کم وخت کې ډېر معلومات ترلاسه شي. سره لدې د مخلتفو ولایتي څیړنیزو ټیمونو کارکونکي نه یوازې دا چې د کیفیتي معلوماتو په راټولولو کې د مختلفو مهارتونو، قابلیتونو او وړتیاؤ لرونکي ؤ مګر په برابر ډول د خپلو ببلابېلو ټولنیزو او شخصي

[۷] نظم (۱۹۹۱) او اګرول (۱۹۹۷) ته ځیر شي.

[۸] د کورنۍ ټولې نقشې سره د یوې لارښودې نخشې چې د کورنۍ د نقشې نښې بیانوي، په لومړۍ ضمیمه کې ترلاسه کولای شي.

خاصیتونو د اغېزو لاندې هم راغلي ؤ. د دغو دواړو فکتورونو په یو ځای کېدو سره داسې حالت رامنځ ته کېږي چې په هغه کې هغه ګڼ شمېر نظریات، تېنګار او کیسې چې د راټول شوي معلوماتو په مټ ترلاسه کېږي، هېڅکله به یې د یو ولایت مختلفو ټولنیزو اقتصادي، ډیموګرافیک (سرشمېرنه)، تاریخ ته نسبت ونه کړي مګر دهغو پر ځای به د ولایت په ځانګړیو هغو موضوعاتو باندې بحث وشي چې له پخوا څخه په ګوته شوي وي. او یا د ځېړونکو اخلاق، تعصب، مهارتونه او وړتیاوې، بیان کړي. علاوه پر دې چې د دوو ټاکل شویو ولایتونو ترمنځ د پام وړ بدلون موجود وي، هغه څرنګندیږي.

لکه څرنګه چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړوند د نارینه څېړونکو ټیمونو د نارینه وو سره ناستې او مرکې کړې وې همدارنګه ښځینه ټیمونو د ښځو سره مرکې او ناستې کړې وې. نو د یادونې وړ ده چې نارینه ټیمونو د ښځینه ټیمونو په پرتله د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړوند موضوع کې زیات معلومات راټول کړی ؤ. د دواړو څېړونکو ډلو د معلوماتو د توپیر وجه دا وه چې نارینه څېړونکي او د هغوي ځواب ورکونکو د ښځو د ډلو په پرتله د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړوند له نورو تاوتریخوالو څخه په هوسا ډول خبرې اترې کولای شوې. په پای کې ویلای شو چې د نارینه ؤ ګډې ناستې به معمولاً په نوموړې موضوع باندې پیلیدې او تر ډېره به یې دوام کاوه. همدارنګه د نوموړې هوساینې د احساس په رامنځ ته کېدو سره ځینې څېړونکي په دې وتوانیدل چې په نوموړو موضوعاتو کې لاډېرې پلټنې وکړي او د هغوي نارینه ځواب ورکونکي هم نظر نورو موضوعاتو ته لکه د خاوند او ښځې موضوع، د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي موضوع ته ډېر لېوال ؤ.

ددې لپاره چې په ټولنه کې د رامنځ ته کېدونکو پېښو سره د عیاروالي لپاره لیکلي ریکارډ به په پرله پسې توګه کتل کېده او د معلوماتو لومړنی تحلیل به ترسره کېده. نو ددې پواسطه د څېړنې تیمونه په دې وتوانیدل چې هغه سیمې په نښه کړي د کومو څخه چې پوره معلومات نه ؤ راټول شوی او ددې ډاډ د ترلاسه کولو لپاره چې ګواکې ټول څېړونکي په هغو نویو او ناڅاپه پېښو چې د معلوماتو د راټولولو په مهال رامنځ ته کېږي، خبر دي. ددې پروسې په اوږدو کې موضوعات په نښه شول او بیا وروسته نوموړو موضوعاتو ته رمز ورکول شو. بیا په عین وخت کې معلومات په لیکلي ریکارډ کې په افقي ډول تحلیل شول، د انفرادي کورنیو د پېښو د مطالعې عمودي تحلیل او ګډې ناستې ددې لپاره ترسره شوې چې معلومات په موضوع پورې تړلي وساتي او د انفرادي کورنیو د اړیکو د ټینګار په اړوند پوره معلومات ترلاسه کړي.

ددې لپاره چې د دواړو مهمو څېړونکو سره د تحلیل په مهال مرسته وشي او ددې څېړنې لوستونکي د څېړنې اړوند کورنۍ وپیژني نو د کورنیو نخشې وایستل شوې (په لومړۍ ضمیمه کې یې وګورۍ). دا نقشې ددې لپاره جوړې شوې چې هم د کورنیو په مینځ کې د شکلي اړیکو استازیتوب وکړي او هم دا معلوماتو ورکړي چې هره کورنۍ چېرې موقعیت لري. (هغوي د افغاني کورنیو پیچلې جوړښت هم ښیي.)

# ۳. لومړۍ برخه: څېړنیزه سیمې

نومورې څېړنه په څلورو ولایتونو کې ترسره شوه: بامیان، کابل، هرات او ننګرهار. په هر یو له دغو ولایتونو کې د څېړنې لپاره یوه ښارې او یوه کلیواله سیمه ټاکل شوې وه. دا څلور ولایتونه ددې لپاره په نښه شوي ؤ ترڅو د افغانستان پراخه جغرافیایي او ټولنیزه چاپریال تر پوښښ لاندې ونیول شی. دا هم په پام کې نیول شوی ده چې شمالي او سهیلي سیمو کې څېړنه تر سره نشوه. همدارنګه عملي به نه وی چې ډیر زیات ولایتونو تر پوښښ لاندی نیول شوی وی او د راټولو شوو معلوماتو کیفیت او ښه والی هم کنټرول شوی وی.

په هر ولایت کې یوه ښارې او یوه کلیواله سیمه په داسې ډول په ګوته شوې وه چې د هر یو له څلورو ولایتونو څخه یې په ښه توګه استازیتوب کاوه او همدار نګه یې د خلکو د جګړې او مهاجرت نمونې هم ښودلې. د څېړنې د سیمو په ټاکلو کې د مختلف اقتصاد لرونکو ډلو موجودیت هم په پام کې نیول شوی ؤ.

دا برخه د څېړنې سیمې بیانوي ددې لپاره چې د څېړنې د لاسته راوړنې د سیاق سره برابرې کړي. خو بیاهم د ټولنو د رازونو د خوندي پاتې کېدو لپاره د هرې سیمې په اړوند ځانګړې تشریحات په ژور فکر سره حذف کړل شول.

## ۱.۳ د بامیانو ولایت

### کلیواله سیمه

**موقعیت او اوسېدونکي.** د کلیوالې سیمې د څېړنې په ځاي کې پنځه وړوکي کلي موجود دي او یو د **بل** څخه په لږ واټن کې پراته ؤ او یو **بل** ته یې کم پیاده مزل لاره. په دغو پنځو کلیو کې نږدې ۴۰۰ کورنیو ژوند کاوه. د سړک وضعې ته په کتو نومورې سیمې ته د بامیانو د ښار څخه یو یا دوه ساعته د موټر لاره ده. د ژمي په مهال په سړکونو کې تګ راتګ امکان نلري، ځکه چې دا سیمه ډېره سړه ده او د ژمي په موسم کې پکښې ډېرې واورې اورې.

معیشتونه او اقتصاد. د نورو هغو کلیوالو سیمو په پرتله په کومو کې چې څېړنې ترسره شوي دا تر ټولو بې وزله سیمه ده. په دې سیمه کې زراعت او مالداري د معیشت غوره سرچینه ده. د سیمې زیاتره خلک د شپږ جریبه[۹] څخه زیاته ځمکه نلري. مهمه کرکېله یې غنم، اوربشې او کچالو دي چې کرکیله یې معمولاً د خپلو څارویو د پاییښت لپاره ده نه د خرڅلاؤ لپاره. کورنۍ هم خپله ګوزاره د څارویو څخه په لاسته راوړل شویو موادو لکه مستې، کوچ، پیروی او شیدو باندې کوي. د څارویو او د هغو د تولیداتو خرڅلاؤ یو څه نقد عاید لاسته راوړي. خلک **خپل** د اوړي او ژمي موسم په خپلو ایلاقونو(د اوړي استوګنځي) کې تیروي، ددې لپاره چې د خپلو څارویو لپاره ښه څرځاي ومومي. په همدې وخت کې خلک **خپل** وخت په غرنیو سیمو کې د بوټو په راټولولو  تیروي ددې لپاره چې په ژمي کې نومورې بوټې د استوګنځیو د تودولو او د پخلي لپاره پکار یوسي. د مالدارۍ چارې نارینه او ښځې پرمخ بیایي.

غالۍ اوبدل معمولاً د ماشومانو او ښځو پواسطه ترسره کېږي چې نومورې کار د نغد عاید لپاره ترټولو لویه سرچینه ده. د خلکو سره د ناستو او مجلسونو پر بنسټ که څه هم د غالیو اوبدل د خلکو په منځ کې طبیعي او پخوانی کار ندی بلکه د پاکستان څخه د راستون شویو کډوالو کورنیو په واسطه عام شوی ؤ.

اکثره کورنۍ **خپل** ورځنې ژوند په هلوځلو تیروي. یو کلیوال مشر پدې اړه دکورنیو د مختلفو اقتصادي وضعیتونو شتون په **خپل** بیان کې داسې په ګوته کوي:

> بې وزله خلک هغه دي چې د خوراک لپاره هېڅه نلري او شتمن هغه دي چې یو څو څاروي او یو ټوټه ځمکه ولري او په هغې باندې **خپل** ژوند تیر کړي.

روغتیا او تعلیم. د پنځو کلیو لپاره یواځی یو ښوونځی موجود دی. هلکان او نجونې په ټولګیو کې ګډ دي، چې د نجونو ښوونځي ته تلل

---

[۹] یو جریب تقریباً د یو هیکتار یو پر پنځمې سره برابر دی.

د هغو په عمر پورې تړاو لري. د سیمې اوسېدونکې دغه ښوونځي ته زیات ارزښت قایل دي نوځکه خپل ماشوم هره ورځ په کلکه څارنې سره ورلېږي، دا ښوونځی په ۲۰۰۲ کال کې د یوې نړیواله ناحکومتې مؤسسې لخوا جوړ شو. ان تر دې چې کله کورنۍ د سپرلي په موسم کې خپل آیلاق (د اوړي استوګنځي) ته وخوځېږي نو د معلوماتو سره سم هلته یو بالغ کس ټاکي ترڅو هغوي ډاډمن کړي چې ماشومان یې ښوونځي ته ځي.

خلک په کلیو کې د روغتیایي خدمتونو په نشتوالي باندې ډېر اندېښمن ۇ. ترټولو لا نږدې روغتیایي مرکز ته دوه ساعته پیاده واټن دی.

**د شخړو اغېزه.** د طالبانو حمله د بامیانو په کلیوالو سیمو په ځانګړې توګه د څېړنې په دې سیمې باندې ډېره بده اغېزه لرله چې د ډېرو خلکو د وژلو او بندي کېدو سبب شوه. په نوموړي رژیم کې خلک دې ته اړ شول چې له واورو ډکو غرونو ته وخوځېږي. زیات شمېر خلکو د سړې هوا او د خوراکي توکو د نشتوالي له امله له دنیا څخه سترګې پټې کړې. شتمنۍ او کورونه خو یا وسوځول شول او یا د بلدوزر په مټ وران شول. لکه څرنګه چې دا سیمه د طالبانو او شمالي ټلوالې د جګړې په لومړۍ کرښې په منځ کې پرته وه نو نه یوازې د طالبانو لخوا بلکه د شمالي ټلوالې د بیرته په شاتګ له امله هم زیانمنه شوه.

د طالبانو د واکمنۍ په مهال ډېر لږ شمېر خلک په دې وتوانیدل چې کابل، پاکستان او یا ایران ته هجرت وکړي. د سیمې د یو مشر په اند د هغو کورنیو مالي وضعه چې د هیواد څخه بهر هجرت کړی ۇ نسبت هغو ته چې د هیواد دننه بې ځایه شوي ۇ، ډېره ښه ده. نوموړي مشر دی هیواد دننه بې ځایه شوې کسان د هغو مرغیو نسبت ورکړ چې خپل ټول ژوند د ځالو په جوړولو تیروی، او هر ځل د سره کور جوړوی او ژوند پیل کوی. ته د هغو الوتونکو نسبت وکړ چې یوازې خپلې ځالې جوړوي یعني نوموړو خلکو خپل کورونه او استوګنځي ډېر په ساده ډول جوړ کړي ۇ.

### ښارې سیمه

**موقعیت او اوسېدونکي.** پدې سیمه کې نژدې ۵۰۰ کورنۍ ژوند کوي. ددې سیمې اوسېدونکي د بامیان د مختلفو سیمو څخه دي. په ۲۰۰۱ کال یعني د طالبانو د واکمنۍ د ختمیدو پرمهال کله چې خلک بیرته خپلو سیمو ته راګرځیدل نو کورونه یې وران او څاروي یې په بشپړ ډول له منځه تللي ۇ. نو دا زیان او یو لړ نورې انګیزې لکه د بامیانو د ښار ښه سهولتونه او کارونه ددې سبب شو چې هغوي په بامیانو کې خپل ژوند ته ادامه ورکړه.

**معیشت او اقتصاد.** د ښارې سیمو اقتصادي فعالیتونه د کلیوالو سیمو په پرتله ډېر توپیر لري. ځېنې خلک ټرک او یا کوچنې موټر لرل چې د خلکو او شیانو په وړو راوړو کې به یې ورڅخه کار اخیست او ځینې نورو کوچنې دکانونه لرل، ان تردې چې د ځینې خلکو عاید په ورځنې مزدوري او غالۍ اوبدلو پورې تړلې وو. یو شمېر خلکو ځمکې لرلې چې په دهقاني یې ورکولې او ځینې نور د دولت لخوا د پولیسو په دندو ګمارل شوي ۇ او یا یې په نړیوالو مؤسسو کې د ساتونکو په څیر دنده لرله.

**روغتیا او تعلیم.** خلک د بامیان مرکزي ښوونځي او روغتون ته په ډېره اسانۍ لاس رسی کوي.

**د جګړې اغېزه.** ددې سیمې اوسېدونکو د هغو کلیوالو سیمو په څېر د جګړې او کډوالۍ ستونزې ګاللي د کومو په اړوند مو چې مخکې بیان وکړ.

## ۲.۳ د کابل ولایت

### کلیواله سیمه:

**موقعیت او اوسېدونکي.** په کابل کې کلیواله سیمه د مرکز څخه د موټر پواسطه نږدې ۴۵ دقیقو په واټن پرته ده. دا کلی نسبتاً لوي دی او ۳۲۰ کورنۍ پکښې اوسېږي. پدې سیمه کې زیاتره خلکو خپل ځانونه عرب[10] وښودل او په دواړو پښتو او دري ژبو باندې یې خبرې کولاې شوې. په نوموړي کلي کې یو څو کورنۍ هزاره هم اوسېږي مګر د خبرو اترو او مرکو لپاره یوازې عرب په ښه شول.

**معیشت او اقتصاد.** کورنۍ د بیلا بیلو کچو د شتمنیو لرونکي دي، چې ستر ځمکه لرونکې او بې ځمکې خلک هم پکې وو، او یو لړ

داسي خلک هم پکې ؤ چې روزمره مزدوري باندې چليدل. د پاینټ لپاره خلک زراعتي تولیدات لکه غنم، کچالو، پیاز او میوې پکار وړي او کابل کې هم پلوري. مالداري هم شته چې تولیدات يې لکه مستې د کابل په ښار کې د کورنیو د نارینه غړو لخوا پلورل کېږي. ځیني کورنۍ دکانونه لري او ځیني نور خلک لاسي کراچۍ لري چې په ورځني کار کې ورڅخه ګټه پورته کوي. یو لږ خلک موټرونه لري چې کابل ته يې د تګ را تګ لپاره د تکسي په څېر په کار وړي. یو کم شمېر ښځې هم په اقتصادي چارو کې برخه اخلي چې هغوي خیاطي کوي او یا په کلیي کې د څارویو تولیدات پلوري. په کلي کې دوه دوکانونه او دوه جوماتونه دي.

روغتیا او تعلیم. دا کلی د هلکانو او نجونو لپاره یو ښوونځی لري چې په هغه کې تر شپږم ټولګي پورې زده کړې کېږي، د شپږم او له هغه څخه پورته ټولګیو لپاره تر ټولو لا نږدې ښوونځي ته په پښو یو ساعت لاره ده. ترټولو نژدې روغتیایي مرکز په ګاونډې کلي کې موقعیت لري چې نژدې ۳۰ دقیقې پیاده لاره ده.

د جګړې اغېز. نوموړی کلی په دواړو دورو یعني د روس او مجاهدینو او همدارنګه د خپل منځي جګړو پر مهال سخت زیانمن شوی دی. خلکو هغه حالت بیان کړ چې څرنګه د جګړو پرمهال ودانۍ او میوه لرونکې ونې له منځه ولاړې. خپل منځي جګړو هم کلي ډېر زیانمن کړ، چې ګڼ شمېر قوماندانانو به د ځمکو په سر جنګیدل.

د سره شوروي سره د جنګ پر مهال د کلي اکثره خلکو کلی پرېښود، زیاتره خلکو پاکستان ته هجرت وکړ مګر یو شمېر کابل او یو ډېر کم شمېر ایران ته هجرت وکړ. د کلي زیاتره خلک په پاکستان کې د کډوالو داسي پنډغالو (کمپونو) ته مهاجر شول چې ددوي په وینا خپل کلتور او ټولنیز جوړښت يې خوندي پاتې ؤ. خلک د مهاجرت څخه په مختلفو وختونو کې بیرته را ستانه شول. د خپل منځي جګړو د پیل څخه دمخه کومې کورنۍ چې بیرته راستنې شوې وې دې ته اړ شوې چې ددوهم ځل لپاره بیا مهاجر شي. که څه هم زیاتره خلک د خپلو کورنیو د ډېر شمېر خلکو سره تراوسه بیرته ندي راستانه شوي.

ښارې سیمې

موقعیت او اوسېدونکي. دا سیمه د کابل د نورو سیمو په څېر د غرو په لمنو پرته ده. مګر د کابل د کلیوالو سیمو اکثره اوسېدونکي د مختلفو قومونو څخه دي چې ډېری يې هزاره، پښتانه او تاجک دي. ددغو اوسېدونکو ډېری بیرته راستانه شوي کډوال دي چې یا له پاکستان او یا هغه کډوال دي چې د هیواد په دننه بې ځایه ؤ، د یادونې وړ ده چې ځیني يې هغه کورنۍ دي چې دوه یا درې پیړۍ مخکې کابل ته راغلي دي.

معیشت او اقتصاد. ځیني خلک ددولت مامورین دي او ځیني نور يې دوکانونه لری، همدارنګه اکثره خلک د هغو خپلوانو په بخششونو خپلې شپې او ورځې سبا کوي کوم چې د هیواد څخه بهر وي. ځیني د هیواد په نورو سیمو کې ځمکې لري او د هغو څخه خپل عاید لاسته راوړي. ډېر خلک وزګار هم دي. ځیني ښځې او ماشومان د غالۍ اوبدلو په کار بوخت دي.

روغتیا او تعلیم. په سیمه کې د روغتیا شخصي مرکزونه او همدارنګه یو دولتي کلینیک موجود دی. دوه ښوونځي دي چې یو يې د هلکانو او یو يې د نجونو لپاره دي.

جګړه او مهاجرت. لکه څرنګه چې سیمه د جګړې لومړۍ کرښې ته نږدې پرته وه نو په همدې اساس ډېرې ودانۍ ورانې شوې او نژدې ټولو کورنیو سیمه پرېښوده.

## ۳.۳ د هرات ولایت

### کلیواله سیمه

موقعیت او اوسېدونکي. دا ښار د هرات د ښار څخه د موټر په مزل د یو که یو نیم ساعت په واټن کې پروت دی او عمومي سړک ته ډېر نژدې دی. اوسېدونکي يې ټول دیګان دي.

د هرات کلیواله سیمه د نورو هغو کلیوالو سیمو په پرتله چې تراوسه ترڅېړنې لاندې نیول شوي ډېره شتمنه سیمه وه. دا خبره د یوې

[10] په افغانستان کې هغه ډلې چې خپل ځانونه عرب معرفي کوي هغوي د سیدانو د پښتې (قوم) څخه ځان ښیي ( Encyclopedia Iranica, ۲۰۰۱, p. ۴۹۹).

ځانګړې مرکې په ترڅ کې د کلي د روغتیايي کمیټې د یوې ښځینه کارکونکې څخه ترلاسه شوه، او هغې داسې وویل:

> مونږ یو شپون لرو چې غریب (بې وزله) ورته ویلای شو. مګر هغه هم دومره غریب ندی ځکه چې د هغه دنده زمونږ د کلي د ګډو څیرل دي او د کال په پای کې د لسو ګډو د څرلو په مزدورۍ کې ورته یو ګډ د هغه د تنخوا په توګه ورکول کېږي نو په هر کال کې هغه کم ترکمه ۳۰ ګډې ترلاسه کوي. او خلک هغه ته د اوسیدو لګښتونه هم ورکوي.

بزګری او د څارویو روزل د ژوند ترټولو مهمې وسیلې دي. کورنۍ په عمومي ډول د پام وړ اندازې ځمکې لري، چې په هغه کې اوي (آبي) او للمي ځمکې او څاروي شامل دي. اکثره کورنۍ اضافي تولیدات لري چې د خپلو څارویو د تولیداتو سره یې یوځای پلوري. د سیمې په ځوانانو کې ایران ته د څه مودو لپاره تلل او هلته کار کول ډېر عادي دي، هغوی ددې لپاره ځي چې خپلو کورنیو ته روزي برابره کړي او همدارنګه ددې لپاره چې د خپلو ودونو لګښتونه پوره کړي.

روغتیا او تعلیم. په نوموړي کلي کې یو وړوکی ښوونځی دی چې یوازې تر پنځم ټولګي پورې دی، د زیات عمر لرونکو ماشومانو ښوونځی په ولسوالۍ کې موقعیت لري چې د نوموړي کلي څخه د ۲۰ کیلو مترو په واټن کې ځای پر ځای دی. همدارنګه په کلي کې هېڅ روغتیايي کلینیک شتون نلري او ترټولو نږدې روغتیايي خدمتونه هم په ولسوالۍ کې دي.

د جګړو اغېز. د سیمې خلک هم د روس او مجاهدینو د جګړو پر مهال او هم د طالبانو لخوا د هرات ولایت د نیولو پر مهال زیانمن شو. د روسانو د اشغال په وخت کې نوموړی کلی په دوه ډلو ووېشل شو چې یو یې د روسانو له لوري د جوړ شوي دولت ملاتړ کاوه او بل یې د مجاهدینو پلوي کوله. د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کې شخړو خلک دې ته اړ کړل چې کلی پرېږدي. ځینې کورنۍ ګاونډي هیواد ایران ته ولاړې او اکثره نورې ګاونډیو ولایتونو ته وخوځېدې. زیاتره کورنیو د کلي څخه د وتلو پر مهال د یو څو څارویو څخه پرته نور څه وې نه وړل. د اووه یا اته کلو څخه وروسته کورنۍ بیرته سیمې ته راستنې شوې.

ځینې خلک د طالبانو د واکمنۍ پر مهال قیدیان، شکنجه او ووژل شول. ځینې خلک په قواؤ کې ځانونه ورګډ کړل کلی یې پرېښوده او د طالبانو په وړاندې جګړې ته یې ادامه ورکړه. مګر د کلي اوسېدونکو په هغه وخت کې د کلي څخه بهر مهاجر نشول.

## ښاري سیمه

موقعیت او اوسېدونکي. ښاري سیمې نسبتاً لویه سیمه راچاپیره کړې او د هرات د مرکز څخه ډېره لرې هم پرته نده. ډېری اوسېدونکي یې تاجیک دي مګر ډېر کم اوسېدونکي یې ترکمن دي. یو څو کورنۍ هزاره او پښتانه هم شته.

معیشتونه او اقتصاد. د ښاري سمیې کورنۍ نسبت د کلیوالې سیمې کورنیو ته غریب دي، که څه هم د اقتصادي وضعو یو لړۍ موجوده ده: ځینې مادتاً هوسا دي مګر ځینې نور هېڅ ډول منظم عاید نلري. شتمنې کورنۍ دوکانونو او یا وړوکو سواګریو ته لکه د خښتو ریزول او یا د اوړو د میده کولو کار ته میلان کوي. ځینې نور په کلیوالو سیمو کې زراعتي ځمکې هم لري. هغه کورنۍ چې اقتصادي وضعه یې ډاډمنه نده هغوی لاندې کارونه ترسره کوي: د سبزي د کراچۍ لرل، روزمره مزدوري، د ټکسي چلول، د پیره دار او یا پاکوونکي په ډول کار کول دي. او همدارنګه ځینې نور یې په دولتي دندو ګمارل شوي دي مثلاً د ملي اردو سره کار کوي. پدې سیمه کې د ښځو اقتصادي فعالیتونه ډېر اهمیت لري. هغه ښځې چې د خپلو کورنیو سره اقتصادي همکاري کوي معمولاً بړستنې ګنډي، د پستې ماتوي او د شتمنو کورنیو جامې وینځي. غالۍ هم اوبدل کېږي په ځانګړې توګه د ترکمنو کورنیو د ښځو په واسطه. د کورنیو د هغو نارینه غړیو لخوا همکاري چې په ایران کې میشت دي د سیمې زیاتره کورنیو د اقتصاد مهمه برخه جوړوي.

روغتیا او تعلیم. د سیمې اوسېدونکي یوه روغتیايي کلینیک ته لاس رسی لري او دوه نور په نږدې واټن کې موقعیت لري. د څېړنې په سیمه کې ښوونځی نشته مګر په نږدې واټن کې د نجونو او هلکانو ښوونځي موجود دي.

د جګړو اغېز. نوموړې ښاري سیمه د روس او مجاهدینو د جګړو پر مهال ډېره زیانمنه شوې وه. د روسي قواؤ لخوا سخته بمباري شوې

ده. د هغو کورنیو د غړیو سره چې مرکه وشوه اکثرو یې د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي ؤ او زیاتره نور خلک یا سخت ټپیان شوي ؤ او یا خو هم معیوب ؤ. پدې وخت کې خلک د سیمې پریښودو ته اړ شوي ؤ او ځینې نورو خلکو به د هرات د ښار یوه او بل لوري ته خوځېدل. ګڼ شمېر کورنیو پاکستان او د سیمې ترکمن خلک ترکمنستان ته، مهاجر شول. زیاتره هغه خلک چې سیمه یې پریښودلې وه د ۱۹۹۰ په لومړیو کې بیرته راستانه شول او ډېرې نوې کورنۍ چې اصلاً د افغانستان د نورو سیمو څخه وې سیمې ته را وخوځېدې.

لکه څرنګه مو چې د څېړنې د سیمې څخه معلومات ترلاسه کړ، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال نورو هیوادونو ته هجرت کول ډېر کم ؤ. که څه هم خلکو راپور ورکړ چې د کورنۍ غړي به د طالبانو لخوا اعدامیدل، په زندان کې اچول کېده او ټکول کیدل.

## ۴.۳ د ننګرهار ولایت

### کلیواله سیمه

**موقعیت او اوسېدونکي.** د څېړنې دا سیمه په ځانګړې توګه د یو لوي کلي استازیتوب کوي. نوموړي کلي ته د جلال اباد د ښار څخه یو ساعت د موټر لاره ده، د هغه مزل په ګډون چې د عمومي سړک څخه ۲۰-۱۵ دقیقو دی. ټول اوسېدونکي یې پښتانه دي مګر د مختلفو قومونو څخه. د کلي په مینځ کې یو بازار دی چې ګڼ شمېر دوکانونه لري.

**معیشتونه او اقتصاد.** د نوموړي کلي اوسېدونکي د مختلفو شتمنیو لرونکو په ډلو کې راځي. ترټولو شتمن خلک سوداګري، دوکانونه او ځمکه لري. هغه خلک چې د کم عاید لرونکو په ډله کې راځي، هغوي د موټروانۍ، روزمره مزدورۍ کارونه ترسره کوي او یا یوه ټوټه ځمکه لري. د زیاتره خلکو سره چې مرکې ترسره شوې له دوه تر لس جریبه ځمکې لري. غنم تر ټولو مهم حاصل دی، پنبه، جوار او سبزي هم کرل کېږي. ځینې کورنۍ دوه یا درې غواګانې لري. په کلي کې ډېر کم شمېر ښځې پداسې کارونو بوخت دي چې پیسې ورته ورکول کېږي، مثلاً: یوه معلمه ده، بله دایه ده او دوه نورې هغه روزل شوې ښځې دي چې د ماشومانو د زیږیدو په مهال له ښځو سره مرسته کوي. یو څو کسان په دولتي ادارو او مؤسساتو کې کار کوي. ګڼ شمېر کورنۍ د څو خواؤ څخه خپل عاید ترلاسه کوي لکه چې یوه سړي وویل چې کورنۍ یې یوه ټوټه ځمکه او یو د اوړو ځرنده او د ختګر په توګه هم کار کوي. ډېرى خلکو وویل، هغه مهال چې خلکو د کوکنارو کرکیله کوله د اوس په پرتله ډېر شتمن ؤ، مګر اوس یې د کوکنارو کرکیله درولې ده. لکه چې مخکې مو ذکر کړ چې د څېړنې په نورو سیمو کې د کورنۍ نارینه غړو د خپلې روزې د ګټلو او اقتصاد د پیاوړي کولو لپاره ایران یا پاکستان ته مخه کوله.

**روغتیا او تعلیم.** نوموړى کلى یو فعال روغتیایي کلینیک لري چې هم نارینه او هم ښځینه طبي کارکونکي لري او له دې سره سره یوه ډېره فعاله او تکړه دایه هم لري. په کلي کې یو د هلکانو او یو د نجونو ښوونځي موجود دي. مګربیاهم خلکو شکایت کاوه چې د نجونو ښوونځی یوازې تر شپږم ټولکي پورې دی او همدارنګه د ښځینه ښوونکو استخدامول هم ستونځمن کار دی.

**د جګړې اغېز.** د روسانو او مجاهدینو د جګړې پر مهال په کلي کې زیاتره ودانۍ ورانې شوې. کورنیو خپل غړي له لاسه ورکړل او اکثره اوسېدونکي پاکستان ته مهاجر شول او هلته له لس تر څوارلس کلو پورې پاتې شول. په ځینې حالاتو کې کورنۍ نیم کوره شولې یعني نیمايي غړي یې په کلي کې د ځکمې او د هغې د محصولاتو د پالنې لپاره پاتې شوې مګر نیمایي نور غړي پاکستان ته وخوځېدل.

### ښاري سیمه

**موقعیت او اوسېدونکي.** د جلال آباد ښار د څېړنې د سیمې زیاتره اوسېدونکي د ننګرهار د مختلفو ولسوالیو څخه او همدارنګه د افغانستان د نورو ولایتونو څخه راغلي دي. ډېرى خلک یې د متختلفو قومونو پښتانه دي مګر یو څو کورنۍ تاجک هم دي.

**معیشت او اقتصاد.** نوموړې سیمه د جلال آباد د ښار یو له غریبو سیمو څخه دی. که څه هم یو څه شتمنې کورنۍ هم پکښې اوسېږي. د نارینهؤ لپاره دغه کارونه معمول دي، لکه: ختګرى، روزمره مزدورى، باروړل، پولیسو دنده، د اردو سرتېري، موټر چلونه، لاسي کراچۍ چلونه او وړه سوداګرى، او همدارنګه د اجارې ځمکه په کلیوالو سیمو کې. د اقتصاد لپاره د ښځو کارونه ډېر کم لیدل کېږي مګر بیاهم ځینې ښځې د پیسو په مقابل کې کار کوي لکه د بړستنو ګنډل،

درس ورکول او یا په روغتیایي مرکزونو کې کارکول. په سیمه کې یوه فال کتونکې ښځه هم موجوده وه. په عمومي توګه د بېکارۍ کچه لوړه وه، دا ځکه چې د ځېړنې په نورو سیمو کې د کورنیو ځینې غړي پاکستان او ایران کې اوسېدل او هلته یې کار کاوه.

**روغتیا او تعلیم.** په سیمه کې هېڅ روغتیایي کلینیک نشته او یوازې تر شپږم ټولګي پورې یو ښوونځی دی چې هلکان او نجونې پکښې زده کړې کوي. مګر بیا هم په ښار کې نژدې یو لړ نور روغتیایي امکانات او ښوونځي موجود دي.

**د شخړو اغېز.** ددې سیمې ډېری اوسېدونکي د لومړي ځل لپاره د روسانو او مجاهدینو د جګړې پر مهال دغې ښارې سیمې ته ددې لپاره راغلل چې په خپلو ولسوالیو کې یې شخړې وې. مګر پدې سیمه کې د جګړې په وجه زیاتره خلک ددوهم ځل لپاره تېښتې ته اړ شول. چې ځینې یې نورو ولسوالیو او ځینې نورو یې د ښار څنډو ته پناه یوړه ترڅو د جګړو څخه په امان وي. ځینې کورنۍ پاکستان ته مهاجرې شوې او هلته نژدې شل کاله یا زیات پاتې شوې. سیمه سخته بمبارد شوه چې زیاتره خلک خو یې یا ووژل شول او یا اوس هم معیوب دي. ددې سیمې اوسېدونکي د کورنۍ جګړې او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم زیانمن شول. د سیمې د اوسېدونکو په وینا کله چې امریکایي ځواکونو د طالبانو تر ولکې لاندې سیمې بمبارد کړې نو نومورې سیمه یو ځل بیا د لږ وخت لپاره د خاورو سره خاورې شوه.

## ۴. دوهمه مرحله: د ماشومانو لپاره د مور او پلار هیلې او ارمانونه، او په کورنۍ کې د ماشومانو رول

دا برخه په کورنۍ کې د ماشومانو رول او همدارنګه د والدینو هیلې د خپلو بچیانو څخه، ترمطالعې لاندې نیسي.[11] د څېړنې په دې برخه د داسې څه اضافه کول او همدارنګه د څېړنې په ټولو برخو کې چې اصلي موضوع د ماشومانو په وړاندې د مشرانو تاوتریخوالی دی، ددې لپاره راغلی چې ددې څېړنې لوستونکي ټولې تر لاسه شوې کیسې او همدارنګه په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی، د سیاق سره برابر وګڼي، د نومړو تاوتریخوالو په اړوند د دغې څېړنې په اوږدو کې معلومات وړاندې کېږي. د ماشومانو په وړاندې د والدینو د هیلو او ارمانونو ارزول او هغه رول چې د ماشومانو څخه یې د هغوي والدین تمه لري د والدینو د هڅونې د پوهې کچه چې د خپلو ماشومانو د روزنې لپاره یې لري، لوړوي، ولو که د والدینو لخوا روزنه په تاو تریخوالی سره وي او که نه وي. او همدارنګه د مشرانو لخوا د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه د ډک چلند د مباحثې موازنه هم برابروي، ددې په پیژندلو سره چې ورته چلند معمولاً د مینې یا علاقې په لرلو سره هڅول کېږي.

دا برخه د والدینو په هیلو او ارمانونو پیلیږي چې د خپلو بچیانو د راتلونکې په اړوند یې لري، او له دې سره سره زیات اهمیت یې د هغوي زده کړې ته ورکول شوی دی. پدې باندې استدلال کېږي چې د خپلو بچیانو په اړوند د هغوي د والدینو ارمانونه د افغانستان د راتلونکې لپاره په هیلو ، ویرو او تمو پورې تړاؤ لري. ددې څېړنې په لړ کې د والدینو مختلفې هیلې او ارزوګانې د خپلو بچیانو څخه په ګوته شوې دي. د یادونې وړ ده چې کله والدین د خپلو بچیانو د راتلونکې په اړه ځانته هیلې لري او غواړي چې هغوي په راتلونکې کې د اخلاقو لرونکي او مسؤل مشران وي نو باید وویل شي چې د هغوي دا هیلې یوازې او یوازې له دې کبله وې چې بچیان یې ښې زده کړې وکړي. په پای کې ویلای شو چې په دې برخه کې د زده کړې په اړوند ډېر بحث موجود دی. په دې پسې د ماشومانو رول په کورنۍ کې بیانېږي او لاندې موضوعات په لنډ ډول وړاندې کوي چې: د ماشومانو رول په هغه کار کې چې د پیسو په بدل کې وي، د کور څخه بهر د خپلې ګوزارې لپاره کار، او د کور د منځ کار. په پای کې پدې بحث کېږي چې په کورنۍ کې د ماشومانو د روزنې او پالنې مسؤل څوک کېږي.

### ۱.۴. د ماشومانو لپاره هیلې او ارمانونه

> ګمان کوم د هغوي ودونه به له مونږ څخه ښه وي او زه باور لرم چې هیواد به پرمختګ کړی وي او د هغوي ژوند به زما څخه ښه وي.
>
> د ننګرهار ولایت د ښارې سیمې یو د منځني عمر[12] اوسېدونکي

د والدینو یو لوي اکثریت د خپلو ماشومانو د راتلونکي ژوند په اړه اوچت امیدونه لرل. کله به چې وپوښتل شو بې له استثناء به خلکو ویل چې د هغوي په باور د ماشومانو ژوند به د هغوي د والدینو د ژوند څخه ښه وي، دا خبره به په ځانګړې توګه په ننګرهار او بامیان ولایتونو کې په تکرار سره کیدله.

ددې خبرو سببونه به داسې بیانېدل: چې ډېر سهولتونه دي، ماشومان اوس د زده کړې لپاره موقع لري، او په هیواد کې به نور جګړه نه وي او د هجرت اړتیا به هم نه وي او افغانستان به ډېر پرمختګ وکړي.

---

[11] لکه څرنګه چې دا څېړنه د ټولنې نظر په کورنۍ کې د ماشومانو سره د تاوتریخوالي په اړوند ښیي، په دې بحث کې ماشومان معمولاً بې واده هلکان او نجونې دي چې نژدې ۱۲ کاله عمر ولري. تر ډېره حده د ماشومانو عمرونه ښودل شوي هم دي.

[12] د منځني عمر سړي څخه مطلب هغه سړی دی چې د ۳۰ او ۴۵ ترمنځ عمر ولري ځینې کېداې شي بې واده هم وي. د زوړ اصطلاح معمولاً د هغه ځواب ورکونکي لپاره په کار وړل کېږي چې د ځلوېښت کلنۍ په شاوخوا عمر ولري او معمولاً بچیان او یا لمسیان ولري. ددې عمر څخه ټیټ خلک د ځوان په نامه یادېږي. که څه هم څېړونکو د انفرادي مرکو او ګډو ناستو په مهال د اتلس څخه د ټیټ عمر لرونکو خلکو سره خبرې اترې ونه کړې. خلکو د څېړنې د ټیم سره د خبرو اترو په مهال زیاتره وخت رښتینی عمر په ګوته نه کړ. نو له همدې کبله د ورته اصطلاحاتو څخه کار واخیستل شو.

والدینو نه یوازې دا هیله لرله چې بچیان به یې ددغو اوچتو سهولتونو څخه ګټه پورته کړي بلکه دا هیله یې هم لرله چې بچیان به یې د ټولنې او هیواد په پرمختګ کې خورا مهم رول ولوبوي. لکه څرنګه چې عبدالصبور چې کورنۍ یې په پوره ډول لاندې راپيژندل شوې داسې وایي: زه هغوي داسې غواړم چې باسواده واوسي او د خپل هیواد او خلکو خدمت وکړي. دا به ډېر په ډاګه ویل کیدل چې د افغانستان راتلونکی پرمختګ او زده کړه به هلکانو نه نجونو ته دا زمینه مساعده کړي چې ښې دندې به ولري او اقتصادي وضعه به یې د خپلو والدینو په پرتله ډېره ښه وي. مګر ډېری والدینو د لورګانو په اړه هم خپل امید وښود او ویيل یې چې لورګانې به یې ښې زده کړې وکړي او په ښو دندو به وګمارل شي البته دا هغه کورنی نه وې چې ښځو یې کار کاوه. او همدارنګه د لورګانو په اړوند د والدینو اساسي امید دا ؤ چې هغوي ښه ځايونو کې واده کړي، په ځانګړې توګه بیا مینديې د لورګانو د ښو ودونو په اړوند اندیښمنې وې، او په خاصو توګه یې داسې هیلې لرلې چې د لورګانو خاوندان یې د یوې څخه زیاتې مېرمنې ونلري او اقتصاد یې هم ډاډمن وي.

دوه سپين سرو ښځو ټولې هغه ستونزې په ګوته کړې چې په خپل ژوند کې زغملې وې، مګر نومورو دا هیله وښوده چې د لوڼو راتلونکی ژوند به یې د دوي په پرتله بهتر وي. مګر دداسې ویناؤ په وړاندې یو څه استثناأت هم موجود ؤ، د مثال په توګه بخت بي بي چې د هرات د ښارې سیمې اوسېدونکې وه او په نسبتاً خواره کورنۍ کې یې ژوند کاوه هغې د خپلې لور په اړه وویل چې لور یې په یو توند لارې (له تاوتریخوالي ډک) کورنۍ کې واده ده او هغې باور وښود چې لور به هم د هغې په څېر ژوند ولري.

وری د مور تر څنګ څملې، زه باور لرم چې زما لور به هم زما په څېر یو ستونزمن ژوند ولري.

مګر په یوه مثبت لید سره، یو شمېر ښځو د خپل ښه ژوند او د قناعت وړ ودونو بیان وکړ او د خپلو لوڼو لپاره یې هم د خپلو ځانو په څېر د ښه بخت هیله څرګنده کړه.

مګر ځینې ښځې په دې اند وې چې د پخوا په پرتله د ښځو په ژوند کې د پام وړ پرمختګ راغلی، د بېلګې په توګه، زر بی بي چې د ننګرهار ولایت د کلیوالي سیمې یوه مشره ښځه ده وویل چې ژوند یې د خپلې مور په پرتله ښه دی او هیله یې څرګنده کړه چې د لوڼو ژوند به یې د هغې د ژوند څخه نور هم ښه وي. ددې اساسي وجه یې داسې وښوده چې ښځې زړه ورې شوي او ډېر واک لري. نومورې مېرمن یو روڼ مثال هم وړاندې کړ چې نجونې اوس کولای شي چې د واده وړاندیزونه رد کړي او دا څېر کار یې پخوا نشو کولای[13].

د والدینو د لوڼو هیلو اهمیت د خپلو بچیانو په اړه باید کم ارزښته و نه ګڼل شي. ځکه هغه په ټولنو کې د بدلون چمتووالی او تیاری ښیي. او یوه داسې هیله ښیي چې د هغوي د ماشومانو سره د نومورو موخو په ترلاسه کولو کې همکاري کوي او لکه څرنګه چې لاندې ذکر شوي د تاوتریخوالي څخه ډکې تأدیبي سزاګانې هم باید په ښه نیت سره اداره شي او باید د افغانستان د راتلونکې په اړوند یو ډېر مثبت نظر پیدا شي او کوم معمول تصویر چې وړاندې کېږي باید تکرار نشي.

## ۲.۴ د ماشومانو لپاره هیلې او ارمانونه: زده کړه

زه یو بې سواده سړی یم، که چېرې ما سواد لرلی نو زه به له دومره ستونزو سره نه مخ کېدم لکه چې اوس ورسره مخ یم. زه به باسواده وم او د نیکمرغه علم په واسطه به مې هوسا ژوند لاره... زه کوښښ کوم چې خپل ماشومان ښوونځي ته واستوم ترڅو ښه زده کړه وکړي او له داسې مالي ستونزو سره لاس او ګریوان نشي لکه چې زه ورسره یم.

د ننګرهار ولایت د ښارې سیمې یو د منځني عمر[13] اوسېدونکی

زه هیله منده چې کله زما کوچني ماشومانو لوي شي، هغوي به زده کړې وکړي او بیا به زمونږ غریب هیواد لپاره کارو کړي.

-سپین سری ښځه چې د ننګرهار ولایت په کلیواله سیمه کې یې د ګډې مرکې په لړ کې خبرې کولې

[13] که غواړئ د نجونو رول د هغوي د واده د تصمیم په اړوند ترلاسه کړئ، د (AREU) نشریې ته چې د "د واده او د هغه د رسمونو " په اړوند ده، مراجعه وکړئ.

لکه څرنګه چې څېړنې په اتو مختلفو سيمو کې ترسره شوې، په ټولو دغو سيمو کې د والدينو نظر د خپلو هلکانو او نجونو په اړوند دا ؤ چې هغوي بايد ښوونځي ته ولاړ شي او ښې زده کړې وکړي. دا مفکوره د افغانستان دڅېړنې او ارزونې د ادارې د هغې څېړنې سره سمون خوري چې د زده کړې او په ښوونځي کې د شامليدو په اړوند ترسره شوې وه (پميلا هنتی ۲۰۰۲). په حقيقت کې والدين په عمومي ډول د خپلو ماشومانو زده کړه غواړي او دا هيله لري ترڅو د هغوي ماشومان په رسمي توګه په لوړه کچه ښوونځي ته ولاړ شي.

همدارنګه يو ځل بيا د پميلا هنتی (۲۰۰۲) لاسته راوړنو سره سم، چې بې له کومې استثناء څخه، دا په دې معنی ندی چې خلک ښوونځيو ته خپل ماشومان د دې لپاره نه استوي چې شوق نلري بلکه د ژوند يو لړ فکتورونو په سبب او همدارنګه د مناسبو ښوونځيو شتون په دې اړه يو لوي خنډ دی.

ښه مادی ژوند او د مشرانو خپلې د بې سوادۍ تجربې، يوائيني فکتورونه ندي چې والدين يې دې ته هڅولي وي ترڅو خپل ماشومان ښوونځيو ته واستوي. بلکه نورې ګټې شته چې تصور يې شوی وي، مثلاً د سواد په لرلو سره ماشومان کولی شي چې په راتلونکې کې په خپله ښه والدين شي او بل دا چې زده کړه د ښه سلوک او اخلاقو د زده کولو لپاره ښه وسيله ده.

ځينې ښځو ته چې والدينو ښوونځي ته د تګ اجازه نده ورکړې، اوس د خپلو والدينو په وړاندې د نوموړي محدوديت لپاره د غوسی څخه ډک احساس کوي. ملکه چې په يوه نسبتاً شتمنه کورنۍ کې ژوند کوي او خاوند، ليور او اندرور يې باسواده دي، خپل احساس په لاندې توګه بيانوي:

> زما مور به ماته ويل چې تاسو نجونې ياست، تاسو به واده وکړې او د نورو خلکو کورو ته به لاړې شۍ... اوس زما ورور په نهم ټولګي کې دی او زه خپلې مور ته وايم چې زه به يې هېڅکله ونه بخښم پدې چې ماته يې ښوونځي ته د تلو اجازه نه راکوله.

که څه هم ملکه اوس د خپلو ماشومانو په مرسته ليک لوست زده کوي. د هغې د هڅونو څخه يو داده چې د خپلو ماشومانو سره به د هغوي به کورنۍ وظيفه کې مرسته کوي، نو هغې داسې وويل:

> زما لونې ښوونځي ته ځي نو کله به مې چې له خپلو لوڼو دهغوي د درس په اړوند پوښتل هغوي به راته ويل چې تر دې يا هغې پاڼې پورې مو لوستی، نو که به يې ماته سم لوستل او که ناسم زه نه پرې پوهيدم، نو بيا ما له ځانه سره وويل چې داسې نه کېږي زه بايد ليک او لوست زده کړم نو شروع مې پرې وکړه. نو په سر کې به مې د خپلو لوڼو کتابونه لوستل او بيا مې د خپل خاوند کتابونه لوستل نو زده مې کړ... په کومو کرښو به چې پوه نه شوم نو د هغو لاندې به مې په پنسل کرښه را تاؤ کړه او کله چې لونې مې له ښوونځي څخه راغلي نو له هغوي څخه به مې پوښتل. نو بيا هغوي زما ستونزې حل کولې، نو په همدې ترتيب مې د لومړي ټولګي کتابونه زده کړل. د دوهم ټولګي کتابونه مې هم ولوستل... يوه توره تخته مې له يو څه تباشيرو سره واخيسته او ليکل مې ورباندې پيل کړل... نو لوڼو به مې راته ويل "مورې مونږ خپل حساب دومره نه مطالعه کوو لکه څومره چې ته درې مطالعه کوې".... نو که څوک لږترلږه لوستل وکولای شي نو هغه په اسانۍ سره کولای شي چې خپلې ستونزې حل کړي. ښځې له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږي چې د هغو پوښتنه له نارينه ؤ څخه نشي کولای. ماشومان پدې اړوند ډېره مرسته کوي.

نوموړې له هغو ښځو څخه وه چې ويل به يې چې غواړي لوڼې يې ښې باسواده شي ترڅو په راتلونکې کې ښې دندې ترلاسه کړي.

يو څو ښېلګې د هغو والدينو پيدا شول چې د لورګانو باسواده کول به د هغوي د اقتصاد په خپلواکۍ باندې اغېز ولري، نوموړي مثالونه داښيي چې ځينې خلک د خپلو ماشومانو څخه داسې هيلې لري چې هغه د جنس د اخلاق او کردار د بيان شويو نورمونو څخه لوړې وي.

يو ځل بيا د پميلا هنتې د ۲۰۰۲ کال د لاسته راوړنو سره سم، خلکو به هر کله دا ويل چې د زده کړې په ګټو او فايدو خلکو هغه مهال پوه شول چې نورو هيوادونو ته په مهاجرت باندې اړ شوي ؤ. لاندنی قول د يو ځوان سړي لخوا عملي قول دی چې د کابل د ښارې سيمې څخه دی او د يو ګډ مجلس په دوران کې يې څرګند کړی دی:

> د نجونو لپاره مشکله وه چې خپلو درسونو ته ادامه ورکړي مګر اوس يې کولای شي. پيغلو نجونو ښوونځي ته د تګ اجازه نلرله مګر جګړې د واړه مصيبتونو سره سره ښځو ته دا ازادۍ رامنځ ته کړه چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او بهر ولاړې شي.

د مهاجرت تجربه چې د خلکو د ژوند د بدلون اصلي عامل ؤ او د کلتوري نورمونو په وړاندې چلنج د نوموړی څېړنې په دوران کې یوه مکرره موضوع وه. ددې څېړنې په اتم فصل او په نورو[14] څېړنو کې، په دې اړوند نور تفصيل وړاندې کېږي.

سره لدې چې اکثره خلک د خپلو ماشومانو د زده کړې غوښتنې او ميل لري مګر يو لړ داسې فکتورونه هم شته چې په دې اړوند خنډونه رامنځ ته کړي په ځانګړې توګه د نجونو په زده کړه کې. د کورنيو لپاره تر ټولو لوي خنډ د جنس (نرتوب او ښځي توب) توپير دی. د ماشومانو مسئوليت د خپلو کورنيو د اقتصادي او کورني پاېښت لپاره هم ډېر اهميت لري، چې په لاندې ډول تشريح شوي دي.

په نادره توګه دغه مساله چې زده ګړه د نجونو لپاره مهمه نده، د نجونو پر وړاندی د زده ګړی خنډ ګرځی، اصلي خنډونونه خو، ټولنيزواخلاقي نورمونو په رڼا کې په ډېرو عملي جنبو سره کيږی. د بېلګې په توګه، د عالي ښوونځيو کموالی په خاصه توګه په کليوالو سيمو کې د نجونو لپاره او همدارنګه په ښوونځيو کې د ښځينه ښوونکو نشتوالی. ددې لپاره چې ولې نجونې يو خاص عمر ته د رسېدو وروسته ښوونځي ته نشي تلی ترټولو لوي لاملونه يې داس وښودل شول: هغوي بايد د هلکانو سره درس ونه وايي، په کلي کې د نجونو لپاره عالي ښوونځی نشته، او د ښوونځي لپاره ليرې سيمې ته هم نشي تللی ځکه چې خلک به د هغوي به اړوند څه وايي، او دښوونځي ښوونکي هم نارينه دي.

له زياتره خلکو سره چې خبرې اترې وشوې، د نجونو د لوړو زده کړو د نه پوره کولو تر ټولو لويه ستونزه يې همدا په ګوتو کړه، خو بيا هم ځينې خلکو خپل ناڅرګند نظرونه وښودل. د مثال په توګه، مومن چې د باميان ولايت په ښارې سيمه کې د اشپز دنده لري د هغه مشره لور خپلې لوړې زده کړو ته ادامه نشي ورکولی، نوموړي څېړنې ټيم ته ددې مهم لامل داسې په ګوته کړ:

> هغه جلۍ چې کوژده وکړي د هغې لپاره فکر نه کوم چې ښوونځي ته تلل مناسب وي. که دودونو بدلون وموند نو بيا به هغه ښوونځي ته ولاړه شي – خو اوس پيغلې نجونې هم ښوونځي ته ځي.

له همدې قول څخه معلومېږي چې مومن په لومړي سر کې وايي چې هغې جلۍ ته چې کوژده يې کړي وي ښوونځي ته تلل مناسب نه بريښي، مګر په عين حال کې بې د هغه د شخصي نظر څخه هغه وايي چې د هغه لور نور ښوونځي ته ځکه نه ځي چې د دوديز نورمونو سره سمون نه خوري. او بيا دې ته اشاره کوي چې په حقيقت کې به دا په جنس پورې اړوند نورمونه بدلون ومومي.

نور اشخاص لکه نظيفه چې يوه بې سواده ښځه ده او د کابل د ښارې سيمې په يوه بې وزله کورنۍ کې د خپل بې کاره خاوند، دهغه مور، نهه ورونو او خويندو سره اوسېږي، ټولې هغه ستونزې او ټولنيز فشار چې د نجونو د زده کړې په وړاندې موجود دي، په ګوته کړل، هغې وويل که دا اخلاقي نورمونه له منځه ولاړ شي نو خلک به په خوښۍ سره خپلو لوڼو ته د تلو اجازه ورکړي، او هغې داسې وويل:

> د نجونو لپاره زمونږ رواج دا نه ؤ چې ښوونځي ته ولاړې شي، کله چې زمونږ په سيمه کې يوه کورنۍ رواج تعقيب کړي نو نور خلک يې هم ومني، او که يې ونه مني نو بيا خلک ورپسې خبرې کوي، ځکه خو زما پلار مونږ ته د ښوونځي د تلو اجازه رانکړه.

له همدې معلومېږي چې څنګه ښوونځي ته د نجونو د يو خاص عمر ته د رسېدو څخه وروسته د نه تګ کلتوري نورمونه معمولاً د بيلابيلو

[14] ددغې څېړنې پر بنسټ نور اسناد موجود دي چې د (AREU) مقاله هم په کې شامله ده چې د واده او د هغه د رسمونو بيان او همدارنګه د هغه تأثير په کورني تاوتريخوالي کې بيانوي، او په هغه کې د ترکيب په اړوند مقالې هم راغلي.

شخصي نظرونو سره، په مخالفت کې دي. او ان تردې چې هغه خلک چې زيات محافظه کاره دي، پخپله دغه نورمونه تر پوښتنې لاندې راولي.

له ځينو خلکو څخه چې د څېړنو په لړ کې وپوښتل شول هغو وويل چې له مخکښې يې د هغو اخلاقي دودونو سره چې د نجونو ښوونځي ته د تګ خلاف دي، مبارزه کړې ده. او د خپلو لوڼو سره يې د هغوی د زده کړو په پوره کولو کې مرسته کړې ده[۱۵].

## ۳.۴ په کورنۍ کې د ماشومانو رول او مسئوليتونه

په څلورو واړو ولايتونو کې چې څېړنه ترسره شوه، هلکانو او نجونو په زياتو برخو کې د پيسو په بدل کې او يا د پيسو څخه بغير کار کاوه. په دغو ولايتونو کې لورګانو د دوه سببونو لپاره د کور کارونه ترسره کول، يودا چې د خپلو ميندو سره مرسته وکړي او بل ددې لپاره چې کله هغوي پخپله مېرمني او ميندې شي نو کارونه به يې له مخکښې څخه زده وي. ځينو ميندو به په خپلو لوڼو باندې د کور د کار فشار ددې لپاره کموو چې لوڼې يې په خپلو زده کړو باندې تمرکز وکړي.

يو لړ داسې بېلګې ليدل کېږي چې هلکان د کور په کارونو کې له خپلو ميندو يا ترور سره همکاري کوي دا په هغه صورت کې چې خويندې نه وي او يا خويندې ډېرې زړې وي، هلکانو په عمومي توګه د کور څخه بهر بې پيسو کارونه هم ترسره کول، لکه: د اوبو راوړل، د سونګ لپاره د بوټو او لرګيو راټولول، د کور کوچني کارونه ترسره کول او ياد څارويو پالنه کول. په ځينې وختونو کې چې کورنۍ دوکانونه ولري، نو هلکان د ښوونځي د وخت څخه پرته د خپلو پلرونو سره په دوکاندارۍ کې مرسته کوي.

مګر په زياتو مواردو کې ماشومان د پيسو په بدل کار باندې يا د کور دننه يا د کور څخه بهر بوخت دي. د کابل او باميانو په ښارې سيمو کې هلکان او نجونې دواړه د غاليو په اوبدلو باندې بوخت دي، نجونې د هرات په ښارې سيمو کې د خپلو ميندو سره د بړستنو په جوړولو کې همکاري کوي. د کابل او ننګرهار په ښارې سيمو کې هلکان د سړک په غاړو خوراکي توکي خرڅوي. د يوې کورنۍ هلکانو د هرات د ښارې سيمې د ډوډۍ په يوه پخلنځي کې کار کاوه. نوموړي کارونه په اکثره ځايونو کې د ښوونځي ددندو په خوا کې ترسره کېده. مګر له بده مرغه په ځينو کورنيو کې ماشومان د ښوونځيو څخه ايستل شوي ؤ ددې لپاره چې ټوله ورځ د کورنۍ د اقتصاد د لوړولو لپاره کار وکړي[۱۶].

د څېړنې په شپږو سيمو کې حالت تر ډېره حده برابر ؤ يعني ماشومانو د ښوونځي سره سره کار هم کاوه، مګر ځينې ماشومان ښوونځي ته له سره نه تلل او يوازې د پيسو په وړاندې کار او يا د کور په کارونو کې بوخت ؤ، د يادونې وړ ده چې د پيسو په وړاندې کار کې معمولاً هلکان او د پيسو څخه بغير يا کورنۍ کار کې نجونې لګيا وې. بياهم د هرات يوه کليواله سيمه له دې ډول کار څخه مستثنی وه يعني په نوموړې سيمه کې هېڅ داسې کار نه ؤ چې ماشومانو د پيسو په بدل ترسره کړی وي. يوه تر ټولو لويه وجه يې دا کېداي شي چې د نوموړې سيمې خلک دې ته لېوال ؤ چې د نورو سيمو د خلکو په پرتله شتمن واوسي. يوه بله استثناء د باميان ولايت کليواله سيمه ده چېرته چې زيات شمېر هلکان او نجونې د پيسو په بدل کار کې بوخت ؤ او د غاليو د اوبدلو کار يې کاوه. هغه کورنۍ چې داسې ماشومانو ولري چې د غاليو د اوبدلو کار وکړي، د نغد عايد يوه مهمه منبع ده او د کورنۍ د اقتصاد د پاينېت يو ډول پياوړی کول هم دی. په نوموړې سيمه کې هلکان هم د څارويو په پالنې او د غرونو څخه د سونګ او ګرمولو لپاره خس راټولولو سره د کورنيو د اقتصاد په پاينېت کې خورا مهمه ونډه لري. داسې برېښېده چې د دغه درانه کار د فشار سره سره زياتره ماشومان د کلي ښوونځي ته د ګهيځ لخوا تلل او د ماسپښين او ماښام په مهال به يې کار کاوه.

له دې معلومېږي چې د پاينېت لپاره په اقتصادي کارونو کې د

[۱۵] ددغو نجونو او کورنيو کيسې د دغې اداری په ترکيبي مقاله کې چې د کورني تاوتريخوالي او اړيکو په اړوند دي، په تشريح سره راغلي دي.

[۱۶] د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره اوس مهال د کورني تصميم د نيولو په اړوند څېړنې ترسره کوي چې د ماشومانو د شاقه کارونو د رول په اړوند معلومات ورکوي، چې مقاله به پدې اړوند په ۲۰۰۸ کال کې رامنځ ته شي.

ماشومانو د ونډې اخیستلو څخه پرته کورنۍ د ستونزو سره مخ کېږي. همدارنګه ماشومانو په ځانګړې توګه نجونو د کور دننه د پاییښت په کارونو کې فعاله ونډه لري. اکثره وخت به دا ټینګار کېده چې نجونو باید یوازې ددې لپاره په کورني کارونو کې ونډه وانخلي چې ګواکې هلته او سېږي بلکه ددې لپاره هم زیار وباسي ترڅو هغوی د خپلې راتلونکې لپاره وروزل شي او په راتلونکي کې پخپله ښې مېرمنې، وریندارګانې او میندې شي. د ځواب ورکونکو لخوا داسې ویل کیدل چې په نجونو باندې ددغو روزنو زده کول یو اړین کار دی او ان تردې چې په ځینې وختونو کې باید په زور ورباندې زده شي. سره لدې چې د ماشومانو د کار کولو اړتیا یا په ښتونې ډول او یا هسې په تصور سره لیدل کېږي، مګر زیاتره کورنۍ پدې بریالۍ کېږي چې د پیسو په وړاندې د کار او یا د پیسو کار توازن ښوونځي ته د تلو په پرتله وساتي، ددې لپاره چې اړین پاییښت څرنګه وړاندې کیدلی شي، ځکه زیاتره والدین د خپلو بچیانو د راتلونکې لید پدې مرحله کې له لاسه نه ورکوي.

## ۴.۴ د ماشومانو په روزلو کې د کورنۍ د مختلفو غړو دندې

په کورنۍ کې د نارینه وو او ښځو رول معمولاً ډېر په څرګنده سره بیانیده، چې د سړیانو دنده به د "روزي د ګټونکو" په څېر وه او د کور دننه کار به د ښځو یو ښکاره دنده بلل کېده. (مګر ځینې ښځې بیا داسې نه وې ځکه هغوی د اقتصاد په پاییښت کې هم ونډه اخیسته او کار به یې کاوه او تردې چې ځینې ښځې اساسي روزي ګټونکې وې). مګر بیا هم د ماشومانو د پالنې په اړوند د سړیانو او ښځو دندې تر یوه بریده ښې معلومې دي چې د ماشومانو د اقتصادي ملاتړ چارې، د ماشومانو لپاره د کور دننه کار، د هغوی تربیه او پالنه او همدانګه هغوی ته لارښوونه پکښې شامله ده. کله چې د څېړنې په ګډو ناستو او یا انفرادي مجلسونو کې دا وپوښتل شول چې په کورنۍ کې د ماشومانو د روزنې چارې څوک په غاړه لري نو د څېړنې په اتو واړو سیمو کې به خلکو نومورې دندې د خاوند او مېرمنې ترمنځ ګډې ګڼلې. لومړي دا چې مور او پلادر دواړه برابرې دندې لري او دوهم دا چې مور د پلار په پرتله زیاتې دندې لري، مګر بیاهم پلار ځانګړی رول لوبوي. د یادونې وړ ده، لکه څرنګه چې د میتودولوجي (طرز) په فصل کې ورته اشاره وشوه چې زیاتره سړیانو د ښځو په پرتله خپلې

دندې د بچیانو په وړاندې ډېرې بیان کړې، او همدارنګه کله به چې چا ویل چې د ماشومانو په وړاندې د ښځو او نرانو دندې برابرې دي نو ښځو به باور نه کاوه او دا خبره به ورته ډېره غیر عادي ښکاریده. د ماشومانو په پالنه کې به ښځو ته خپل روزمره کارونه ډېر ښکاریدل، او له بلې خوا سړیانو به داسې سوچ کاوه چې ماشومانو ته د نصیحت او لارښوونې کارونه تر سره کوي. که څه هم سړیانو ته سره لدې چې د ماشومانو مادي اړتیاوې پوره کوي، خپل رول نور هم ډېر مهم بریښي.

کله به چې وویل شول چې میندې د بچیانو په پالنه کې ډېرې دندې لري، نو په ساده ډول به ددې په ځواب کې ویل کېده چې دا ددې لپاره چې میندې د پلرونو څخه ډېرې په کور کې وي. هېڅکله دا نه ویل کیدل چې ښځې د نرانو په پرتله د طبیعي کیفیت لرونکې دي او د ماشومانو لپاره مناسبې پالونکې دي. په راټول شویو معلوماتو کې داسې بیلګه شته چې سړیانو پکښې ویلي وي چې هغوی د ماشومانو په تربیه کې برابره ونډه لري، مګر په حقیقت کې داسې ندي شوي چې په حقیقت کې څومره د ماشوم د پالنې کار ترسره شوی. په لاندینې مثال کې سالمه چې یوه ځوانه ښځه ده او په جلال آباد کې اوسېږي نومورې د خپل خاوند په اړه وایي چې خاوند یې د ماشوم په پالنه کې څومره مرسته ورسره کوي، د سالمې د هغې د خاوند چلند د نورو خاوندانو په پرتله یوه استثناء وبلله:

> زه اتلس کلنه یم او یو ځوی لرم چې نوم یې منان دی، هغه ډېر ښکلی دی او زه ډېره مینه ورسره لرم. زما خاوند هم خوښ دی او مینه ورسره لري. کله مې چې خاوند د شپې په مهال کور ته راشي نو زما ځوی پوهېږي چې هغه یې پلار دی نو غېږ ورکوي او تر دې چې ځینې وخت د خپل پلار سره ویده کېږي، نو مونږ دواړه ډېر خوښ یو.

د کابل په کلیواله سیمه کې یو سړی چې د اته ماشومانو پلار دی، د څېړنې ټیم ته د خپلو ماشومانو په روزمره پالنه کې خپل مهم رول څرګند کړ. هغه د سالمې په څېر د ماشومانو دا ډول پالنه د پلرونو په واسطه یوه استثناء وبلله:

> زه له خپلو ماشومانو سره مینه لرم او زه د هغوی خدمت کوم ځکه چې زما مېرمن ناروغه ده او څه نه اوري، نو زه د سهار په

مهال د هغوي مخونه وینځم او اوبه ورته تیاروم. او همدارنګه زه پدې اند یم چې کوم خلک داسې وایې چې د کور ټول کار باید ښځې وکړي، هغوي غلط نظر لري.

په ټولو ولایتونو کې خلکو د کورنۍ د هغو غړو په اړوند خبرې وکړې کوم چې د ماشومانو د روزلو او پاملرنې دنده پغاړه لري. ځینې خلکو به په ساده ډول ویل چې د کور ټول غړي د ماشومانو په وړاندې مسؤل دي. د راپورونو سره سم د میندو او پلرونو څخه علاوه پلارنۍ نیاګانې هم د ماشومانو په پالنه کې په ځانګړي ډول د هغوي په تربیه کې تر ټولو لوي رول لري. زامنو وویل چې میندو یې د خپلو لمسیانو د پالنې څخه پرته هېڅ ندي کړي. نږورګانو وویل چې خواښې ګانو یې د هغوي سره په هغه وخت کې ډېره مرسته کړې چې ماشومان یې کوچني ؤ، او ډېرې وخت وړوکي ماشومان د خپلو ځانونو سره ویده کوي. د راپورونو سره سم نیکه ګانو هم د پام وړ رول لوبولی، که څه هم د هغوي په اړوند لږ ذکر شوی.

لکه څرنګه چې هیله ورڅخه کېږي، په کورنۍ کې ټول بالغ کسان د ماشومانو د پالنې دنده په غاړه لري. دا د مبارزې (کمپاین) په مهال د نندارچیانو او ګډون کونکو د ټاکلو لپاره ضروري دی یعنې هغه مهال چې د مورتوب او پلارتوب لپاره نورې لارې او چارې لټول کېږي. د ورته سببونو لپاره د پام وړ خبره د سړیانو د مسئولیت احساس د ماشومانو د پالنې لپاره یې څرګندوي. (که څه هم په حقیقت کې د ماشومانو د پالنې ټول بار د ښځو په اوږو باندې دی). هغه رول چې د کورنۍ مختلف غړي یې د ماشومانو د روزلو لپاره په غاړه لري، په ځانګړې توګه د هغوي د ادب په اړه، په ډیره تشریح سره وروسته وړاندې شوی دی

# ۵. د بدني سزا په اړه لیدلورې، ۱: څه منل شوي، څوک وهل کیږي او څوک د تاوتريخوالي د ترسره کولو حق لري.

*د ماشومانو وهل ډېر عام دي مګر دا نبه‌لاره نده، بلکې سل په سلو کې ناوړه کار دی.*

*ـــ د هرات ولایت د ښارې سیمې د یوې مېرمنې خبرې چې د ګډې ناستې په لړ کې یې وکړې.*

د څلورو واړو ولایتونو د کلیوالو او ښارې سیمو د څېړنې په لړ کې د فزيکي سزا په کار وړل د ماشومانو د روزلو د عادي نورمونو په توګه پیژندل کیږي. همدارنګه د ماشومانو د تأدیب لپاره د تاوتریخوالي په کار وړل یوه عامه موضوع ده. دا فصل د تاوتریخوالي ډولونو ته په کتو کوم چې د څېړنې په سیمو کې منل شوي، پیلیږي. او نوموړی فصل هغه اخلاق تر بحث لاندې نیسي کوم چې د بدني سزا په لړ کې اړین ګڼل کیږي او وروسته بیا د خلکو مختلف نظرونه چې بدني سزا د هلکانو او نجونو د تأدیب لپاره ترسره کوي،ښیي. د فصل وروستۍ برخه ښیي چې په کورنۍ کې څوک د تاوتریخوالي د ترسره کولو حق لري او په چا باندې یې لري.

## ۱.۵ د بدني سزا بڼې، ډولونه او شدت

"چې ډب نه وي ادب نه وي" (پښتو متل)

لکه څرنګه چې په مقدمې کې په ډاګه شوه، دغې څېړنې د تاوتریخوالي ګڼ شمېر ډولونه کوم چې د شوخۍ د سلوک په صورت کې په کار وړل کیږي را په ګوته کړلو چې ځینې یې په لاندې ډول دي: په څپیړه وهل، غوږ کشول، کنځل، په لغته یا سوک وهل، په کوتک یا د برق په کیبل وهل او یا په بوټانو وهل او داسې نور. د یادونې وړ ده چې د برق د کیبل په واسطه وهل د کابل او هرات د ښارې او کلیوالو سیمو څخه بهر ډېر کم اوریدل کیدل. په لښته او څپیړه وهل په څلورو واړو ولایتونو کې تر ټولو عامه او کاریدونکې سزا بلل کېده. د ننګرهار ولایت یواځینې استثناء وه چې د ماشومانو په وړاندې د سلاح د کارولو هم په ګوته شوي وه، او هلته د ماشومانو په څپیړه وهلو باندې ډېر ټینګار کېده. په پښو باندې د لښتې په واسطه د ماشومانو وهل هم د ځینې خلکو لخوا د سزا په توګه په ګوته کېده. د ماشومانو د په سوک او لغته او په تیګه وهلو خبرې هم ډېرې کیدې. ماشومانو ته د کنځل خبرې ډېرې نه کیدې، مګر ځواب ورکونکو ته دا د ارزښت وړ نه بریښېده چې د ماشومانو د تأدیب په اړوند د چا پوښتنو ته ځواب ورکړي. نو کله به چې د لفظي غوسې خبره وشوه نو هغوي به په دې ټینګار کاوه چې لفظي غوسه په ښځو کې ډېره عامه خبره ده. د راپورونو له مخې د لفظي غوسې مثالونه ډېر شدید دي.

د مثال په توګه، د بامیانو د ولایت په ښارې سیمه کې د منځني عمر یو سړي وویل چې خپلو ماشومانو ته داسې وایي "په ګور شی او اللهؒ مو رانه واخله". په نورو مثالونو کې د کابل د کلیوالې سیمې یوې بوډۍ ښځې د خپلې نږور په اړوند وویل چې نږور یې خپلو بچیانو ته وایي چې پلار یې ایران ته تللی او هلته مړ دی. د لفظي تیري په څیر ماشومانو ته د تهدیدونې تاوتریخوالي هم پکار وړل کېده، د مثال په توګه د بامیانو د کلیوالې سیمې یو د پوخ عمر اوسېدونکی چې ماشومانو ته فزيکي سزا نه ورکوی د څېړنې ټیم ته وویل چې لور یې داسې تهدید کړه چې و بیې تړې او تر هغه بیې ووهې چې د خوځېدو څخه ولویږې، دا ځکه چې هغې د ګاونډي د لور سره جګړه کړې وه. د سزاګانو ترمنځ کوم توپیر ونه موندل شو مګر یوازې د کلیوالو او ښارې سیمواو همدارنګه د غریبو او شتمنو کورنیو تر منځ لږ څه توپیر موجود ؤ. تر ټولو عام سلوک چې ماشومان دهغو په ترسره کولو سره وهل کیږي(په ځانګړې توګه د نجونو لپاره مګر هلکان هم تر ډیره بریده پکښې راځي) د هغو لړۍ د ماشومانو د تصورشوي جنسي نامناسب[۱۷] والي او غلا څخه پیلیږي ان تر دې چې د ماشومانو د کور دننه او یا دباندې جګړې، خپل ګټور کارونه لکه د غالیو اوبدل په صحیح ترتیب سره نه کول، شوخي کول، ګډوډي جوړول، د خپلو

[۱۷] د افغانانو په اند جنسي نامناسب والی دادی چې د یوه مخالف جنس لرونکي سره خبرې اترې او یا خندا وشي یعني له هغه چا سره چې د یوې کورنۍ غړي نه وي.

جامو چټلول، د کور کار په ښه توګه نه کول، ښوونځي ته نه تلل او د ښوونځي څخه وروسته سبق نه ويل، پکښې شامل دي. دا نظريه چې د ماشومانو شوخي او منډې رامنډې بايد ونه زغمل شي، يوه عامه نظريه وه. د مثال په توګه د ننګرهار ولايت د کليوالې سيمې يوې بوډۍ ښځې وويل چې ماشومان د وهلو سره روږدي شوي او که و نه وهل شي نو نه ويده کېږي. د ماشومانو داسې سلوک چې د کورنيو د نوم بدوالي سبب ګرځي هم د کورنيو د زغملو وړ ندي. ځينې والدينو خپل ماشومان هغه مهال وهل او ټکول چې د ميلمنو له وړاندې به يې بې احترامي او شوخي کوله او مشر به يې ميلمه ته د خبرو په مهال تنګول، او د ميلمه په مخ کې به يې لوبې کولې. دنجونو لپاره د جنسي نامناسب والي څخه علاوه، که به يې د کور کار په ښه توګه نه ترسره کاوه د ميندو د تاوتريخوالي ښکار کيدې. (هغه ليد چې کوم ډول تاوتريخوالی د ماشومان په څه ډول سلوک کې د منلو وړ دی، په تشريح سره په دې فصل کې راغلی چې وروسته به ورباندې تير شو. )

په ماشومانو باندې تاوتريخوالی د هغوي د تأديب او تربيې لپاره د ډېر کم عمر څخه پيليږي. لکه چې د شلو کلو په شاوخوا عمر کې يوه ښځه چې د هرات ولايت د کليوالې سيمې اوسېدونکې ده د خپلو دريو وړوکو بچيانو په اړوند وايي:

> کله چې زما زوي بې ځايه اوبه ضايع کړي نو زه يې وهم ځکه چې په سختۍ سره اوبه راوړل کېږي، او يا يې هغه مهال وهم چې ګډوډي وکړي او يا خپلې جامې چټلې کړي... زما مشر زوی درې کلن دی او زما دوهم زوي وړوکی دی.

د دوه يا دريو کلو په عمر ماشومانو ته د سزا ورکولو ټينګار د څېړنې په لړ کې د نورو خلکو لخوا شوی ؤ.

د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي شدت ته په اشارې ځينې ټولنو داسې وويل چې د سزا ورکولو په مهال کېداي شي ځينې ماشومان کلک ټپي او يا له منځه ولاړ شي. د کابل په ښارې سيمه کې يوې بوډۍ ښځې د نورو بوډۍ ښځو سره د يوې ګډې ناستې په ترڅ کې وويل چې خلک بايد خپل ماشومان داسې ونه وهي چې په غلطۍ ورڅخه ووژل شي. داسې نمونې وړاندې شوې چې والدينو خپل بچيان سخت ټپيان کړي ؤ. يو سړي د ځوانانو سره د يوې ګډې ناستې په ترڅ کې وويل چې خلک نجونې او ښځې د دارو درملو د لوړو بيو لپاره ډېرې نه وهي:

> هيڅ څوک خپلې ښځې او لوڼې نه وهي ځکه چې لاسونه يا خپې يې ماتيږي او د دارودرملو بيې هم لوړې دي. ځکه مونږ بې وزله يو او مونږ نشو کولای د هغوي د دارو درمل د توان څخه ووځو.

بصيرت د منځني عمر سړی چې د دريو ماشومانو پلار دی او د هرات د ښارې سيمې اوسېدونکی دی غواړي چې خلکو ته نصيحت وکړي چې څرنګه د ماشومانو د وهلو ټکولو څخه ځان وژغوري:

> دا نورو ته زما نصيحت دی چې: تاسو کولای شئ خپل ماشومان په لښته ووهۍ ځکه په لښته وهل هغوي معيوب نه بلکه يوازې سخت يې دردوي.

ځينې وخت د ګډو ناستو په مهال خلکو د هغه تاوتريخوالو په اړوند خبرې کړې وې چې په خپلو ماشومانو يې ترسره کړې وې. د بېلګې په توګه د ننګرهار ولايت د ښارې سيمې يوې د پاخه عمر مېرمنې وويل چې خپله لور يې د سر په شاوخوا کې وهلې وه او د څو کلو په تيريدو سره د هغې لور د سر د خوږو څخه شکايت کاوه. هغې وويل چې اوس يې داسې پريکړه کړې چې بيا به ماشومان په سر نه وهي. د کابل په ښارې سيمه کې د غريبې کورنۍ يوې پخې ښځې د يوې ګډې ناستې په مهال د خپلې لور هغه کيسه وکړه چې څرنګه يې هغه په خوله باندې وهلې وه او خوله يې ورباندې وينې کړې وه. همدارنګه د کابل په کليواله سيمه کې د غريبې کورنۍ د پاخه عمر يو سړي چې د اتو ماشومانو پلار دی د خپل هغه ځوان زوي کيسه کوي چې په خوله باندې وهلی ؤ او خوله يې د وينو څخه ډکه وه. همغه سړي وويل چې خپل ماشومان معمولاً په لښته وهي، وروسته بيا د همدې ګډې ناستې به مهال همغه سړي پدې ټينګار وکړ چې د ماشومانو د وهلو سره موافق ندی. دا ددې ښکاره نمونې دي چې څرنګه د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالي ته مخه کېږي. خلکو په لويو ناستو کې دا ومنله چې د خپلو ماشومانو په وړاندې ډېر توند دي، مګر په عين وخت کې تاوتريخوالی د منلو وړ نه بولي. دا ډول اختلاف چې د خلکو د نظر او عمل په مينځ کې موجود دی يعني په عمل کې يو څه کوي مګر په فکر کې بل څه، په شپږم فصل کې په ډاګه شوی دی.

پورتني مثالونه هغه تاوتریخوالی ښیي چې په ماشومانو باندې تحمیل شوی دی. مګر د یادونې وړ دی چې دداسې لارو لټون چې پکښې په ماشومانو باندې ډېر درد تحمیل شي او یا لکه چې په مخکښینیو مثالونو کې وویل شو ماشومانو ته دې حده ووهل شي چې هډوکي یې مات، په عمومي توګه هېڅ د منلو وړ نه دی (په شپږم فصل کې هم پدې اړوند پلټنه شوې ده).

## ۲.۵ د هلکانو او نجونو د بدني سزاګانو توپیر

په انفرادي مرکو او ګډو ناستو کې خلکو په علاقمندۍ سره ویل چې د نجونو او هلکانو لپاره ورته بدني سزاګانې په کار وړل کېږي ترڅو هغوي تأدیب شي. همدارنګه هغوی ټینګار کاوه چې د تأدیب په برخه کې په عمومي توګه د نجونو او هلکانو سره یوشان چلند کېږي. سره له دې، دا د بحث وړ خبره ده چې ډېرې مهال نجونې د وهلو ټکولو ښکار ګرځي که هلکان. په عمومي توګه د راپورونو له مخې هلکان د نجونو په پرتله ډېر وهل کېږي، خو د یادونې وړ ده چې ځوانان پدې اړه ډېر زور احساس درلود او د هغوی نظر ښایي چې د تاوتریخوالي څخه د هغوی د تجربو پر بنسټ ولاړ وي. د هلکانو او نجونو ماشومانو سره د برابر چلند په اړه د عمومي تایید په رڼا کې، د نجونو په تناسب د هلکانو د زیاتو وهلو دلیل دا دی چې هلکان د انجونو په پرتله ډېر شوخ او نامنونکي دي ځکه چې هغوی ته د شوخۍ فرصت ډېر په لاس ورځي لکه څرنګه چې مخکې وویل شو چې د هلکانو او نجونو په وړاندې ورته سلوک کېږي، نو دلته دلیل دا دی چې هلکان ځکه د نجونو په پرتله ډېر وهل کېږي چې هغوي شوخ وي او د شوخي موقع ډېره ورته برابریږي. یو څو داسې بېلګې چې د هلکانو په پرتله د نجونو په وهل او ټکولو یې تاکید کاوه، د ښځو (دواړه د ځوانو او زړو) لخوا وړاندې کیدې هغه د ګوتو په شمېر یو څو داسې مثالونه چې پکښې راغلي ؤ چې نجونې د هلکانو په پرتله ډېرې وهل کېږي، یوازې د ځوانو او زړو ښځو لخوا ویل کېده. امکان لري چې اکثره سړیان له هغو تاوتریخوالو څخه ناخبره وي چې د هغوي ښځې یې په کورونو کې د لوڼو په وړاندې ترسره کوي. نو له همدې کبله به ځینو ښځو د نجونو د تاوتریخوالي کچه زیاته ښوده.

هلکانو او نجونو ته تر یوه بریده د مختلفو کړو وړو پر اساس سزا ورکول کېږي، د مثال په توګه هلکانو ته معمولاً د جګړو کولو او یا د درس نه ویلو لپاره سزا ورکول کېږي او نجونو ته تر ډېره بریده پدې سزا ورکول کېږي چې د کور کارونه په ښه توګه تر سره نکړي. د ځینو خلکو په ځانګړې توګه د زړو سړیانو په اند نجونې د هلکانو په پرتله ځکه کمې وهل کېږي چې هغوي کمزورې، د رحم وړ او ویریدونکې دي.

## ۳.۵ په کورنۍ کې څوک د ماشومان د وهلو حق لري؟

دا برخه ښیي چې څوک د ماشومانو د وهلو مستحق ګڼل کېږي. مګر د هر څه دمخه دا واضح کېږي چې د ماشومانو په وړاندې د تاورتریخوالي *حق لرل* په څه معنی دی. د خلکو لخوا چې په کورنۍ کې یو شخص، د موقف له لحاظه، داسې ګڼل کیږي چې د ماشومانو د وهلو حق لري، او دا چې خلک له اخلاقي لحاظه هغه منصفانه او منلې ګڼي، دا دواړه سره توپیر لري. د دې خبرې د لا واضح کولو لپاره د یوې ښځې خبرو ته ګورو، نوموړې ښځې د یوې ګډې ناستې په مهال وویل چې هغه حق لري چې خپل بچیان او لمسیان ووهي او ان تردې چې د وژلو حق یې هم لري. خو د هغې هدف دا ندی چې د اخلاقو له پلوه د مور لپاره د ماشومانو وژل ښه کار دی.

لکه څرنګه چې ددې څېړنې په ترڅ کې مونږ ته جوته شوه چې په کورنې تاوتریخوالي کې نارینه د نورو په پرتله خپل ځان ډېر مستحق ګڼي چې توند واوسي او په نورو[۱۸] تاوتریخوالی ترسره کړي. ماما، کاکا، مشران ورونه، پلرونه او نیکونه ټول ددې مستحق ګڼل کېږي چې ماشومانو ته کلکه سزا ورکړي. کوچني ورونه هم په خویندو باندې د توندي کولو حق لري. د معلوماتو سره سم ځوم حق نلري چې د خپل خسر په کور کې د هغوي ماشومان ووهي.

د ماشومانو په وړاندې توند چلند د یو لړ مسئولیتونو سره تړلی دی لکه څرنګه چې یوه ځوانه ښځه یې په ننګرهار کې داسې بیانوي چې لیور یې کولای شي د هغې ماشومان ووهي ځکه چې هغه د هغوي

[۱۸] د کورنۍ د اړیکو او تاوتریخوالو په اړوند د دغه اداري راټلونکې ترکیبي خپرونه وګورئ او همدارنګه هغې مقالې ته ځیر شی چې د واده او د هغه د رسمونو په اړوند ده.

خيال ساتي او مينه هم ورباندې کوي. د کاکا او نيکونو څخه معمولاً دا توقع وه چې د ماشومانو په تأديب کې رول ولوبوي.

داسې ښکاري چې ورونه د خويندو په تأديب او د هغو د سلوک په څار کې ډېر غټ مسئوليت لري، او ورونه بايد ډاډمن شي چې خويندې يې د جندر د توقعاتو سره سم کړه وړه کوي. د پام وړ نمونه يې د کابل د ښار يو شل کلن اوسېدونکی (شکيب) دی (په لوړۍ ضميمه کې د کورنۍ ۲مه نخشه وګورئ). شکيب د شکيلا زوی يو مجرد هلک چې د پوهنتون زده کونکی دی. هغه د مور او پلار په ګډون د کشرې ۱۷ کلنې خور او څلورو کشرانو ورونو سره اوسېږي. هغه درې خويندې لري چې د هغه څخه کشرې دي او ټولو ودونه کړي او د خپلو خاوندانو د کورنيو سره يوځاي اوسېږي. همدارنګه له هغوي سره په يوه انګړ کې د هغه کاکا او ښځه يې ملالۍ او دهغوي شپږ لونې او درې زامن اوسېږي. نوموړې کورنۍ نسبتاً شتمنه ده. د شکيب پلار يو دولتي مامور دی او د هغه کورنۍ په کابل او ننګرهار دواړو کې حاصل ورکونکې ځمکه لري، او همدارنګه په محلي بازار کې يو دوکان لري. د هغه کاکا چې له هغوي سره په يوه کور کې اوسېږي هم يو دولتي مامور دی. د کورنۍ ټولو غړو د دواړو نسلونو په ګډون نهه کاله زده کړې کړې دي. د شکيب خويندو د هغه د مور په څېر بايد د واده څخه وروسته ښوونځی پرېښی واي.

د شکيب مور هغه حقونه په ډاګه کړل چې زوي يې پدې اړوند په خپلو خويندو باندې لري:

> زما زوي خپلو خويندو ته دا اجازه نه ورکوي چې ښوونځي او يا بهر ته د تګ په مهال لنډې جامې واغوندي او که چېرې يې له امر څخه سرغړونه وکړي نو ببيا يې وهي. څو ورځې وړاندې زما لور په اشپزخانه کې پيرکي پخول نو پدې مهال زما زوي له پوهنتون څخه راغي او اشپزخانې ته ننوت او يو پيرکی يې واخيست نو کله چې زما لور وليد نو ورباندې چيغې يې وکړې او هغه لوښی چې پيرکي يې پکښې پخوله ويې غورځول نو کله چې زما زوي د هغې عکس العمل وليد نو يو کيبل يې راواخيست او زما لور يې دومره کلکه ووهله چې لاسونه او پښې يې شنې شوې، نو ما ورته وويل ډېره ښه ويې وهه ځکه چې هغې ستا درناوی ونکړ. چې نن هغه د خپل ورور درناوی نه کوي نو سبا هغه د خاوند کور ته ځي او د خپلې خسرګنۍ درناوی نه کوي. زما زوی ژبه کول نه خوښوي نور بايد د هغه خبر ومني او چې ويې نه منې نو زوی مې په غوسه کيږي.

يو بل ورته مثال چې د باميان ولايت د کليوالي سيمې څخه دی. مومنه د جمعه علي د دوهمې مېرمنې لور دی (د کورنۍ ۳مې نخشې ته ځير شئ) هغه له خپلې مورسره او سېږي چې مور يې له جمعه علي او د هغه له دوه نورو مېرمنو څخه بيله اوسېږي. هغوي نسبتاً يوه شتمنه کليواله کورنۍ ده چې ځمکه، څاروي او يوه ژرنده لري. لکه څرنګه چې د مومنې مور پخپله زوي نلري نو د مؤمنې ميرې زيونه داسې ګڼي چې ګواکې مؤمنې ته د سرپانو د درناوي په ښودلو کې مهم رول لوبوي. لکه څرنګه چې په يو مرکه کې هغې داسې وويل:

> ما هغه ووهله يوازې ددې لپاره چې له خپل ورور سره يې بحث کاوه. د بېلګې په توګه، تېر سهار د هغې مشر ورور ورڅخه وغوښتل چې جرابې يې وګنډي مګر مؤمنې ورته منفي ځواب ورکړ او ورته يې وويل چې "پخپله يې وګنډه، اوس پخپله ښځه لرې، ښځې ته دې ووايه چې·دا کار درته وکړي. "... کله چې ما واوريده چې هغه د خپل مشر ورور سره په دې ډول خبرې کوي نو ما هغه ووهله "ته خپل ورور ته داسې ځواب ورکوي او د هغه خبره نه منې؟ "

مشر ورونه هم حق لري چې خپل کشر ورونه ووهي، يو سړی د باميانو د کليوالي سيمې څخه وايي چې کله ماشوم ؤ نود هغه ۱۵ کلن ورور به ډېر واهه. هغه وويل چې د هغه د ورور وهل به ضرور د هغه د ګټې لپاره ؤ. نو هغه د خپل ورور څخه خوښ دی چې وهلی يې دی. همدارنګه نذير د ۲۱ کلو په عمر سړی وايي چې خپل کشر مير زوی وهي او وايي چې پدې وياړي چې خپل ورور وهي، دا ځکه چې ورور يې ښه سلوک وکړي او د هغه ښه نوم ته زيان ونه رسوي.

له بل پلوه د کم عمر سړي کولای شي چې د خپلې کورنۍ يو شمېر زيات ماشومانو ووهي او توندي ورباندې وکړي، داسې برېښي چې ښځې يوائې په خپلو ماشومانو که نجونې وي او که هلکان د وهلو حق لري او همدارنګه حق لري چې د خپلو بچيانو بچي (لمسيان) هم ووهي. يو لړ استثناأت موجود ؤ چې مشرې خويندو کولای شو چې

کشرې خويندې ووهي او همدارنګه بله استثناء دا وه چې يورګانو کولای شول يو د بل بچيانو ته سزا ورکړي.

د ښځو د توندوالي حق يوازې د هغوي په مورتوب کې نغښتی يعني ښځې يوازې په خپلو بچيانو تاوتريخالی ترسره کولای شي، لکه څرنګه چې د کابل د کليوالې سيمې يوه د پاخه عمر ښځه ورته داسې اشاره کوي:

> يوه مور حق لري چې خپلې لوڼې ووهي ځکه چې هغه يې پخپله زيږولې مګر د نرېندو د وهلو حق نلري.

او يا همدارنګه د باميانو ولايت څخه يوې مور وويل چې که کومه ښځه خپل نرور وهي نو ټولنه به يې ملامته کړي او بد به ورپورې ووايي:

> که چېرې يوه مور خپله لور وهي او يا ورته په غوسه کېږي نو خلک يې بد نه ګڼي او که چېرې خپله نرور وهي نو د خلکو په وړاندې ډېر بده ښکاري. او خلک به وايي چې فلانۍ هره ورځ خپله نرور وهي.

د يادونې وړ ده چې دلته د عمومي نظرونو ترمنځ يو وړوکی اختلاف رامنځته کېږي چې خوانبې حق نلري چې نرور ووهي[19]. همدارنګه دا حقيقت چې ښځې حق نلري چې خپلې نرورګانې ووهي، پدې معنی ندی چې ورته پيبښې نه رامنځته کېږي.

د مؤمنې مور دا هم تشريح کړې چې ولې خپل بنزې نه وهي، ددی لپاره چې هغه يې خپل ماشومان ندي:

> نه، ما هېڅکله هلکان ندي وهلي ځکه چې هغه د بل چا بچيان دي، او که زه هغوي ووهم نو په اخرت کې يې بايد ځواب ووايم.

## ۴.۵ د هغه زيان پيژندل چې ماشومانو ته د تاوتريخوالي په مټ رسېدلی وي

سره له دی چې د مرکه شويو اشخاصو تر منځ يو عام توافق وو چې د هغوی په ټولنه کې د ماشومانو پر وړاندی تاوتريخوالی عام وو، خو همدارنګه هغوی په دی هم پوهيدل چې فزيکې تاوتريخوالی ماشومانو ته ضرر ور رسوی. يوازې اوږدمهاله يا لنډې ماله فزيکې زيان څخه اګاه نه وو بلکه په دی هم پوهيدل چې د ماشومانو پر وړاندی تاوتريخوالی هغوی ته رواني زيان هم ور رسوی. لکه څرنګه چې د باميانو د کليوالې سيمې يو سړې يې داسې راپه ګوته کوي: "ماشومان بايد ووهل شي مګر دومره نه چې هغوي ته بدني يا روحي ټپ او زيان ورسيږي."

په ځينې ډېرو افراطي مثالونو کې داسې کيسې هم شته چې والدينو د تاوتريخوالي په مهال خپل بچيان معيوب کړي او ان تردې چې ځينې يې د وهلو په مهال په غلطۍ سره وژلی هم دی. د بېلګې په توګه د سړيانو يوې ډلې د کابل د ښارې سيمې څخه هغه کيسه وکړه چې څرنګه يو ماشوم د پلار د وهلو څخه د تېښتې په مهال د خپل کور د بام څخه راغورځيدلی ؤ. همدارنګه د يوې ګډې ناستې په مهال د باميانو ولايت د کليوالې سيمې څخه د پاخه عمر لرونکو سړيانو د يوه هلک کيسه وکړه چې پلار يې په ښاخۍ وهلی وه ددې لپاره چې په پټيو کې يې ښه کار نه کاوه، او دا خبره يې په ډاګه کړې وه چې هلک څومره ټپي شوی ؤ. نو اوس هغوی د سړي ددې ډول سزا زيان او پيغور په خپله ويني، ځکه چې زوی يې بالغ بلکه معيوب دی او هيڅ راز فزيکې کار نشي کولای.

د تاوتريخوا د لړو فزيکې اغيزو بڼې هم څرګنده شوی. د مثال په توګه د ننګرهار په کليواله سيمه کې يوې د پاخه عمر ښځې د يوې ګډې ناستې په مهال د څېړنې ټيم ته وويل چې خاوند يې څرنګه د هغې زوی په کوچنيوالي کې د سر په شاوخوا کې وهلی ؤ. هغې دا په ډاګه کړه چې څرنګه يې نوموړی بالغ زوي اوس د سر په پرله پسې خوږو اخته دی چې مور يې دا ټول د هغه د پلار د وهلو لامل ګڼي. او دا چې اوس د

---

[19] ددې لپاره چې د خوانبې او نرور د اړيکو په اړوند زيات معلومات ترلاسه کړی نو د دغه اداری هغې راتلونکې ترکيبې مقالې ته ځير شی چې د کورنۍ اړيکو او تاوتريخوالو په اړوند دی.

هغې خاوند خپلو کړو باندی پښیمانه دی.

د ګډو ناستو په مهال د بدني سزا روحي او احساساتي اغېزې جوتې شوې. د مثال په توګه د بامیان ولایت په ښارې سیمه کې یو د پاخه عمر سړي روښانه کړه چې په خپله سیمه کې د یو لیوني سړي په اړوند څه معلومات لري. او غوښتل یې چې د نوموړي سړي د لیونتوب سبب معلوم کړي، نو بیا په دې پوه شو چې د نوموړي سړی د لیونتوب سبب دا ؤ چې د ماشومتوب په وخت کې ډېر وهل شوی ؤ. ځینو نورو داسې راپور ورکړ چې د ماشومانو زیات وهل او ټکول د هغوي د زیان سبب ګرځي. همدارنګه اصغر د بامیان ولایت د ښارې سیمې اوسېدونکی چې د کم سواد څښتن دی وایي چې د ماشومانو وهل د هغوي د ځیرکۍ د له منځه وړلو سبب ګرځي. نوموړي خپله کیسه وکړه چې پلار به یې څرنګه وهل کول او د هغه وهلو به زما په زده کړې باندې څومره بده اغېزه لرله. یو بل د منځني عمر سړي چې محمد حسن نومیده خپله شخصي کیسه وکړه چې درې کوچني زامن لري او داسې راپور ورکوي چې ډېر کله کله خپل زامن وهي، مګر ویې ویل کله چې حوصله یې تنګه شي نو خپل کوچنی زوي په زوره په مخ په څپیړه وهي. مګر نوموړي وویل چې پس له هغې یې بچیانو خپل زړه ورتوب او اعتماد له لاسه ورکړی، محمد حسن اوس کوښښ کوي چې خپل ماشومان وهڅوي او اعتماد یې بیا پیاوړی کړي.

د اوړد مهاله زیان په اړوند چې ماشومانو ته د تاوتریخوالي په وسیله رسېږي د بامیانو دښاري سیمې دوه ښځو تبصرې وړاندې کړې. لمړۍ یې د بامیانو د ښار اوسېدونکې ګل جان وه چې ځوانه ښځه او د پنځو زامنو او یوې لور مور وه هغې وویل که په خپل کور کې یې لور وهل کېږي نو د هغې ژوند به د خاوند په کور کې چې د هغې راتلونکی کور دی، څرنګه وي. بله ښځه چې په یوه غریبه کورنۍ کې اوسېږي چې نوم یې فوزیه او د همغې سیمې اوسېدونکی ده هم د ګل جان په خبره په صراحت سره ټینګار کوي. هغې پدې اعتراف وکړ چې د خپلې لور سره یې ژور زور زیاتې ددې لامل شو چې لور یې د ټول عمر لپاره د تاوتریخوالي ښکار شوه:

> که یې زه ووهم نو کله چې واده وکړي خاوند به یې هم ووهي. که یې زه ووهم نو د هغې خاوند ، ندرور، خواښې او خسر بې هم په خپل کور کې ووهي او زما لور به مظلومه شي.

د همدغې ښځې خاوند حسن زوار هم وویل چې ماشومانو ته د تاوتریخوالي په مټ ادب ورکول ښه کار ندی. هغه د تاوتریخوالي څخه په ډکې کورنۍ کې لوي شوی دی او د خپل کاکا لخوا یې ډېر سخت تاوتریخوالي ګاللي دي. سره له دې چې دغه دوه والدین د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي سره مخالفت څرګندوي مګر بیاهم حسن زوار وویل چې مېرمن یې خپل ماشومان ډېر سخت وهي او نوموړي وویل چې هغه پخپله هم ماشومان په څپیړه وهي او وایي چې درې ځلې یې خپل زوي دومره سخت وهلی چې اوس هم پښیماني دی. د خلکو دا نظر چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي سره موافقه نلري او هغه څه چې په ربښتوني ډګر کې رامنځ ته کېږي په راتلونکي فصل کې په ښکاره ډول سره په ګوته شوي دي.

پدې فصل کې دا راغلي چې په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی منل شوی دی. نو ځکه خلکو د ګډو ناستو په مهال د ګڼ شمېر سخت تاوتریخوالو ډولونه چې د خپلو ماشومانو په وړاندې یې ترسره کړی دی، په ګوته کړل. همدارنګه دا په کې په ګوته شوی چې د بدني سزا په مهال د هلکانو او نجونو سره برابر چلند کېږي که څه هم د خلکو نظرونه پدې اړوند د هلکان او نجونو په وهلو کې توپیر لري. په نوموړي فصل کې دا هم راغلي چې په کورنۍ کې څوک په چا باندې د وهلو حق لري او په پاي کې یې جوته کړې چې د کورنۍ نارینه غړي نسبت ښځو ته د ماشومانو په وړاندې د تندوالي د ترسره کولو زیات حق لري او ښځې په عمومي توګه یوازی په خپلو ماشومانو باندې د تاوتریخوالي د ترسره کولو حق لري. په پاي کې راغلي چې سربیره په دې چې لهِ ډېره وخته تاوتریخوالی ادامه لري مګر بیا هم د څېړنې په مهال زیاتره خلک پدې پوهیدل چې هغه تاوتریخوالی چې د ماشومانو په وړاندې په مختلفو ډولونو ترسره کېږي، ډېر زیانمن دی. د زیان په اړه دا معلومات د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه رامنځ ته شوی، او بې له شکه هغو خلکو ته خبرتیا ورکوي چې د بدني سزا په اړوند بل ډول نظرونه لري، او هغه په راتلونکي فصل کې په وضاحت سره په ګوته شوي دي.

# ۲. د بدني سزا په اړوند لیدلوري: د حقایقو او تصوراتو اختلاف

لکه څرنګه چې په تېر فصل کې د تاوتریخوالي بڼې او ډولونه بیان شو مګر په دې فصل کې دا بیانېږي چې څه ډول تاوتریخوالی د منلو وړ دی او دا هم په ګوته کېږي چې ایا تاوتریخوالی د ماشومانو د تأدیب لپاره د منلو وړ دی که نه. په دې اړه د خلکو نظرونه توپیر لري، او پدې کې هم د نظرونو توپیر دی چې د اخلاقو له پلوه د ماشومانو لپاره کومه سزا مناسبه ده. د پام وړ خبره ده چې ځواب ورکونکو ته باید هیڅ ډول تمایل د هغوی د عمر، جنس، علمي حالت، یا د ژوند له پلوه چې په ښار یا کلي کې اوسي، ورنه کول شي. مګر د هغه پرځای د خلکو خاصیتونه او د ژندانه تجربې د خلکو په نظرونو کې ځانګړی رول لري. له کومه چې د خلکو څخه د لاسته راوړل شویو معلوماتو تر منځ توپیر موجود، هغه ته هم اشاره کېږي.

نه یوازې دا چې د افرادو ترمنځ د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالی په هکله نظریې او انګېزنې توپیر لري او مبهمې دي او سره مخالفت لري، بلکه زیاتره وخت پدې کې هم توپیر وي چې خلک په مختلفو وختونو کې څه وایي او څه ډول سلوک کوي. خلک په تکرار سره وایې چې هغوی د ماشومانو وهلو سره موافق ندي او بیا به یوه کیسه را پیل کړي چې څرنګه یې خپل ماشومان وهلي دي. دا فصل دغه مخالفتونه څرګندوي او د هغو د موجودیت د لاملونو پلټنه کوي، دا پدې موخه چې څرنګه مختلف اژانسونه مداخله کولای شي چې د ماشومانو په وړاندې چلند ته تغیر ورکړي.

د بدني سزا په اړوند د ټولنې بحثونه په درې ډولونو وېشل شوي دي. ځینې په دې اند دي چې بدني سزا باید یوازې د وروستۍ هڅې په توګه پکار واچول شی، دوهم نظر دادی چې په عمومي توګه بدني سزا د منلو وړ دی، او دریمه طبقه پدې اند دي چې هر ډول بدني سزا د منلو وړ ندی. دغه درې نظریې دی اختلاف ته په پام سره چې خلک بیا بیا څه وایې، او د هغوی د بیانونو او څه چې په حقیقت کې په کورنیو کې تر سره کیږی تر منځ بی ثباتی، لاندی په صراحت سره د څېړنې لاندې نیونیسی. د یادونې وړ ده چې خلک د ګډو ناستو په مهال زیاتره وخت موافقې ته نه رسېدل، ان تردې چې د ډېر ورته ټولنیز او اقتصادي او تعلیمي شخصیتونو تر منځ د ماشومانو د بدني سزا د منلو په اړوند مختلف نظرونه لرل.

## ۱.۲ بدني سزا د وروستۍ وسیلې په توګه

د هر ډول ټولنیزه اقتصادي او توکمیزو ډلو عمومي نظر دادی چې د ماشومانو په وړاندې بدني سزا باید یوازې هغه مهال د تأدیب په توګه وکارول شي چې لفظي خبرتیاوې ونه منل شي. د کابل په کلیوالې سیمه کې ځینې د پاخه عمر خلک پدې اند دي چې وړاندې تر دې چې ماشومان ټکول کېږي او یا په لښته وهل کېږي، باید هغوي ته دوه یا درې ځلې لفظي خبرتیاوې ورکول شي:

> لومړي مونږ باید هغوي ته نصیحت وکړو، بیا خبرداری ورکړو او د دریم ځل لپاره ورته بیا نصیحت وکړو نو که بیا یې هم ونه منله نو بیا یو کمربند او یا لښته را اخلو او وهل ورکوؤ خو دومره یې نه وهو چې د بدن کوم غړی یې مات شي.

نور خلک هم لکه د ننګرهار ولایت د ښارې سیمې د دغې ښځې په څېر چې پنځه بچیان لري او پدې اند ده چې ماشومانو ته نصیحت کول د تل لپاره یوه ډېره اغېزمنه چاره ده مګر بیاهم که نصیحت وربانديې اغېز ونکړي او داسې یو کار ترسره کړي چې ډېر خراب وي نو بیا باید په څپېړه ووهل شي:

> زه ګمان کوم چې نصیحت غوره لار ده، ځکه چې د ماشومانو وهل هغوي نور هم خرابوي. که چېرې یو ډېر خراب کار وکړي نو کولای شو چې هغوي په څپېړه ووهو ددې لپاره چې هغوي وډار کړو چې نومورې تېروتنه بیا تکرار نکړي، مګر د لومړي ځل لپاره باید هغوي ته نصیحت وشي، که چېرې هغوي په خپله تېروتنه پوه شي نو باید ونه وهل شي. ماشومان د ګلونو په څېر نازک دی که چېرې ووهل شي نو د هغوي په بدن او مغزو باندې به ډېره بده اغېزه وکړي او هغوي به د څه د زده کولو توان و نه لري.

له همدې کبله زیاتره خلک په دې اند دي چې تاوتریخوالی باید د وروستۍ وسیلې په توګه وکارول شي. که څه هم په ناستو کې د خبرو اترو په مهال د زیاترو نظر دا ؤ چې تاوتریخوالي ته باید یوازې هغه

وخت مخه شي چې نصیحت اغېز ونلري. خو بیاهم د ماشومانو په وړاندې ځانګړې اوښتل شوي نظرونه موجود ؤ چې د تأدیب لپاره یې ژور تاوتریخوالی یوائینی. سزا بلله. که څه هم دا موضوع تر ډېره حده و نه څیړل شوه (ځکه چې ورته پیښې په زیاتره کورنیو کې ډېرې عامې ندي)، جنسي تیروتنې (د بیګانه سره تماس) تر ټولو ډېرې د سزا وړ بلل کیدې. د مثال په توګه، د بامیانو په ښارې سیمه کې د پاخه عمر د ښځو یوې ډلې وویل چې که چیرې یې لوڼې د داسې کار د ترسره کولو تکل وکړي نو هغوي به خپلې لوڼې دومره ووهې چې په راتلونکې کې به ورته کار ته هېڅ زړه ښه نکړي، یعني بیا به هېڅکله د پردیو سره ټوکې او خبرې و نه کړي. د همدې ناستې په مهال یوې بلې ښځې وویل چې د ماشومانو ددې ډول سلوک وروستی. سزا مرګ دی.

> کله چې یو زوي د پردی. لور سره کوم ناوړه کار وکړي او یا بر عکس کومه لور د چا د زوي سره څه اړیکې ولری نو پدې صورت کې هغوي ډېر سخت وهل کېږي... کله چې د چا زوي یا لور کومه تیروتنه لکه جنسي اړیکه ټینګه کړی، نو پدې وخت کې د هغوي نیا او نیکه، ماما، کاکا او ورور هغوي وهي، دومره یې وهي چې له هغه ژوند څخه په مرګ خوشهاله وی.

د یادونې وړ ده چې نوموړې ښځې هلکانو او نجونو دواړو ته اشاره وکړه. په حقیقت کې خلکو نه یوازې دا چې لوڼو ته یې اشاره کوله بلکه ویل یې چې هرڅوک چې کورنۍ شرموي هغوي ته باید ورته سزا ورکړل شي ان تردې چې هلکان هم پکښې شامل ؤ.

د کابل په ښارې سیمه کې د یوې ګډې ناستې په مهال چې د پاخه عمر د ښځو سره ترسره شوه هم ورته څرګندونې وشوې:

> د منلو وړ ده چې که چیرې یو خور د پردي سړي سره اړیکه ولري نو د هغې ورور کولای شي چې هغه ووژني. او همدارنګه پلار او مور کولای شي خپله لور ووژني که هغه د پردي سړي سره څه اړیکې ولري.

که څه هم دداسې نظرونو سره مخالفت هم موجود ؤ، ځکه په ډلې کې یوې بلې ښځې وویل چې دا به ډېره غوره وه که یې والدینو هغه چاته په نکاح ورکړې وای چې هغې مینه ورسره لرله.

## ۲.۲ بدني سزا د یو ډول ښه تأدیب په توګه

له نورو سړیو او ښځو سره هم لیده کاته وشول مګر شمېر یې د هغو خلکو په نسبت چې بدني سزا یې وروستی. وسیله بلله ډېر کم ؤ، نوموړو به ویل چې بدني سزا د ماشومانو د هر ډول سلوک د تأدیب لپاره یوائینې د منلو وړ او اغېزمنه لاره ده. چې ترټولو څرګند مثال یې د ننګرهار ولایت د کلیوالي سیمې د یوه بوډا سړي نظر ؤ چې د یوې ګډې ناستې په مهال یې داسې څرګندونه وکړه:

> که چیرې مونږ خپل بچیان په کوچني والي نه ؤ وهلي نو هغوي به په دې نه وای توانیدلي چې ډاکتران، انجنیران او داسې نور شي، د همغو وهلو برکت ؤ چې زمونږ ځینې ځوانان اوس باسواده دي.

لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه د ځینو لپاره د ماشومانو په وړاندې بدني سزا یوازې په هغه صورت کې د منلو وړ ښکاري چې ډېر د اخلاقو خلاف کار یې ترسره کړی وي لکه غلا، سګرټ څکول او جواری. مګر ځینو داسې نظر لرل چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي د منلو وړ دی او ویل یې چې که چیرې ماشومان کوم عادي ناوړه کار هم وکړي لکه شوخي کول، د نورو ماشومانو سره جګړه، او یا د کور کار نه کول، نو باید د هغوي په وړاندې د تاوتریخوالي څخه کار واخیستل شي.

په ټولو ولایتونو کې د هغو والدینو لپاره چې د څېړنې ټیم ورسره خبرې کړې، د ماشومانو د ښوونځي تګ او همدارنګه د هغوي د درسونو څارنه تر ټولو لا مهمه برېښېده. هغه خلک چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی یې د هغوي لپاره مناسبه سزا بلله، د هغوي یوائینې موخه د زده کړې په لور د خپلو ماشومانو هڅول ؤ، او ددې کره مثال د ماجان چلند د هغې د وراره او زوي په وړاندې ؤ، کله چې هغه ماشوم ؤ (د کورنۍ د ۴مز نخشې ضمیمه وګورئ)[20]

[20] د ماجان او د هغې د وراره په اړوند د میتودولوژي په پیل کې ذکر راغلی دی.

ماجان یوه د پخه ښځه ده چې د خپل شپږ کلن وراره سره په یوه کوټه کې اوسېږي. د وراره پلار یې مړ شوی او د هغه مور بل واده کړی او په بل ولایت کې اوسېږي. مخکښې د وراره دوه ورونه یې هم د ماجان سره اوسیدل مګر د ماجان د توند چلند په وجه هغوي دواړه د کور څخه تېښتې ته اړ شول. د ماجان یو اځینی زوي او د هغه ښځه د ماجان سره په یوه حویلي کې اوسېږي مګر په اصل کې سره بېل دي. ماجان خپل ځان د یوې پیاوړې او خپلواکې ښځې په توګه پیژني او وایي چې د مجاهدینو د جګړې په مهال یې خپل زوي ایران ته استولی ؤ او په خپله یې د یوه دولتي مامور په توګه کار کاوه. ماجان په خپل ژوند کې ډېرې ترخې لیدلي چې یوه یې د هغې واده له داسې سړي سره ؤ چې له مخکې یوه ښځه لري، او خاوند یې له پیل څخه هغه شاته غورځولې او د خپلې لومړۍ ښځې سره مینه لري. همدا وجه ده چې ماجان یواځې یو زوي لري. ماجان یو څه ځمکه لري چې په اجاره یې ورکړې او له همدې لیارې خپل ژوند تیروي. لکه څرنګه چې د میتودولوجي برخې په لومړي سر کې بیان شوه چې د ماجان زورزیاتی د هغې د وراره په وړاندې ډېر ظالمانه دی. هغې د خپل زوي سره هم په کوچني والي کې د ورته تاوتریخوالي څخه کار اخیستی. د ورته چلند څخه د ماجان اصلي موخه د خپل وراره درس ته مجبورول ؤ، همدغه موخه یې د خپل زوي په وهلو کې هم وښووده. دا لنډه مطلب چې د ماجان څخه د یوې مرکې په مهال ترلاسه شو ښیي چې د هغې په اند د یو شپږ کلن ما شوم لپاره چې ښوونځي ته د تګ څخه سرغړونه کوي، نوموړی تاوتریخوالی د منلو وړ دی:

> کله چې ماشومان خپلو مشرانو ته غوږ نه ږدي نو هغوي باید د مشرانو په واسطه ووهل شي، لکه چې پدې نژدې وختو کې ما خپل وراره ښوونځي ته د نه تګ په وجه وواهه، ځکه د هغه ښوونکي ماته یو پیغام راواستول چې وراره مې له دوه ورځو راهیسې ښوونځي ته ندی تللی، نو بیا زه ښوونځي ته ولاړم او ومې لیدل چې وراره مې هم په ښوونځي کې ؤ، نو خپل وراره څخه مې وپوښتل چې تیرې دوه ورځې چېرې وه، مګر هغه هیڅ ونه ویل او چپ پاتې شو، نو پدې مهال ما یو خط کښې راواخیست او د هغه سر ته مې وایست ترهغه چې راته یې وویل چې د سرک په غاړه یې له نورو ماشومانو سره لوبې کولې ځکه ښوونځي ته نه ؤ تللی. ما هغه د ښوونکي او هم صنفیانو په وړاندې وواهه ان تردې چې کله مې هغه واهه د هغه ښوونکي نږدې ؤ چې وژاړي او په ټولګي کې د ناستو ماشومانو په منځ کې چو په چوپتیا خپره وه، ما خپل وراره تر دې وواهه چې تندی یې مات شو او له سر څخه یې وینې وبهیدلې. زه پدې باور لرم چې د هغه لپاره وهل ډېر اړین ؤ، نو که دا وهل یې په یاد وي هیڅکله به بیا د ښوونځي څخه ځان و نه سپموي. ځینې وخت د ماشومانو وهل د هغوي لپاره ګټور وي، زه خپل وراره د هغه د ګټې لپاره وهم، ځکه زه غواړم چې هغه یو ډاکټر او یا انجنیر شي او زه نه غواړم چې هغه یو مزدور شي.

د دغه کورنۍ ټول مشران د ماشومانو په وړاندې توند دي او د ماجان اړیکې د هغې د زوي او نږور سره په پوره ډول خرابې شوي دي. ځینې له دغو پېښو څخه به په اتم فصل کې تر څېړنې لاندې ونیول شي، په هغه برخه کې چې د بې تربیې او ناسمو ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي خبره شوې ده.

زیاتره خلکو چې د بدني سزا په اړه مثبت نظر څرګند کړ، ویې ویل چې ماشومان باید یوازې په څپېړه او یا لښته ووهل شي. په ځینې ځانګړو حالاتو کې په سوک او لغته وهل هم د منلو وړ بلل کېده، او په ځینې ډېر کم پېښېدونکو حالاتو کې د کیبل او کوټک په متې وهل هم د بدني سزا لپاره د منلو وړ ؤ. سره له دې یو ټولیز نظر دا ؤ چې ددې وهلو په مهال ماشومان باید ټپ و نه مومي. که څه هم یوې بلې ښځې د یوې ګډې ناستې په مهال د هرات په ښارې سیمه کې وویل چې د ماشومانو ټپي کول د بدني سزا یوه برخه بلل ده. هغې وویل چې هلکان باید د شوخي په مهال دومره ووهل شي چې بدن یې شین شي. د نوموړې ګډې ناستې نور ګډونکوونکي له دې نظر سره موافق نه ؤ.

## ۳.۲ د ماشومانو په وړاندې هرډول تاوتریخوالی د نه منلو وړ

سره لدې چې په ټولنو کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی په څرګند ډول د عامیدو په لور دی مګر بیاهم په ټولو ولایاتو کې تراوسه له هغو کسانو سره چې مرکې شوي او یا د ګډوناستو په مهال ورځخه پوښتل شوي، پدې اند ؤ چې مشران باید د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه کار وانخلي. د بدني سزا د نه منلو لپاره دوه سببونه موجود ؤ، لومړی دا چې بدني سزا څومره ګټوره ده او

دوهم دا چې په بدني سزا پورې څومره اخلاقي نیوکې تړاؤ لري.

لومړی چوکاټ ښيي چې څرنګه د مختلفو ښارې او کلیوالو سیمو خلک پدې پوه شو چې بدني سزا ډېره ګټوره چاره نده. خلکو دا نظرونه خپلو تجربو او مشاهدو ته په کتو وړاندې کړل. د ثبوت په توګه وویل شول چې لکه څرنګه چې د خور، لیوره او د ورینداري د ماشومان وهل کیدل، خو بیا هم ډېر بد اخلاقه وو. په همدې ترتیب په کابل کې یوې ځوانې ښځې ورته پیښې ته په اشارې وویل چې د مشرانو وهل ماشومانو ته هېڅ ډول ګټه نه رسوي ځکه چې لیوره یې د هغې ماشومان په شپږ کلنۍ او اووه کلنۍ کې ډېر وهل نو اوس یې دواړه زامن په نشه یې توکو اوښتې دي. نور خلک هم د ماشومانو د وهلو د تجربو په اړوند خبرې کوي چې له هغو څخه د هرات د ښارې سیمې د یوې شتمنې کورنۍ ښځه نوربې بي ده چې د منځني عمر لرونکې ده نوموړې څلور زلمي زامن او یوه لور لري، هغې وویل چې خپل ماشومان په لښته وهي کله چې شوخي کوي مګر هغې دا هم وویل چې د ماشومانو وهل یوازې د څو دقیقو لپاره هغوي ته ګټه کوي، او وروسته له پخوا څخه هم بدتر شي.

په بامیانو کې د ځوانانو سره د یوې ګډې ناستې په مهال یوه سړي کیسه وکړه چې څرنګه یې ماما په نصوارو ونیو او سختې خبرې ورته وکړې. "د هغه لخوا رټلو ماته ډېره ګټه ورسوله، وهل او رټل ډېر ګټور دي. "د ګډې ناستې نورو ګډون کوونکو د نوموړي د نظر سره مخالفت وښود او ویې ویل چې که چېرې یې ماما وهلی وای نو دومره ګټوره پایله به یې نه وه لرلې، "خبرې تر وهلو ډېرې ګټورې دي"، که ماما یې هغه وهلی وای نو هغه به سرتمبه او سرزوری شوی ؤ.

د وهلو د بې اثري یو بل علت د هرات ولایت د ښارې سیمې یوې پخې ښځې په اند دا هم دی چې ماشومان خپلې هغه غلطۍ چې ترسره کړې یې دي، نشي درک کولای:

> نه، ځکه که چېرې ماشوم د دوه کلنۍ څخه تر اته کلنۍ پورې ووهل شي، نو بیا هېڅوک د هغوي مخ نیوی نشي کولای. ځکه نوموړی ماشوم په کوچني والي کې ډېر وهل شوی او اوس له هیڅ شي څخه نه ویرېږي ځکه د وهلو څخه نور څه بد نشته. نو بیا هغه ماشوم هیچا ته غوږ نه نیسي. نو ځکه مونږ باید هغوي ته سبق ورکړو او نصیحت ورته وکړو.

لکه څرنګه چې په دوهم چوکاټ کې بیان شوی چې خلک له اخلاقي پلوه د ماشومانو په وهلو باندې نیوکې کوي. له همدې قوله معلومېږي چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی د خدای ج د اوامرو څخه سر غړونه ده. د ماشومانو سره باید د څارویو په شان چلند و نشي، یوازې د دې لپاره چې مشران ماشومان نشي درک کولای دا

## لومړی چوکاټ: د تاو تریخوالی د غلطۍ په هکله استدلال

*که نصیحت یې سم نکړی نو وهل به هم هیڅ ګټه ونکړي*—د بامیانو له کلیواله سیمې څخه یو ځوان

*زه فکر کووم چې په هر حالت کې نصیحت غوره لاره ده، که یو ماشوم نغوارې ښوونځې ته ولاړشي نو په زور خو یې نشوا ستولی*—د کابل له کلیواله سیمې څخه یو سپینږیری

*زه فکر کووم چې که چیری ماشوم تیروتنه وکړی نو مور یې باید و نه وهي کیدای شی د وهلو له کبله هغه عمل بیا تکرار کړي، او که چیری نصیحت ورته وشی نو ښایې چې هغه عمل بیا تکرار نکړي.* - د ننګرهار له ولایت څخه یوه سپین سرې ښځه

*که نن ورځ یې د یوې پیالې د ماتولو لپاره و وهو نو رونبانه خبر ده چې سبا به لس پیالې ماتې کړي*—د کابل د کلیواله سیمې څخه د منځنې عمر یو سړی.

*نه، وهل ښه کار نده، په وهلو سره ماشومان د مور او پلار په وړاندې دریږي او د هغوی نصیحت نه قبلوي، په ښو الفاظو پوهول ښه خبر ده.*—د هرات له ښاری سیمې څخه سپین سرې ښځه

دليل نشي كيداى چې ماشومان د ووهې. لكه څرنګه چې مخكښې وويل شو چې د دوؤ ولايتونو د معلوماتو په مقايسه كولو كې د ميتود له مخې ستونزې موجودې دي. مګر د يادونې وړ ده چې تر اوسه د كابل په ښارې سيمه كې د ګډو ناستو په مهال څومره بحثونه چې د ځوانانو سره ترسره شوي، ټول پدې اند دي چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي سره مخالف دي، بياهم د ګډو ناستو د ډېرو كمو ګډون كونكو په منځ كې پدې اړوند ډېر لږ مخالفت موجود ؤ. د بدنې سزا په وړاندې د نومورې ګروپ دومره سخت احساسات، دا شک را پورته كړى چې نوموړو به د نورو وګړو او ټولنيز فكتورونو په پرتله ډېر څه كړي ؤ. ټول نه مګر زياتره ددغو ګډوناستو ګډون كوونكي د شلو كلو په شاوخوا مجرد ځوانان ؤ. نو له همدې كبله نوموړو ځانونه له هغو ماشومانو سره ښيي كوم چې د تاوتريخوالي ښكار كېږي نه له لويانو سره چې هغوي پخپله تاوتريخوالي تنظيموي.

د ننګرهار ولايت د كليوالي سيمې يوې ځواب وركونكې ښځې او همدارنګه د نوموړي ولايت د ښارې سيمې سړي وويل چې نه يوازې داچه په تاوتريخوالي باندې نيوكې كوي بلكه داهم چې خلكو ته په خپلو ټولنو كې وايي چې تاوتريخوالي غلط كار دى. يوه دايه د ۳۰ كلو په عمر چې پنځه ماشومانو مور ده او ماشومان يې د ۱۲ كلو څخه ټيټ عمر لري، اقتصادي وضعه يې ښه ده، د څېړنې ټيم ته يې وويل چې هغه هېڅكله خپل ماشومان نه وهي كله نا كله يې په څپيړه وهي، نوموړې په دې اند ده چې نصحيت د تأديب لپاره ترټولو غوره لاره ده:

> نه، هېڅكله نه. زه د ماشومانو د وهلو سره موافقه نه يم، ترټولو غوره لاره نصحيت ده او زه نورو ښځو ته هم وايم چې خپلو ماشومانو ته نصيحت وكړي. نو هغوي به په ټولنه كې په ښه توګه غټ شي او د هغوي په وجه به زمونږ هيواد پرمختګ وكړي.

عبدالصبور چې اصلي استوګنځى يې د كنړ ولايت دى مګر اوس د ننګرهار په ولايت كې اوسېږي نوموړى د ماشومانو په وړاندې د هر ډول تاوتريخوالي سره مخالف دى(د كورنۍ **۵**مه نخشه وګورئ). د مجاهدينو او روسانو د جګړې پر مهال عبدالصبور يو پوليس ؤ، نوموړى د يوه سخت هوايي بمبار په ترځ كې ټپي شو. هغه د پښې د زخم له كبله اوس هم معيوب دى. هغه وكيل ګذر دى مګر له دې دندې څخه كوم عايد نلري. كه څه هم كورنۍ يې نسبتاً غريبه ده هغوي يو څه ځمكه لري او په اجاره يې وركړې. نوموړې كورنۍ د يو يخ په دوكان كې پانګه واچوله مګر د اقتصادي ستونزو له كبله هغه دوكان په ټپه

## دوهم چوكاټ: په دې هكله استدلال چې ولې وهل اخلاقاً ښه عمل ندى

*كه خپل ماشومانو ووهم نو خداى په غوسه كيږي*—د باميان له كليواله سيمې څخه د مجيد په نوم يو سپين ږيرى (د كورنيو **۹**مه نخشه وګورئ)

*ماشومان خو څه ځناور ندي چې وهل وركړو په وهلو سره هغوى نور هم بې ادبه كيږي.*—د باميان له كليواله سيمې څخه يوه ځوانه ښځه

*زياتره كورنۍ خپل ماشومان په څپيړه او په بوټانو وهې، او كله يې ډير كلک وهې، خو زه دا نه منم، ځكه چې ماشومان خو كوچنيان دي او نه پوهيږې چې څه ښه او څه بد دى ځكه خو مور او پلار بايد هغوى ته لارښونه او نصيحت وكړي. كه ماشومان څه تير وتنه وكړي ښه دا ده چې په نصيحت يې پوه كړو او كه يې و نه منې نو بايد ترى خپه شو. وهل سمه لاره نده او په ماشومانو بده اغيزه كوي.*
—د ننګرهار له ښارى سيمې څخه يوه پيغله

*زما په آند مور بايد له ماشومانو سره مينه وكړو ځكه چې هغوى لكه ګلان داسى دى؛ او مور يې بايد خيال وساتو. كه چيرى څه غلط وكړي مور يې بايد په نصيحت پوه كړو، زه سل پر سلو ډاډه يم چې هغوى زمونږ نصيحت منې. خو تاسو پوهيږې چې خلک څه وايې، هغوى فكر كوى چې د ماشومانو وهل د منلو وړ ده ځكه چې هغوى كوچنيان دى او په خبر نه پوهيږى. د ماشومانو وهل د خلكو تر منځ عامه خبر ده.*—د ننګرهار له كليواله سيمې څخه ځوانه ښځه

اودريد او کورنۍ پکې پوروړې شوه. کله چې د هغه پلار د هغوي سره مرسته بس کړه او له خپلې بلې مېرمن سره اوسيده نو عبدالصبور او ورونه يې اړ شول چې بهر د کار لپاره ولاړ شي، کله يې چې پلار ولاړ نو عبدالصبور ته يې د هغه ورونه، خويندې او مور پرېښودل ددې لپاره چې ويې ساتي. عبدالصبور او ورور يې دواړه ښوونځي کې شامل شول، که څه هم عبدالصبور تر ۱۱ کلنۍ ځان په ښوونځي کې نه ؤ شامل کړی، مګر د خپل ښوونکي د هڅونې په مټ په ښوونځي کې شامل شول. د هغه ټول ماشومان که څه هم ډېر غټ هم ؤ، خو ښوونځي ته تلل.

په دغې کورنۍ کې د ښځو په منځ کې شخړې را منځ ته شوې، او داسې راپورونه ؤ چې عبدالصبور خپلو دواړو ښځو په وړاندې توند ؤ.[۲۱] که څه هم عبدالصبور د ماشومانو د وهلو ډېر مخالف دی، کله چې له هغه وپوښتل شو چې څرنګه خپل ماشومان تأديبوي نو هغه وويل چې:

> زه د هغوي په ژبه خبرې کوم. فکر کوم چې د ماشومانو وهل ښه کار ندی. زه د وهلو پر ځاي خپلو ماشومانو ته نصيحت کوم. نور خلک هم چې خپل ماشومان وهی زه هغوی هم نخوښووم ، ځکه چې په وهلو کې کومه ګټه نشته. د ماشومانو وهل هغوي نور هم خرابوي، نو مونږ بايد هغوي ته نصيحت وکړو.

هغه يو مثال وړاندې کړ، کله چې ګاونډی د عبدالصبور زوی وهلی وو او ده غوښتل يې خپل ګاونډي ته د ماشومانو په وړاندې دتاوتريخوالي بدي بيان کړي چې تاوتريخوالی څومره بد کار دی. ګاونډی د هغه زوی ډېر سخت وهلی ؤ يعني د څپېړو څخه زيات (له بده مرغه په معلوماتو کې دا جوته نه وه چې ولې دهغه ګاونډي داسې کار کړی دی). عبدالصبور وويل چې نه يې غوښتل چې له ګاونډي سره د ماشومانو په سر جګړه وکړي[۲۲] مګر د هغه پرځاي هغه وويل چې څرنګه يې خپل ګاونډی دې ته وهڅاوه چې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی ښه کار ندی.

د عبدالصبور له دويمې مېرمنې څخه کله چې د څېړنې ټيم ماشومانو د وهلو په اړوند وپوښتل چې د خاوند دريځ يې د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي په اړوند څه دی، هغې داسې وويل:

> نه، هېڅکله نه. هغه به هېڅکله ماشومان په ګل هم ونه وهي. که چېرې هغه پدې پوه شي چې زه ماشومان وهم نو هغه به ما ووهي. هغه هېڅکله ماشومان نه وهي.

لکه د نورو په شان چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالی په اړوند به يې مخالفت ښوده. د عبدالصبور په اړوند د هغه د کورنۍ غړي (د هغه لومړۍ ښځې) داسې راپور ورکړ چې عبدالصبور يوازې په ځينې ډېرو کمو حالاتو کې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی ترسره کوي، هغې وويل چې خواښې يې عبدالصبور ته څرنګه وويل چې د مختلفو مېرمنو اولاد يې شوخي کوله او يو بل يې د مردکيو د لوبې په مهال رټل، نو ددې په اوريدو سره عبدالصبور خپل ماشومان په څپېړه ووهل. د خلکو دا نظر او همدارنګه د تاوتريخوالي د ښه والي او بدوالي په اړوند ډېر تفصيل لاندې ذکر شوی دی.

## ۴.۲ د کورنيو په منځ کې مخالفتونه

ښکاره خبره ده چې په کورنۍ کې د ماشومانو د تأديب لپاره د کورنۍ ټول غړي د تأديب په ورته طريقه او د بدني سزا په مناسبوالي باندې موافق نه وي. دا برخه ښيي چې د ځينې کورنيو غړي يو د بل سره ژور مخالفتونه لري. لومړي دوه مثالونه ښيي چې د کورنۍ نارينه غړي د تاوتريخوالي سره مخالف دي مګر ښځې په دې اند دي چې ماشومان بايد ووهل شي ترڅو ښه تربيه واخلي. بيا په دوه نورو مثالونو کې راځي چې ښځې د ماشومانو د سزا د څرنګوالي په وړاندې خپل مخالفت ښيي. په پاي کې دوه مثالونه ښيي چې د کورنۍ نارينه غړي ماشومانو ته په تأديب کې مخالفت څرګندوي. همدارنګه په پراخه توګه د ماشومانو د تاديب په اړوند د خلکو د رويې په منځ کې توپير ښيي او يا د ماشومانو په وړاندې د بدني سزا ښه والی يا بدوالی

[۲۱] ددغې کورنۍ د لويانو ترمنځ اړيکې د د غه اداری هغې راتلونکې ترکيبي مقالې ته ځير شی چې د کورنۍ اړيکو او تاوتريخوالو په اړوند دی.

[۲۲] له راجمع شوي معلوماتو او له هغې څېړنې څخه چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری لخوا د عرفي قانون په اړوند ترسره شوي دي دا ښيي چې د کورنيو او ګاونډيانو ترمنځ شخړې معمولاً د ماشومانو ترمنځ د جګړو په وجه رامنځته کېږي.

واضح کړي، بلکه دا برخه دا هم ښیي چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي علتونه له هغه څه ډېر پېچلي دي چې خلک د تل لپاره تونډوالی د تعلیمي او اقتصادي حالاتو پر اساس ګڼي.

لکه څرنګه مو چې په تیره برخه کې وویل، عبدالصبور د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي سره کلک مخالفت څرګند کړ، مګر د هغه مشرې ښځې رحیمې وویل چې که چېرې ماشومان خبره و نه مني نو هغوي باید په څپېړه او یا په څپلۍ ووهل شي. هغې همدارنګه وویل چې ماشومان به و ډار کړي او هغوي به په خوله ورتېي، لکه څرنګه چې لاندنی قول ښیي چې هغه خپل ماشوم زښت ډېر وهي. د هغه دوهمې ښځې صبرینا د مرکې په مهال د ماشومانو سره د چلند خبرې و نه کړې بلکې هغې دې ته ترجیح ورکړه چې د هغو وهلو او ټکولو په اړوند خبرې وکړي چې د خپل خاوند لخوا ورباندې ترسره کېږي او د خپلې بن سره یې د جنجال او جګړو په اړوند خبرې وکړي، هغې د خپلې خواښې سره د بدو اړیکو په اړوند هم خبرې وکړې. یوه بله خبره چې د عبدالصبور مېرمنو د هغه یادونه و نه کړه مګر عبدالصبور په خپله څرګنده کړه چې دواړه مېرمنې یې ماشومان په بوټونو، لښتو او نور هر څه چې لاسته ورځي، وهي. عبدالصبور او مېرمنو یې د پیغور په توګه خبر ورکړ چې یو د اساسي سببونو څخه چې هغوي وهي داده چې په ماشومانو باندې تونډي کوي، رحیمه دا موضوع ښه روښانه کوي:

> هو، یو ځل مې هغه (زوی) په ملا باندې وهلی ؤ او ملا یې تکه شنه شوې وه نو کله چې پلار یې ولید ډېر خواشینی شو او ویې ویل چې دومره وهل باید ورنکړم. د هغه پلار نه غواړي چې ماشومان یې ووهو او یا بد الفاظ ورته استعمال کړو. لور مې یو ځل کوم کار وکړ او ما ورته بد الفاظ وویل "ځه مړه شې"، خاوند مې په مخ په څپېړه ووهلم او خبرداری یې راکړه چې ورته داسې الفاظ بیا باید استعمال نکړم.

عبدالصبور وویل چې یوا ځینی شی چې هر وخت یې له دوه ښځو سره ورباندې بحث وي هغه ماشومان دي چې میندې یې ورته بد الفاظ وایي او یا یې وهي.

همدارنګه د عبدالصبور او د هغه ورور منصور په منځ هم مخالفت موجود دی، ځکه منصور د ډېرو نورو په څېر په دې اند چې کله ماشومان نصیحت و نه مني بیا هغوي باید مخ په څپېړه ووهل شي او یا د څپلۍ ګذار ورباندې وشي. او ویې ویل چې مېرمن یې هم د ماشومانو په تأدیب کې د هغه په شان د ورته چلند څخه کار اخلي.

یوه بله کورنۍ چې د بامیان په کلیواله سیمه کې اوسي او په نوموړې کورنۍ کې خاوند او مېرمن د ماشومانو په روزنې کې سره مخالف دي، دا کورنۍ د عبدالصبور د کورنۍ په پرتله زیاته وړوکې ده. ګل بخته (د کورنۍ ۲مه نخشه وګورئ) له خپلې خواښې، د هغې خاوند، نوروز او د خپلو دوؤ لوڼو چې پنځه او یو کلنې دي او د خپل درې کلن زوي سره یوځای اوسېږي. نوروز روزمره مزدوري کوي، ماشومانو ته په ښوونځي کې سبق وايي او ځینې وخت د برق په ورکشاپ کې کار کوي. نوموړې کورنۍ دوه خره لري او یو هغه کور لري چې دم ګړی په کښې اوسېږي، نور هېڅ ډول شته لکه جایداد او څاروي نلري. ګل بخته خپل ماشومان وهي دا خبرې د هغې خاوند او خواښې په ډاګه کړه. د هغې خواښې وویل چې نوروز نه پوهېږي چې ګل بخته د هغه ماشومان خومره وهي. ګل بختې وویل چې خاوند یې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی ډېر بد ګڼي او وایي چې ماشومان باید هېڅکله په کوچني والي کې و نه وهل شي:

> زما خاوند ډېره حوصله لري هرڅومره چې ماشومان شوخي کوي هغه ورته هېڅ نه وايي چې غلي شی. زه هر وخت ورته وایم چې ماشومان دې ډېر خراب روږدي کړل... او همدارنګه مې ورته وویل چې د ماشومانو اخلاق له منځه وړې ځکه هغوي ته هېڅ نه وایې. مګر هغه (خاوند) راته وايي چې دا ماشومان دي او په وهلو نه غلي کېږي. زما خاوند خپل زوي او لور نه وهي نو لکه چې تاسو یې وینی زما زوي همدا اوس پلار غواړي.

نوروز پخپله هم د خپل پلار له خوا ډېر سخت وهل کېده نو همدې ته په کتو هغه پدې اند دی چې ماشومان باید و نه وهل شي.

ملالۍ چې د شکیب ترور (د کورنۍ ۲ نقشه) ده لږ پخوا یې وویل چې هغه د خپلې د وریرې په وړاندې د شکیب او د هغې د مور د تاوتریخوالي شاهده ده، هغې وویل چې د خپلې وریرې سره تر یوې محدودې پولې مرسته کوي او ملاتړ یې کوي، او نوموړې دا موضوع په لاندې توګه څرګنده کړه:

لږ ځنډ د مخه د هغه خور (د شکیب خور) غوښتل چې ډېپیز حمام ته ولاړه شي، مور یې په کور کې نه وه. نو ماورته وویل چې که یوازې وي خپل زوي به ورسره ولیږم، هغې راته وویل چې نه هغه ته اړتیا نشته، زه خپله تللی شم. هغې د لنډ لستونو لرونکې جامې د پتلون سره واغوستې او روانه شوه چې ورور یې (شکیب) په مخه ورغی او هغه یې بېرته راتاؤ کړه او بیرته یې کور ته راوسته نو چې کور ته راغلل د سوکانو او لغتو ګذارونه یې ورباندې پیل کړل. نو کله مې چې د هغې غږ واوریده ورغلم او وریره مې خپلې خونې ته راوسته، هغه زما په خونه کې وه او ژړل یې... نو کله چې ماښام د هغې مور راغله او د کیسې څخه خبره شوه نو هغې هم د وهلو پیل ورباندې وکړ او په بوټ باندې یې ووهله. زما په اند د پیغلې لور وهل پداسې توګه ښه کار ندی. مګر داځل ما مداخله ونه کړه ځکه زه نه غواړم د هغې په چارو کې مداخله وکړم، مګر چې وریندار مې نه وي زه مداخله کوم ځکه زه خپلې وریرې سره د خپلو لوڼو په څېر مینه کوم. نو ځکه ما کولای شو چې د شکیب د وهلو څخه یې خلاصه کړم مګر نشم کولای چې د خپلې وریندارې (د هغې د مور) د وهلو څخه یې خلاصه کړم.

د یادونې وړ ده ملالۍ وایي چې سره لدې چې شکیلا او وراره یې د هغې وریره ډېره وهي او د پوهناک لپاره یې هم د هغې وریره ووهله مګر هغه (اوس هم) باوري ده چې بچیان یې د شکیلا د بچیانو په پرتله ښه او مؤدب دي، او وایي چې لوڼې یې مناسب لباس هم اغوندي. همدارنګه ملالۍ دې ته هم اشاره کوي چې د وریندارې وهلو یې د بچیانو په اخلاقو خومره بده اغېزه کړې ده.

همدارنګه د ننګرهار د کلیوالي سیمې یوې ۲۰ کلنې ښځې په یوه لویه کورنۍ کې اوسېږي، وویل چې هر کله چې بن یې خپل ماشومان وهي نو هغه څه احساس کوي:

کله چې خلک خپل ماشومان وهي زه ډېره خواشینې کېږم، اکثره خلک دغه کار کوي، خو زما په اند نصیحت تر هرڅه غوره دی. زه خپل ماشومان نه وهم مګر مرغلره یې وهي، اوړمه شپه مرغلرې خپل زوي وواهه نو زه د همدې کبله ټوله شپه خواشینې وه.

دغه دوه بېلګې احساساتي خواشیني توب څرګندوي یعني کله چې د کورنۍ کوم غړی د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی کاروي او دریم کس چې نوموړی تاوتریخوالی ویني او خپل ځان کمزوری ویني، دیر خواشینی کېږي.

امینه د شلو کلو په شاوخوا عمر لري او نسبتاً ښه سواد لري، نوموړې د یوې ګډې ناستې په مهال د یوه خپلوان کیسه وکړه، د نوموړې کیسه یوازې دا نه ښیي چې د کورنۍ غړي د ماشومانو په وړاندې څرنګه مختلف نظرونه لري او د هغوي په وړاندې څه ډول کړنلاره غوره کوي، بلکه دا هم ښيي چې ترورګانې او ترونه څرنګه د خپلو وراره ګانو او ورېرو دفاع کوي:

زه تاسو ته یوه بله کیسه وکړم: زما یو لیور قاري د قرآن دی. هغه یو ۱۱ کلن وراره لري چې پلار یې مړ شوی او د هغه مور د خپل لیوره سره نکاح کړې. یوه ورځ قاري په کور کې ؤ او وراره یې په مدرسه کې، د هغه استاد ورته وویل چې له قاري (ستا د تره) سره مې خبره کړې چې ماته یو قران کریم راکړي او ستا تره راته وویل چې ته به یې راته راوړې، د یو څو شیبې وروسته د قاري وراره د خپل تره کور ته ولاړ چې خپل استاد ته قران کریم راوړي. کله چې کور ته ورغی ویې لیدل چې قاري کاکا یې په کور کې نه ؤ، نور قران کریم یې په خپل سر راواخیست او خپل استاد ته یې ورکړ. پوهېږې چې کله قاري کور ته راغی او پدې پوه شو چې وراره یې قران کریم وړی دی او خپل استاد ته یې ورکړی، نو هغه (قاري) ډېر په قهر شو. خپل وراره یې راوغوښت کله چې وراره یې راغی نو یو پایپ یې راواخیست او د وهلو پیل یې ورباندې وکړ او تر هغه یې وواهه چې د لاسه یې پوره وو، او د وراره له ملا څخه یې وینې بهیدې. وراره یې کور ته ولاړ او خپله ملا یې میرنې پلار ته وښوده او میرنې پلار یې ورته وویل چې دا په ما پورې هیڅ راز تړاؤ نلري، ته باید خپلې ستونزې په خپله هوارې کړې. بیا د خپل بل تره کور ته ورغی او خپله ملا یې ورښکاره کړه او ورته یې وویل چې میرنې پلار مې هیڅ پام راته ونه کړ. د خپل وراره د ملا په لیدو او ددې خبرې په اوریدو د هغه تره خپل وراره له لاسه ونیو او د ښار بازارته ورسره ولاړو او هلته یې ټولو خلکو ته وویل چې "پام کوی چې ماشومانو مو په مدرسه کې شامل نکړی ځکه هلته زما ورور

درس ورکوي، نو که تاسو خپل بچيان هغه ته واستوئ نو زما د وراره په څير ټپونه به ومومي. "او بيا هغه خپل وراره زما کور ته راووست. پوهيږئ چې د کورنۍ ټولو غړو د هغه حال ته په کتو وژړل، ما په ځانګړي ډول تر ټولو ډېر وژړل.

دغه بېلګې ښيي چې څرنګه په هغو کورنيو کې چې د ورته وګړيز، تعليمي او اقتصادي شاليد لرونکي دي، د بدني سزا په اړوند نظرونو کې يې دومره توپير موجود دی. او بل دا هم په ګوته کوي چې د ټولنيزو نورمونو سره سم چې د کورنۍ اړيکې يعنې د والدينو اړيکې د هغوی د بچيانو سره په يوه ځانګړي ډګر کې وي چې بهرنی کس پکښې مداخله نشي کولای، او د لويې کورنۍ غړي لکه ترور او ترونه کولای شي چې د خپلو وراره ګانو او وربرو په خلاصولو کې مرسته وکړي. په وروستي مثال کې که څه هم د هلک د ترونو د اړيکو په اړوند مونږ نه پوهيږو، بلکه داسې معلوميږي چې يوه کاکا غوښتل چې کورنۍ شخړه عمومي ډګر ته وباسي ددې لپاره چې خپل وراره او نور ماشومان د تاوتريخوالي څخه خوندي وساتي.

## ۵.۲ کورنۍ شخړې او مخالفتونه

د خلکو د ځرګندونو پربنسټ چې وايي هر ډول تاوتريخوالی د ماشومانو په وړاندې غلط دی او بيا يو دهغوی د کورنۍ د غړو څخه، لکه د عبدالصبور په قول، چې هغه خپل ماشومان وهي او رټي او يا دارنګه کړنلاره يې پخوا هم په عام ډول سره تعقيب کړې وه. البته، دارنګه څرګندوني د ټل لپاره د خلکو لخوا تاييد شويدي چې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی يا تشدد غلط دی ليکن وروسته هغوی خپلې همغه کيسې تکرار وي يعنې ماشومان وهي او رټي.

د بېلګې په توګه، شکيب چې د هغه کورنۍ نه يوازې د خپلې کشرې خور په وړاندې په شدت سره د تاوتريخوالی ځرګنده ولو په هکله دمخه پيژندل شوې ده بلکه په ازادانه توګې سره د خپل کشر ورور په وړاندې تاوتريخوالی يې هم اختيار کړی دی. د ګډو ناستو (FGD) په مهال هغه دارنګه مباحثه وکړله چې هغه د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي خوشبين نه دی.

> زه د هغه سره موافق نه يم، زه فکرکوم چې د ماشومانو په وړاندې بايد خواخوږي اختيار کړو او د هغو وهل او رټل ښه کار نه دی او همدارنګه دا کړنلاره د هغوی د روغتيا لپاره هم زيانمنه ده. زه فکر کوم ښه به دا وي چې هغوی سره خبرې وشي او ورته نصيحت وشي. که چېرې مونږ د ماشومانو په وړاندې مهربان او هغوی سره مينه او محبت وکړو، نو هغوی به هرو مرو مونږ ته نږدې او د ملګرو په شان به وي او که چېرې پرهغوی شفقت ونه کړو نو دابه د هغوی په راتلونکې باندې بده اغېزه وکړي. په همدې دليل زه فکر کوم چې بايد هېڅکله ماشومانو ته سزا ورنه کړل شي.

د يادونې وړ ده چې کومې خبرې شکيب د ګډې ناستې (FGD) په مهال کړې وې د هغه موخه يوازې دا نه وه چې ددې ګروپ د نورو برخه اخستونکو د وينا وو سره موافقت وکړي، حتی که د زياترو نظر هم وی، لکه څرنګه چې يو شخص د هغه څخه د مخه خبرې کړې وې او وی ويل چې د هغه په نظر د ماشومانو وهل او رټل د دسپلين او نظم په موخه مناسبه کړنلاره ده او واضح يې کړه چې هغه څرنګه خپل ماشومان وهي او رټي.

سره لدې چې شکيلا (د شکيب مور)، خپل زوی ته يې د هغه د خورد وهلو او رټلو حق ور کړی او وروسته بيا د ګډې ناستې په همغه ګروپ کښې دارنګه استدلال وکړ چې په يوه کورنۍ کښې د ماشومانو په وړاند تاوتريخوالی ښه کار نه دی او بايد دا پيښه صورت ونه مومي.

> "زه فکر کوم د ماشومانو وهل او رټل ښه لار نه ده ځکه چې ماشومان په خبره او لارښوونې باندې پوهيږي."

يو ځل بيا شکيلا په اسانۍ سره د ګروپ د نورو برخه اخستونکو سره موافقت نه ښوده او په حقيقت کښې د نور په وړاندې د هغوی انتقادونو ته يې ځواب ورکاوه لکه څرنګه چې برخه اخستونکو ويل شکيلا خپل لمسيان کله چې هغوی خپل ځان چټل يا يو څه مات کړي نو په مقابل کښې شکيلا هغوی په کلکه سره وهي.

هغه نظرونه چې د خلکو څخه لاسته راغلي هميشه د هغوی د سلوک او رويې څخه متغايري واقع کېږي لکه د شکيب، شکيلا او تر يوه بريده د عبدالصبور په قضيه کښې کوم چې تر زيات حده پورې د ماشومانو

دسيپلين او انضباط په اړوند مغشوشوالی او شخصي دښمني را په ګوته کوي. څنګه به وي که چېرې دا موضوع په تفسير سره په اينده فصل کښې وڅېړل شي.

د لا زياتو توضيحاتو او هغه څه چې پر داخلي شخړو دلالت کوي د خلکو هغه کړنلاره ده چې د هغوی څخه لاسته راغلي غير عملي نظرونه د مصاحبې او ګډو ناستو په ترڅ کښې تغير مومي. د بېلګې په توګه ، يوې ښځې د يوې ګډې ناستې په مهال چې د هرات په ښار کښې د ۴۰ کلنو ښځو د ګډون په ترڅ کښې تشکيل شوې وه دارنګه وينا وکړې چې هغه د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی غندي. هغې دا هم واضح کړله چې تاوتريخوالی بې په بشپړه توګه پيژندلی او رعايت کړی دی.

د هغې په قول: (يو مور بايد د تاوتريخوالي لار غوره نه کړي، بايد خپلې لورته ووايې هغه څه چې هغې کړيدي صحيح نه دي او ښه به دا وي چې په راتلونکي کې ورڅخه تکرار نه شي.... هغې ته ښکنځل کول يا وهل، دا د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی ګڼل کېږي... مور بايد خپلې لور سره ځيله او سرټمبه توب ونه کړي او که چېرې د هغې لور څخه يو بد کار واقع کېږي بايد په ارامی سره وپوهول شي چې دا عمل هغې سره مناسب نه دی او بهتره به وي چې اينده داعمل ورڅخه تکرار نشي).

البته، لږ ځنډ وروسته د همغې ګډې ناستې په مهال، همغې ښځې د خپل مخکيني نظر څخه بل تضاد نظر وړاندې کړ:

د دوو څخه تر اته کلو ماشوم پورې ... کله چې ماشوم په صحيح توګه خواړه نه خوري لکه که چېرې ماشوم د دسترخوان په سر لوښې چپه يا ګډوډ کړي نو ددې عمل په وړاندې ماشوم بايد ووهل شي تر څو هغه د ښه او بد توپير وکولای شي. دا پدې معنی نه ده چې ماشوم بايد هر وخت د هرکار لپار ووهل شي بايد هغه تر اته کلنۍ پورې په اونۍ کښې يو ځل ووهل شي.

په يو بل مثال کښې، نوريه چې يو ځوانه انجلۍ او د دريو ماشومانو مور ده د هرات په ښار کښې استوګنه کوي او يو متوسطه شتمنه کورنۍ پورې تړاو لري، هغې وويل چې هغه او خاوند يې کله چې د هغوي ماشومان شور، وړانۍ يا جنګ و کړي نو دوي يې وهي. هغې زياته کړه چې په داسې وختونو کښې ماشومانو وهل ضروري دي. لږ ځنډ وروسته، هغې د خپلې وريرې چې د هغې همزولې ده د خپل ماشومانو د نه وهولو په اړوند د هغې څخه ستاينه وکړله چې هغه يوازې د خپل توند چلند په ترڅ کښې وتوانيدله چې د ماشومانو کنترول او اداره خوندي وساتي.

لکه څرنګه چې د ذکر شوو بيلګو څخه معلومېږي چې د ماشومانو د دسپلين او انضباط په اړوند کومه غوره لاره ځانګړې شوې نده او همدارنګه د خلکو د نظرونو په منځ کښې چې څرنګه چلند يې د خپلو ماشومانو سره اختيار کړی، اختلافات او تضادونه ليدل کېږي. دا بېلګې هغه داخلي کوښښونه چې د ماشومانو د تاوتريخوالي په وړاندې صورت مومي، روښانه کوي. يو زيات شمېر کسان نه ټول، دا واضح کوي چې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی هميشه غلط دی او يوازې په ډېرو سختو حالاتو کښې د تطبيق وړ دی او يا داچه د وروستۍ وسيلې په توګه بايد وکارول شي مګر ددوي کړنه او عمل ددې نظر په ضد او خلاف پلې کېږي. په عمومي ډول سره د ټولنې نظرونه په دواړو يعني هم په ګډو ناستو کښې او هم په انفرادي ناستو کې د ماشومانو د بدني سزا او د هغوي په وړاندې تاوتريخوالی په هکله منفي څرګند شوی دی. البته، په عين وخت کې خلکو وينا کوله چې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی ډېر عام دی. که چېرې د يوې ټولنې لخوا د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی رد شي نو شايد پر هغو عمومي منل شوو تاوتريخوالي کړنو او عملونو کوم چې د ډېرو خلکو په نظر صحيح نه ښکاري، له منځه وړلو يا ضعيف کولو کښې مرسته وکړي. راتلونکي دوه فصلونه به د هغو چلندونو په هکله دليلونه مطرح کړي کوم چې د غير عملي نظرونو او عملي شوي کړنو په منځ کښې واقع شوي دي.

# ۷. د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالي دلایل: ویره او د نورو لارو نشتوالی

ددې نظرونو سره سره چې بدني سزا د ماشومانو لپاره مناسبه نه ده، او په دې پوهې سره چې منفي پایلې لري او اغېزمند نه ثابتیږي بیا هم بدني سزا په پراخه پیمانې سره په کار وړل کېږي. دا فصل استدلال کوي چې ددې موضوع په اړوند دوه حاکمې او مشترکې انګیرنې شته دي: لومړی، د مور او پلار هغه ویره چې د خپلو ماشومانو د راتلونکې په هکله یې لري او دوهم، هغه مفکوره چې که چېرې ماشومان د لویانو څخه وویریږي نو ماشومان به ښه سلوک او رویه غوره کړي. مور او پلار د خپلو ماشومانو د ښې روزنې په اړوند ډېر په شدت سره په ویره او تشویش کښې وي چې ګویا هغوي به یو ګټور اخلاقي ځوان وګرځي. د بېلګې په توګه، په حقیقت کښې ټول هغه مور او پلار چې د څېړنې ډلې یا ټیم ورسره کتنه کړې وه پدې باوري ؤ چې د هغوي اولادونه سخت درس وایي لیکن ددوي ستر تشویش د هغوي د ښه تعلیم ترلاسه کولو په هکله، لیدل کېده. داچې تاوتریخوالي د ماشومانو د دسپلین د لومړنی لیارې په حیث استعمالیږي نو د کورنی زیات شمېر مشران غږې د بدني سزا د استعمال څخه ویریږي چې شاید دغه کړنلاره به دهغوي ماشومان د بد اخلاقی لارې ته راوبلي او د هغه مقام څخه به یې لېرې کړي کوم چې دوي توقع لري. البته که نړیوال نه وي، نو دا به یو عمومي نظر وي، تر څو که وغواړو چې ماشومان د دسپلین او انضباط په چوکات کښې داخل وي نو هغوي باید وویرول شي. ددې نظر ترڅنګ که چېرې د ماشومانو وهل ډېر شدید وي نو هغوي به دغه احساس هېڅکله هیر نه کړي او هغه بد عمل به ورځخه دوباره تکرار نه شي.

سره لدې، دا هم په روښانه ډول سره لیدل کېږي چې زیات شمېر مور او پلار په بشپړ ډول سره نه غواړي چې خپلو ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی څرګند کړي او اکثراً وروسته خواشیني ښکاره کوي. (د خواشنی دغه احساس فقط بدني سزا او پدې څیر د ډېر منضبط تاوتریخوالي پورې تړاو نه لري بلکه د ماشومانو هغه تاو تریخوالي پورې هم تړاو لري کوم چې د مشرانو څخه د غم ، خفګان یا د قهر په ترڅ کښې څرګندیږي. د ماشومانو په وړاندې دا ډول تاوتریخوالی په اتم فصل کښې توضیح شویدي ) پدې دلیل، ددې فصل دوهمه برخه لدې څخه بحث کوي چې مور او پلار د نورو لارو چارو په لټه کښې دي (البته نه په ډېر فعال ډول سره) تر څو وتوانیږي چې خپل ماشومان په منظم ډول سره و روزي. ددې فصل په وروستی برخه کښې یو څو نورې لارې چې د ځواب ورکونکو څخه ترلاسه شویدي وجود لري او په ښه شویدي ترڅو خلک د لارښود په توګه ورځخه استفاده وکړي.

## ۷.۱ ماشومان په ویره کې ساتل

په ۳ بکس (چوکاټ) کښې د مختلفو ولایتونو د یو شمېر نارینه او ښځو څخه راخیستل شوي نظرونه وجود لري چې وایې د هغوي خوشحالي په دې کښې ده چې باید خپل ماشومان یې ورځخه وویریږي.

په حقیقت کښې تاریخ دا څرګنده کړې چې د ماشومانو د نیکو اخلاقو په هکله یو اځینې لاره داده چې باید هغوي په ویره او ډار کښې وساتل شي. د بېلګې په توګه، د ننګرهار په ولایت کښې یو ځوان شخص د ګډې ناستې په مهال د مجلس خلکو ته په فخر سره و ویل چې هغه خپل ماشومان ډېر په شدت سره وهل نو په همدې دلیل د هغه ماشومان د هغه څخه وویریږي. دا پدې معنی ده کله چې هغه خپل کور ته داخلیږي نو د ټولو ماشومانو په زړونو کښې ډار پیداکېږي او خاموشي اختیاروي. دا دهغه د کور داخلي ماحول دی کوم چې هغه پرې فخر کوي او متیقن دی چې دا کړنلاره به د هغه د ماشومانو لپاره غوره لاره وي.

حتی ډېرشمېر هغه خلک چې ویل به یې چې هغوي نه غواړي خپل ماشومان ووهي یا یوازې معمولي وهل او رټل وکړي بیا هم هغوي پدې تکل کښې وو ترڅو یو داسې لار پیداکړي چې د هغې په وسیله ماشومان یې ورځخه وویریږي. د بېلګې په توګه په ننګرهار کښې د ځوانانو په یوه ګډه ناسته کښې د پوښتنې په ترځ کښې یو ځوان وویل که چېرې پلرونه خپل ماشومان و نه وهي نو له هغوي څخه به څرنګه خپل ماشومان وویریږي. همدارنګه د نورو خبرو اترو په مهال دا ډول ویناوې لاسته راغلي لکه، ماشومان باید وه نه وهل شي مګر هغوي باید وویرول شي او د ویرولو لپاره غوره لار د وهلو او ټکولو ده.

په نادره توګې سره ځواب ورکونکي ددې نظرې په خلاف وه چې باید

## دریم چوکاټ: مشران له تاوتریخوالي څخه کار اخلی چې ماشومان تری ویره ولری

*ماشومان نباید تر دی حده ووهو چې ټپي شی، دومره یې و وهو چې ویرېږی.*—د بامیان له ښار څخه سپین سری ښځه

*زه هغوی په وهلو ویرووم چې د راتلونکې لپاره ورته سبق شی، بیا به په راتلونکي کې شوخي ونکړی.*—د بامیان ښار څخه یو پوخ سړی

*ماشومان باید د کورنۍ له یو غړي څخه ویره ولری، او کله ناکله باید یو شخص هغوی ووهي.*—د هرات له کلیوالي سیمې څخه یوه پخه ښځه

*هوکې د ماشومانو د روزلو لپاره دغه تر ټولو غوره لار ده؛ که ویره ونلری نو د مورا و پلار نصیحت نمني.*—د هرات له کلیوالي سیمې څخه یو پوخ سړی

*زما په فکر مور او پلار خپل ماشومان نباید ووهي، باید یې وویروی. او ماشومان باید له مور او پلار څخه ویره ولری او سګرټ ونڅکوی، شراب ونخوری، او نسوار هم وانچوی او همدارنګه په سړکونو باندی له نورو بی کاره ماشومانو سره ونګرزی.*—د کابل له کلیوالي سیمې څخه یوه پخه ښځه

*که په کورنۍ کې وی او که حکومت کې باید یو شخص وی چې پاتې ټول خلک تری ویره ولری.*—د کابل له ښاری سیمې څخه یوه زړه ښځه

ماشومان په پرله پسی ډول په ډار او ویره کښې وساتل شي. یو دهغو نادرو خلکو څخه سمندر دی (د کورنۍ ۷ نقشې ته ځیر شی)، دا شخص د ۳۰ کلو عمر لري د خپلو ۲ واړو ماشومانو، کونډه مور، یو متأهل ورور سره دهغه ښځه او درې ماشومان او یو مجرد ورور سره یوځای ژوند کوي. سمندر واضح کړه چې د هغه کورنۍ په یو ښه اقتصادي حالت کښې قرار لري. تعلیم د سمندر په وړاندې ستر اهمیت لري. ددې لپاره چې سمندر پخپله نه دی توانیدلی ترڅو ښوونځی تعقیب کړي، ځکه چې په هغه وخت کښې د هغوي په کلي کښې ښوونځی موجود نه ؤ. نو پدې دلیل هغه هڅه کوي چې خپل ماشومان د ښوونځي تللو ته وهڅوي، او دا رنګه وايي:

> زه هرکله خپلو ماشومانو او د خپل ورور ماشومانو ته وایم چې خپل درسونه زده کړي او په منظم ډول سره ښونځي ته ولاړشي. زه دوي ته کتابونه او کتابچې راوړم او ورته وایم چې باید خپل وخت ضایع نه کړي ځکه که چېرې دوي زده کړه ترلاسه نه کړي نو په اینده کښې به له دوي څخه مزدوران جوړشي او په مزدوري کښې هېڅ ګټه نشته. زه پر دوي امر کوم چې باید شوخ ونه اوسي او کله چې خپل سري کوي نو د خاموشي بلنه ورته کوم. زه دوي پدې خبرو نه ډاروم چې (خاموش شی! که نه بیا پیشو یا سپی به راشی او تاسو به وخوري). زه د ډار په ځای دوی ته ښه شیان ور زده کوم. بعضی خلک خپل اولادونه د شوخي څخه نه منع کوي. کله چې هغوي ښونځي ته ځې نو زه ورڅخه پوښتنه کوم چې څه موزده کړل. زه ورته وایم (خپل درسونه زده کړه او د یو ښه ماشوم په څیر چلند وکړه.

سمندر همیشه په خپل کور کښې د ښځو او ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالۍ په شدت سره غندي. ځکه چې هغه د خپل دماشومتو ب د هغې وخت شاهد دی چې پلار یې د هغه مور په ډېر ناوړتیا سره وهله او ده به هڅه کوله چې هغه وژغوري.[23] که څه هم هغه د مصاحبې په دوران کښې وویل، که ماشومان د ۱۲ یا ۱۳ کلونو عمر ته ورسېږي نو کولاې شو هغوي په څپیړه وه وهو.

---

[23] ددغې کورنۍ د اړیکو او د تاوتریخوالي د تاریخ په اړوند د دغه اداری د واده او د هغه د رسمونو مقالې ته ځیر شی.

## ۲.۷ د مور او پلار څخه ویره

لکه څرنګه چې په څلورم فصل کښې پرې بحث وشو، بې له حیرانتیا، مور او پلار په ژوره‌ډول سره د خپلو ماشومانو د راتلونکې په هکله تشویش کوي تر څو د هغوي ماشومان د امکان تر پولې زده کړه ترلاسه کړي او یو داسې د مسئولیت څخه ډک ځوان ورڅخه جوړ شي چې وتوانیږي هم د خپلې کورنۍ او هم د ټولنې لپاره د خدمت مصدر وګرځي. ځکه چې زیات شمېر خلک پدې نظر دي چې فعلاً د هغوي ماشومانو ته د ډېرو فرصتونو او سهولتونو زمینه مساعده ده د هغه وخت په پرتله چې دوي ماشومان ؤ. همدارنګه داهم څرګند شو، چې نسبت د هغه وخت ټولنې ته، د نن ورځ په ټولنه کښې ډېرې بدې اغېزې وجود لري. مور او پلار یوازې د خپلو ماشومانو چې په هر عمر وي د هغوي د بد اخلاقي په داخل د ښوونځي کښې، یا د هغوي شخړه د ګاونډیانو سره، او یا داسې نورو شوخانه اخلاقو په اړوند تشویش کښې نه دي بلکه مور او پلار پدې تشویش کښې دي چې ګویا د هغوي ماشومان غله، د تاریاکو روږدي، شراب څښونکي او یا قماربازان نه شي. لکه څرنګه چې د موراو پلار زیات تشویش پدې هکله وي، که چېرې د هغوي ماشومان په مناسبه توګه د انضباط په چوکات کښې داخل نه وي نو د هغوي اینده به څرنګه وي.

د خلکو د دغه وېرې او ډار په اړوند یو واضح مثال د خپلو لوڼو د اینده په هکله ده، کله چې هغوي د واده نه وروسته د خسر کور ته ځي. نو ښځو د خپلو لوڼو د وهلو په اړوند دا دلیل څرګند کړ چې هغوي په دې ویره کښې دي، که چېرې د هغوي لوڼې د کور کارونه په منظم ډول سره زده نه کړي نو هغوي به د میړه په کور ددې کار په هکله و رټل شي:

> هغه (ښځه) خپله لور د کور د کارونو په اړوند ددې لپاره وهي چې کله هغه واده وکړي نو د کور د کارونو په ترسره کولو به وړتیا ولري. که چېرې لور د خاوند په کور کښې کورنۍ کارونه اجرا نه شي کړای، نو خسرخیل به هغه ورټي او ورته به وه وایي "لعنت دې وي ستا په موراوپلار چې تاته یې د کورکارونو د ترسره کولو په هکله ښوونه نه ده کړې".

د بامیانو ولایت په یوه کلیوال سیمه کښې، د زړې ښځې خبرې د ګډو خبرو اترو په مهال

کله چې لور په کور کښې کار نه کوي یا په مناسبه توګه تګ یا حرکت نه کوي، نو دهغې مور یې ددې کار په هکله وهي. دا د خلکو له نظره بد کار نه دی. ځکه کله چې هغه (لور) د خپل خاوند کور ته ولاړه شي او د کور په کارونو باندې تسلط ونه لري، نو د هغې مور ددې لپاره پړه بلل کېږي چې خپل لور ته یې د کور د کارونو د ترسره کولو ښوونه نه ده کړې. له دې سببه مورګانې خپلې لوڼې وهي او خلک دا یو بد عمل هم نه بولي.

د بامیانو ولایت په یوه کلیواله سیمه کښې، د پاخه عمر لرونکې ښځې خبرې د ګډې ناستې په مهال

لکه څرنګه چې پورته نقل شوې ویناوې ددې ښکارندوي نه دي چې ښځې کوښښ کوي ترڅو خپلې لوڼې د اینده تاوتریخوالي او بې حرمتي څخه وژغوري بلکه دوي د خپل حیثیت خوندي ساتلو په اړوند هم فکر کوي. دغه منظر چې ولې اړ یو چې لورګانې ووهو په بشپړ ډول د هغه لید سره کوم چې ۳.۴ کښې شرح شوی دی متغایردی، په نوموړې شرحه کښې لیکل شوي دي چې د لور ګانو وهل به هغوي په پرله پسې توګه سره قرباني او د میړه په کور کښې د تاوتریخوالي تر اغېزې لاندې راولي.

په حقیقت کښې، په عام ډول سره د کورنۍ حرمت او عزت خوندي ساتل یو بل دلیل دی، خلک زیاتره دخپلو ماشومانو د خوي په هکله تشویش کوي. دا دمخه د شدید بدنې سزا تر عنوان لاندې شرح شوې او د جنسي ناوړتیا په صورت کښې او همدارنګه کله چې یو ورور موظف وي تر څو د خپلې خور اخلاق او رویه خوندي وساتي، تطبیق شوې دي. البته، همداراز دا ډېرو ساده وو دورځیني موضوعاتو پورې هم تړاؤ لري، د بېلګې په توګه، که چېرې ماشومان په کوڅه یا په کلي کښې د نورو ماشومانو سره شخړه وکړي نو دا د موراوپلار لپاره د شرم سبب ګرځي او داسې احساس کوي چې عزت یې تر پښو لاندې شو. همدارنګه، لکه څرنګه چې په دریم فصل کښې شرح شوي، بعضې نارینه کله چې د هغوي ماشومان د میلمنو په وړاندې صحیح سلوک و نه کړي، په غوسه کېږي.

د ماشومانو په هکله تشویش او د هغوي د اخلاقو په اړوند ډار به په یقیني توګې سره د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی نه رامنځ ته کوي. البته، پدې راټول شوي معلوماتو کښې دسپلین په هکله فقط

يو څو د نورو لارو طرحې معرفي شوې دي. ددې برسېره، چې بعضې ځواب ورکونکو ويلې چې هغوي سره کومه بله لار نشته يا د کومې بلې لارې په هکله فکر نه شي کولای.

## ۳.۷ د نورو لارو چارو په لټه

مونږ اصلاً په نورڅه نه پوهيږو، نه نصيحت، يوازې وهل او ټکول د ماشومانو د اصلاح يوائېنۍ لار ده.

يوځوان سړی، د ننګرهار ولايت په يوه کليوالهٔ سيمه کښې

عبدالغالب چې ۵۰ کلن سړی او ښځه يې صنوبر چې د هغه څخه ۱۲ کاله کشره ده، د هغه متأهل زوي او نږور چې يو ځوی او يو لور سره دی وراندې نورو ۲ ماشومانو چې د ۱۸ کالو څخه کم عمر لري،(د کورنۍ ۸ نفشې ته ځيرشی) د ننګرهار په يو کلي کې ټول يوځای سره اوسيږي. ددوي ټول ماشومان ښوونځي ته ځي او عبدالغالب پخپله تر ۲ ټولګي پورې ښوونځی لوستی. صنوبر ښوونځی نه دی لوستی او بې سواده ده. هغوي په کلي کې يو جريب ځمکه لري ليکن د هغوي اساسي عايد د اوړو له ژرندې څخه چې د عبدالغالب په نوم دی او همدارنګه د عبدالغالب د معمارۍ له دندې څخه لاسته راځي.

دهغه کشر ورور عبدالفتاح چې د هغوي ترڅنګ په هم هغه کلي کې خپلې ښځې شفيقې چې يوه دايه ده، او خپلو دوو زامنو او دريو لورګانو، چې ټول د ۱۸ کالو څخه کم عمر لري، يوځای ژوند کوي. عبدالفتاح د خپل مشر ورور په نسبت شتمن دی، دارنګه چې ۵ جريبه حاصل خيزه ځمکه او د پېښور په ښار کې په يو دکان کې شراکت لري. عبدالفتاح پخپله باسواده دی چې ۱۰ ټولګې پورې يې ښوونځی لوستی دی او کله چې دهغوي کور پېښور ته تللی وه نو هلته يې مدرسه هم تعقيب کړه.

د زيات شمېر نورو خلکو په شان د دغو دواړو ورونو په نظر بدنې سزا د ماشومانو د اصلاح لپاره يوه ښه لار نه ګڼل کېږي.

"زه ماشومانو ته د هغوي د بدو کړنو په مقابل کښې نصيحت کوم او ورته وايم کوم کار چې دوي کوي مناسب نه دی. وهل او ټکول نشي کولای چې ماشومان سمې لارې ته برابر کړي. وهل او ټکول امکان لري چې په راتلونکي کې د ماشومانو دچال چلند په اړه خطرناک ثابت شي. لهذه دا چې وهل او ټکول ماشومان اصلاح کولای نشي". (د عبدالغالب ويناوې)

"په کور کې هېڅوک نه ماشومان وهي او نه ورته سزا اټکل کوي، بلکه زما ښځه هغوي ته صحيح لار ښيي او هغوي تشويقوي ترڅو ښه سلوک وکړي او بد سلوک څخه ډډه وکړي". (دعبدالفتاح له ويناوو څخه)

عبدالغالب د خپل زوی د معمولي وهلو کيسه وکړه، چې هغه يې د انګليسي ژبې د زده کړې کورس ته د نه تګ په هکله وهلی وه. د قصې ويلو نه وروسته د څېړنې ټيم هغه څخه وپوښتل چې هغه ددې عمل په اړوند څه احساس لري ، نو هغه هم خواشيني څرګنده کړه او هم يې وويل چې نه پوهيږم کله چې ماشوم خبره نه مني څه ورسره بايد وشي:

"د خپل زوي د وهلو څخه وروسته مې وويل. زه نه پوهيږم کله چې ماشوم زما خبره نه مني څه ورسره وکړم، او وروسته دوي زما زغم ازمايي. د ماشومانو روزل واقعاً يوه ستونزمنه دنده ده، مونږ کوښښ کوو چې دوي سره په مناسب ډول سلوک وکړو، مګر کله نا کله دوي ډېرې شوخې کړنې سرته رسوي".

دغه افاده چې "څرنګه ماشومان منضبط کړو" هم په ډله يزو ناستو کښې او هم په انفرادي ناستو کې څرګنده شوه. يوې ځوانې ښځې په ګډه ناسته چې د ننګرهار په ښار کې دايره شوی وه، خپل تشويش وښود چې د تاوتريخوالي پرته د ماشومانو انضباط او کنترول امکان نه لري:

"د ماشومانو وهل او ټکول يوه مناسبه لار نه ده مګر کله چې ماشومان تل شوخي کوي نو مونږ څه کولاي شو، مونږ خپله حوصله د لاسه ورکوو... مونږ نه شو کولای دوي په مناسبه توګه وروزو".

همداراز، بس بي بي، چې د ۳۰ کلو عمر لري، څلور زامن، دوه لورګانې، او فعلاً هم اميدواره ده، د ننګرهار په يو کلي کې استوګنه کوي. هغې هم خپل تشويش پدې هکله څرګند کړ چې پرته د وهلو خپل

ماشومان څرنګه تأدیب کړي:

زه پدې خوشحاله نه یمه چې ماشومان ووهم خو څه وکړم دوي ډېر شوخ دي او کله چې زه هغوي ووهم نو بیا هغوي هغه د شیطاني کارونه بس کوي. او کله چې هغوي وهم نو ډېره خپه کېږم.

ددې نامیدي د حس سره، دواړه بس بي بي او د هغې خاوند نصرالدین ادعا کوي چې هغوي د خپلو ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی نه دی څرګند کړی لکه څرنګه چې ددوي موراوپلار ددوي په وړاندې اختیار کړی ؤ، او دوي هېڅکله خپل ماشومان په لښته نه دي وهلي. نو مورې له ډېرې غریبې کورنۍ څخه شمېرل کېږي. ددوي په کور کې صرف نصرالدین روزمره مزدوري کوي، او یوازې خپل ماشومان او ښځه نه ساتي بلکه خپل مور او پلار هم ساتي. د هغه متأهل ورور او مجرد ورور او خور سره دهغوي د زامنو، هېڅ یو زده کړې ترلاسه کړې نه دي.

شمیم ګل، چې یوه ځوانه ښځه او د هرات ولایت په یوه کلیوا له سیمه کې استوګنه کوي، او دهغې کورنۍ د بس بي بي په نسبت تعلیم یافته او شتمنه ده، هغې ورته تشویش وښود:

ځیني وخت زه خپل ماشومان په څپیړه یا لښتې سره وهم... وهل مناسبه لار نه ده، مګر بعضی وخت بهتره وي چې ماشومان ووهل شي، زه فکر نه کوم چې د ماشومانو وهل ښه کار دی، مګر ځیني وخت مونږ اړ کیږو ترڅو ماشومان ووهو ځکه چې مونږ غوسه راځي، مګر نصیحت بهتره لار ده.

کټ مټ دې همدوي په شان عبدالمجید چې یو ځوان سړی او د بامیانو ولایت په یوه کلیوا له سیمه کې استوګنه لري (د کورنۍ ۹ نقشې ته ځیرشۍ)، هغه هم غواړي چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه مخنیوی وشي. عبدالمجید د خپلې ښځې کامله او خپل ځلور ژوندي ماشومان (یو انجلۍ او یو هلک مړه شویدي) چې ټول د ۱۲ کالو څخه کم عمر لري، ژوند کوي. د بس بي بي په شان عبدالمجید هم یوې غریبې کورنۍ پورې تړاو لري. عبدالمجید د اوړي په موسم کې د خلکو په ځمکو کې بزګري کوي او د ژمي په موسم کې په جومات کې کار کوي. عبدالمجید د ماشومانو وهل تاییدوي، او هغوي خاوند او ښځه دواړو د احقیقت پټ نه کړ چې حتی د عبدالمجید په پرتله کامله ماشومان لا زیات وهي. عبدالمجید د ماشومانو د وهلو په هکله خواشیني ښکاره کړه. کله چې د څېړنې ټیم د هغه څخه پوښتنه وکړه چې د خپل زوی د وهلو څخه وروسته هغه څرنګه احساس کوي نو عبدالمجید ځواب ورکړ:

زه ډېر خواشیني احساسوم. زه خپل ځان ته وایم چې هغه خو ماشوم دی او هغه په هېڅ نه پوهیږي. نو ما باید هغه نه وای وهلی او شاید هغه پدې توانیدلی وای چې دا کار بې سرته رسولی وای.

لکه څرنګه چې پورته ذکر شوې لنډې څرګندونې واضح کوي چې خلک د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړوند خپلې خواشیني ښکاره کوي. خلک د مختلفو عمر لرونکې ډلو څخه او همدارنګه د مختلفو اجتماعي او اقتصادي شالید ونو څخه، به دوي ډېر خوښوي که چېرې د ماشومانو د نظم او دسیپلین په اړوند نورې لارې پیدا شي.

## ۴.۷ د بدني سزا پر ځای نورې لارې چارې او د ماشومانو د روزلو لپاره د نوي مهارتونو زده کړه

لکه څرنګه چې دمخه شرح شول، بدني سزا ګانې د ټولو کتل شوو کورنیو ترمنځ چې البته د سزا کچې متغیرې مشاهده شوی، د ماشومانو د نظم او دسپلین په اړوند، استعمال شویدي. د ماشومانو وهل همدارنګه د ګډې ناستې د ګډون کونکو لخوا تایید شول تر څو په یو ټولنه کې د یو عامې موضوع په څیر وپېژندل شي. لکه څرنګه چې په پورته بخش کې ذکر شول چې خلک به ډېر خوښ وي ترڅو د ماشومانو د انضباط او دسپلین په اړوند غوره لارې پیدا کړای شي. سره له دی، د ماشومانو د منضبط کولو په هکله خلکو په نادره توګه د نصیحت نه پرته نورمثالونه وړاندې کړي.

البته یو څو وړاندیزونه لاسته راغلي دي لکه څرنګه چې عبدالصبور څېړونکو ته شرح کړ، کله چې دهغه د زوې ښوونکی راغی او عبدالصبور ته یې ووېل چې هغه باید د وهلو پرځای د خپل زوې

ویروي چې د سزا په ډول هغه باید ولاړ شي او غوا ته

وابنه راوړي ، دا پیښه پداسې حال کې پلې شوه چې باران وریده او د هغه دنده یې لا زیاته ستونزمنده کړه. یو بل شخص په جلالاباد کې عبدالصبور ته ورته قضیه څرګنده وي، دارنګه وه ویل، د هغه لور کله چې مور یې کلینیک ته تلله هغې وغوښتل ترڅو ورسره ولاړه شي او نه یې غوښتل چې کور کې پاتې شي. نو ددې په ځای چې خپل لور وه وهي هغه یې خپل غیږ کې ونیوله تر څو هغې خاموشي اختیار کړه، پداسې حال کې چې مور یې د کور څخه بهر وه.

دوه ځواني ښځې یوه د هرات ولایت د یو کلي په ښونځي کې او بله د ننګرهار ولایت د یو کلي په ښوونځي کې ښوونه کوي، دارنګه وه ویل، کله چې د هغوي ماشومان په کور کې صحیح سلوک نه کوي نو دوي د هغوي سره د څه مودې لپاره خبرې نه کوي او هغوي ته احساس ورکوي چې دوي ورڅخه خفه شویدي.

ځیني اوقات د بدني سزا لپاره یو بل لاسته راغلی لاره دادی چې ماشومانو ته پیسې ورکړل شي تر څو هغوي تشویق شي چې ښه سلوک وکړي او خپل کارونه په منظم ډول سره سرته ورسوي. په هرات کې یوې ځواني ښځې ډله یزې ناستې په دوران کې وه ویل چې دغه کړنلاره په ځانګړې توګه د هلکانو لپاره اغیزمنه ثابتیږي:

> ماشومانو ته پیسې ورکول مفید دي ځکه چې هغوي به فکر کوي که چېرې ښه کار وکړي نو په مقابل کې به پیسې لاسته راوړي. دا په ځانګړې توګه د هلکانو د راتلونکي لپاره ښه ده او کېداي شي هغوي ته ور ښکاره کړی چې څرنګه پیسې وګټي.

ددې مثالونو په هکله هېڅ شی حیرانونکی نه لیدل کېږي بغیر له دې حقیقت څخه چې دارنګه مثالونه په نادره توګه د بلې لارې په توګه د بدني سزا یا د ماشومانو د تربیت او منضبط کولو کړنلارې په هکله توصیه شویدي.

# ۸. د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي دلایل۲: د کنټرول دلاسه ورکول

دغه نظریه چې د ماشومانو د تربیت لپاره بدني سزا ضروري ده ترڅو هغوي نیک خویه وساتل شي. دغه فصل به د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی ځینې نور سببونه شرح کړي. لومړی به دا شرح کړو چې څرنګه روحي فشار، نا امیدي او اندېښنه د عصبانیت سبب ګرځي چې لویان اړ کوي ترڅو د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی څرګند کړي. پردې به هم بحث وشي چې ماشومان په ډېر اسانی سره د مشرانو د اندیښنې، خفګان او قهر قرباني ګرځي. په دوهم پړاو کې هغه دلایل او سببونه چې د ځوابورنکو لخوا څېړونکو کسانو ته ورکړشویدي کوم چې شاید د کورنۍ ترمنځ روحي فشار نور هم لوړه وي او د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي خطر زیاته وي.

## ۱.۸ د مشرانو احساسات څرنګه د تاوتریخوالي کچه معلوموي

حتی که چیرې ماشوم یو شوخ عمل اجرا کړي نو بیا هم دا به د مشرانو د قهر نتیجه وي چې هغوي اړ کوي ترڅو ماشوم وه وهي. بلکل همدارنګه، د هغو خلکو چې ورسره ناسته شوی وه ترمنځ یې یو عمومي پیژندل شوی افاده دا وه چې د یو شوخ عمل په هکله شدیده سزا د اجرا شوي عمل پورې نه بلکه د لویانو د خاصیت او طبعیت پورې تړاو لري. دا افاده په واضح ډول سره د خلکو لخوا څرګند شوی دی:

> دا دمور او پلار د طبعیت پورې تړاو لري چې ځینې مور او پلار بې حوصله وي او هغوي خپل ماشومانو ته د وړو کارونو په مقابل کې وهل ورکوي.
>
> زړه ښځه په بامیانو ولایت کې

> دا په شخص پورې تړاولري، که چیرې یو شخص زغمونکی وي، نو هغه به خپل ماشوم ته وهل نه ورکوي، مګر که چیرې شخص بې تحمله وي لکه ما غوندې نو هغه به خپل ماشوم ته وهل ورکوي.
>
> یو ځوان سړی، د بامیانو ولایت په کلیواله سیمه کې

داډول کیسې کېږي، په ځانګړې توګه د ښځو په وینا، د مور او پلار روحي تشویش، قهر یا عصبانیت د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي شدید کړنو سبب کېداي شي. داهم وویل شو چې دماشومانو په وړاندې پرله پسې شدیده سزا د هغوي په کړنو پورې نه بلکه د مشرانو د احساساتو پورې تړاو لري. په حقیقت کې داخبرې پداسې ترڅ کې واضح شوي چې لویان باید د تاوتریخوالي په هکله ماشومانو ته توضیحات ورکړي.

دغه افاده (اصطلاح) «زه عصباني شوم» دا کلیمه په مکرر ډول سره هم د نارینه او هم د ښځو په واسطه استعمالیږي او دا اصطلاح مخکې لدې نه چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي قصه پیل کړي پدې کلیمې باندې اتکا کوي. او په نادره توګه خلکو به دا ویل «زما ماشوم شوخي کوله نو ځکه ماورته وهل ورکړل» حالانکه ددې په ځاې باید وویل شي «زما ماشوم شوخي کوله او زه قهرجن شوم او هغه ته مې وهل ورکړل». دغه قول د نمونې په ډول راخیستل شوی دی کوم چې د زیات شمېر خلکو له طرفه د څېړنې ټیم ته ویل شویدی:

> کله چې ماشومان ما او زما خاوند قهرجن کړي نو مونږ هغوي ته وهل ورکوو. او همداراز په هغو وختونو کې کله چې ماشومان شوخي یا یو دبل سره شخړې کوي او هرڅه بې نظمه او ګډوډوي.

د بامیانو ولایت د یوې کلیوالې سیمې ښځه یو ځوان هلک چې رسول نومیږي، هغه د خپل قهر په اړوند چې په خپل وراره یې کړی وه یادونه وکړه، دارنګه چې وراره یې هغه میلمانه نه ؤ دعوت کړي کوم چې عبدالرسول ورته ښودلي وه. هغه شرحه کړل چې په خپل وراره باندې په قهر کېدو په صورت کې د هغه څخه خپل لور زخمي شوه:

> زه قهرجن شوم. ما غوښتل چې د حاجي محمد جلیل زوي په رسۍ سره ووهم مګر رسۍ خطا شوه او زما د لور په غاړه ولږیدله او دهغې غاړه یې خوږ کړه او زه پدې کار ډېر خواشینی شوم.

د خلکو ترمنځ یو بله عامیانه اصطلاح کله چې د خپلو ماشومانو د وهلو په اړوند خبرې کوي «زه پر هر هغه شي چې لاسته راشي ماشومان پرېوهم» دا څرګندوي چې هر هغه اله چې د اسلحې په څیر ورڅخه استفاده کوي. لکه څرنګه چې دغه شخص د ګډې ناستې په مهال وویل چې، د ماشوم وهل د هر هغې الې پواسطه چې لاسته راځي دا څرګندوي چې شخص خپل کنترول دلاسه ورکړی.

> ځینې خلک احساساتي وي او هر څه چې لاسته ورځي خپل ماشومان ورباندې وهي. مګر ځینې خلک چې احساساتي نه وي هغوي پردې فکر کوي چې باید ماشوم په کوم شي سره ووهل شي.

ځینو خلکو داسې څرګند کړیدي چې کوم شیان دي چې د هغوي د روحي فشار، یا د هغوي د قهر یا ناامیدۍ باعث ګرځي. سمندر (د کورنۍ ۷ نقشې ته ځیر شی) واضح کړه چې هغه د کور څخه بهر په قهر شوی وي او خپل قهر څرنګه کور ته راوړي:

> په کلي کې ځینې اوقات دارنګه پیښې صورت مومي چې زما د قهر سبب ګرځي. او کله چې په همغه طبیعت کورته راشم، نو پداسې حالاتو کې دماشومانو د شورماشور په ترڅ کې زه په قهر کیږم او بیا مور ته یې اواز کوم، چې په پایله کې مونږ ستونزې سره مخامخ کیږو یا ماشومان وهم.

لکه څرنګه چې په مقدمه کې ورته اشاره وشوه، د تحلیل په ډول دا به ګټور وي که چېرې د دوو تاوتریخوالو د استعمال ترمنځ یعني د تربیت په هکله تاوتریخوالی او د قهر څخه پرته تاوتریخوالی توپیر وشي. البته په حقیقت کې پورته دواړه عملونه اکثره وخت د ماشومانو په وړاندې په تاوتریخوالي دلالت کوي. د خلکو په نظر به څرنګه مشاهده شي که چېرې یو شوخ عمل چې د یوې څپیړې غوښتونکی وي ددې سبب شي چې د کور لویان پداسې حال کې چې هغوي ناامیده یا د فشار لاندې وي، مجبور کړي تر څو ماشوم ته په شدت سره وهل ورکړي. بلکل همدارنګه، وګړي همیشه نشي کولای چې د ماشومانو په وړاندې د دغو دوو ډولو تاوتریخوالي ترمنځ توپیر وکړي. د بېلګې په توګه، ماه جان د خپل د ځوې د وهلو په اړوند یادونه وکړه دا عمل پداسې وخت صورت وموند کله چې هغه د کار کولو څخه وروسته ستړې او ستومانه شوې وه. البته په عین وخت کې د خپل زوې او وراره د وهلو تصدیق یې هم وکړ چې د تربیت په اړوند یې هغوي ته وهل ورکړي وه:

> مور او پلار خپل اولادونو سره مینه لري او همدارنګه زه هم خپل زوي سره مینه کوم مګر کله چې د کار نه ستړې او ستومانه کور ته راغلم، او زوی مې په خبره ونه شو، نو ما هغه ته وهل ور کړل.. هو ! ما هغه ته بلکل همغه شان وهل ورکړ څرنګه چې مې خپل وراره د لښتو، بوټان او بوکس او څپیړو سره وهلی وه. کله چې زه په قهر کېږم نو زه هغه وهم. لکه څرنګه چې اوس ما خپل وراره ته وویل چې هغه باید ښوونځي ته ولاړ شي او د سرک په سر باید هلکانو سره مستي ونه کړي.. لکه څرنګه چې ما وه ویل کله چې زه خپله حوصله دلاسه ورکوم نو بیا هرڅه چې لاسته راشي پر همغه یې وهم.

ماه جان کوښښ وکړ چې خپل تاوتریخوالی د ماشومانو په وړاندې د هغوي د تربیت په هکله ثابت کړي مګر داچې دهغې د ابتدایې تاوتریخوالی سبب او علت د هغې خپل د قهر، عصبانیت او د ناامیدي احساسات دي. البته ځینې خلک پدې پوهیږي، ځینې وخت د تربیت او انضباط په هکله تاوتریخوالی څخه یو بې کنترول تاوتریخوالی منځ ته راځي، لکه څرنګه چې یوې ښځې د خپل ندرور څخه دا هیله لرله چې کله هغې خپل لور وهله نو باید ندرور یې د هغې څخه ممانعت کړی وای. ځکه چې په هغې وخت کې د قهر له وجې هغې خپل کنترل دلاسه ورکړای ؤ:

> تیره اونۍ زما لور ماته وه ویل«زه ښوونځي ته نه ځم، او کوم سبب هم موجود نه وه» نو ما پرهغې فشار او ټینګار وکړ چې باید ښوونځي ته ولاړه شي مګر هغې زما خبره وه نه منله نو بیا ما هغه په څپیړو او بوټانو او هر څه چې لاسته راتلله پرهغه مې وهله، وروسته مې خپل ندرور ته وه ویل«کله چې ما خپل لور وهله، ولې، تا زما ممانعت ونه کړ؟ زه په هغه وخت کې په قهر وم... باید تا زما څخه ممانعت کړی وای».

لدې څخه دا څرګندیږي چې ښایې، دا دمور او پلار احساسات دي چې هغوي دې ته اړ کوي تر څو د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی

ثرګند کړي، لکه ثرنګه چې کاملې هم همدا خبره ثرګنده کړې وه. کامله چې یوه ډېره غریبه ښځه چې خپل خاوند او درې ماشومانو سره ژوند کوي. هغې خپل کور خپل دریو لیورونو او دهغوي ښځو او ماشومانو سره تقسیم کړی دی:

> کله چې ماشومان شوخي کوي زه هم هغوي وهم او په هغوي قهر کوم مګر ماشومان پدې نه پوهیږي چې د هغوي لپاره څه ښه دي او څه بد، ځکه چې هغوي واړه دي او هر کله چې مور او پلار هغوي د یو کار د کولو څخه منع کوي نو هغوي خبره نه مني، مګر دا دهغوي ګناه نه ده. هغوي په بشپړ ډول سره غټ شوي نه دي چې د ښو او بدو تر منځ توپیر وکولای شي. مګر اوس زه بې حوصلې یمه.

د ورستنیو ویناوو څخه ثرګندیږي چې نوموړې ښځه په خپل ځان انتقاد کوي او همدارنګه د ماشومانو پر وهلو خفګان ښکاره کوي ځکه چې هغې نشو کولای خپل ماشومان وزغمي. پدې اړوند د هغې خاوند هم له هغې سره شخړه وکړه او پري قهر شو چې ولې یې ماشومان وهلي دي. دا هم همغه شان عکس العمل دی چې وایې هغوي نه غواړي چې د تربیت او نظم په هکله تاو تریخوالی اختیار کړي مګر هغوي نشي کولاي چې ددې عمل لپاره کومه بله لاره پیدا کړي. لکه ثرنګه یو ځوان شخص دننګرهار ولایت په عین منطقه کې په خلاصه کولو سره وه ویل:« زه خفه شومه. کله چې زه خپله حوصله دلاسه ورکړم نو څه کولای شم، بیا زه هغوي په څپیړو او په هرڅه وهم».

## ۱.۱.۸ د نورو خلکو قار او غوسه پر ماشومانو ویستل

یو شمېر هغه ښځې چې د څېړنې ټیم ورسره خبرې کړې وې، هغوي د خپلو هغو خپلوانو چې ورسره یو ځاي په کور کې ژوند کوي لکه خاوند، خواښې، ندرور، بن، خپلې اړیکې د هغوي سره شرح کړې. دا خبره د رافعه جان په کیسې (د کورنۍ ۱۰ نقشې ته ځیر شي) کې ښه واضح شویدی، کله چې هغې د خپل شپږ کلن ځوې پر غاښ ضربه وارده کړه او مات یې کړ دا قضیه پداسې حال پیښه شوه کله چې هغه د خپل خاوند له وجې عصباني شوې وه. رافعه جان او خاوند یې په کال ۱۹۸۹ کې واده کړی او دوي همیشه د اقتصادي ستونزو سره مخامخ وي. د هغې خاوند په کلي کې شتمنو کورنیو څخه ماسته اخلي او هغه د کابل ښار ته د خرڅلاو لپاره وړي. درافعه مشر زوی فعلاً بې کاره دی. مخکې د هغې زوی په ساختماني کارونو کې روزمره مزدوري کوله او همدارنګه په بازار کې به یې سبزیجات خرڅول. دوي ځمکه نه لري او په کلي کې له ډېرو غریبو کورنیو څخه شمېرل کېږي. رافعه او دهغې خاوند زده کړه ترلاسه کړې نه ده. رافعه جان یو ستونځمن ژوند لري. رافعه جان زیاته کړه چې د هغې لومړی خاوند څوک چې د جان آغا ورور دی، پر هغې مهربان دی مګر ځینې وخت د هغه د مور دتاکید له وجې رافعه ته وهل ورکوي. په هر صورت، هغه فعلاً پدې واده خوشحاله معلومېږي او ویل یې چې د هغې خاوند اوس هغه نه وهي. رافعه ویل چې د ماشومانو وهل غلط کار دی، هغې واضح کړه چې باوجود ددې نظرې هغه تراوسه هم خپل ماشومانو ته وهل ورکوي:

> دماشومانو وهل ښه کار نه دی. کله چې زما لومړۍ لور پیدا شوه، کله چې هغه کوچنۍ وه نو ما ډېره وهله، زه پوهیږم چې ماشوم باید ونه وهل شي ځکه چې هغوي په څه نه پوهیږئ. نو په همدې دلیل مور او پلار باید ماشومان ونه وهي. مګر کله چې زما خاوند ماسره شخړه کوي او زه په قار شم نو بیا زه خپل ماشومان وهم. او کله چې د کور دکارونو څخه ستړي شم او ماشومان زما خبره ونه مني نو بیا خپل ماشومان وهم. یو ځل ما په کور کې کالي منځل او ثرنګه چې کالي ډېر چټل وه نو زه یې ډېره ستړې کړمه. او خاوند می په کور کې ساختماني کار کاوه، کله چې زه د کالیو منځلو څخه فارغه شوم او بغیر د چاې له وقفې څخه خاوند مې وویل چې باید د هغه لپاره د شپې خواړه پاخه کړم. ما وویل چې د چای څښلو څخه وروسته به خواړه پاخه کړم، مګر هغه زما خبره ونه منله او وی ویل چې باید همدا اوس خواړه پاخه کړم. زه په غوسه شوم مګر هغه ته مې هېڅ ونه ویل. په عین وخت کې زوی مې راغی او ماورته وه ویل چې باید خپل مخ ومنځي مګر هغه زما خبرې څخه انکار وکړ او وی ویل چې زه باید د هغه مخ ومینځم. لکه ثرنګه چې زه په خپل خاوند په غوسه وم او هغه ته مې څه نه وو ویلي نو ما یو غټه تیږه راواخیستله او زوی مې پرې وه ویشته او پر هغه مې چیغې او سورې جوړې کړې چې څه درته وایم هغه اجرا کړه. زه ستا غلامه نه یمه. بدبختانه، تیږه د هغه په خوله ولږیدله او وینې ورڅخه روانې شوي.

**ځلرم چوکاټ: د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی ښځه د خپله ماشومانو د مسؤلیت درک**

> *زما په نظر دغه انځور یو هلک د هغه له پلار سره ښیي او ښایي چې دا سړی غواړي خپل زوی ویېروي ښایي چې زوی یې څه غلط کار کړی وی لکه چې بې ګفتې یې کړې وی او پلار یې غواړي چې وهل ورکړي*—د کابل په ښاری سیمه کې یو پوخ سړې د عکس په کتلو دغه ځواب ورکړ
>
> *زه فکر کووم چې دغه هلک تېروتنه کړې ځکه خو د هغه پلار غواړي چې و یې وهي. ددې لپاره چې په نن ورزو کې هلکان په چرسو او ونښتي او د هغه په څکلو سره بد کارونه تر سره کوی. او ښایې چې دغه هلک هم له هغو څخه یو وی او پلار یا ورور یې پرې خبر شوی او غواړي چې ویې وهي. که یو هلک ښه چال چلند ولري نو پلار یا ورو به یې هیڅکه و نه وهي*—د کابل ښاری سیمه، د یو انځور په کتلو سره د یوی ځواني ښځې ځواب
>
> *کله نا کله ماشومان د مور زغم ختم کړی او ځکه خو مور هغوی وهي*—د جلال آباد ښار ښځه، سپین سری ښځه
>
> *ماشومان مور او پلار په غوسه کوی، مور او پلار باید ماشومان و وهي*—د هرات له کلیواله سیمې څخه یو ه ځوانه ښځه

دا کیسه نه یوازې دا واضح کوي چې هغه څرنګه خپل قار کوم چې د سخت کار یا دخاوند د غوښتنو په ترڅ کې منځ ته راغلی وي، پر ماشومانو تحمیل کوي بلکه د هغې کړنلاره او اخلاق هم واضح کوي. ددې پدیدې لپاره یو بل مثال د نادیه دی، څوک چې د جمعه علي دریمه ښځه ده او دهغې بن د مومینې مور ده (د کورنۍ ۳ نقشی ته ځیرشۍ) او دوی د بامیانو ولایت په کلې کې ژوند کوي. هغې شرح کړه کله چې خوابنې یې پردې فشار وارد کړي نو بیا هغه خپل ماشومان وهي.

> زه هر کله په ماشومانو نه په قار کېږم، مګر کله چې زما خوابنې زما څخه خفه شي نو بیا زه ماشومان وهم، که چېرې لښته پیدا نشي نو زه هغوي پر سوکانو او لغتو وهم ...کله چې هغه پر ما غوسه کېږي نو بیا زه خپل ماشومان وهم، او هغې ته وایم چې زه صرف ستا له وجې متاثره کېږمه.

## ۲.۱.۸ د لویانو تاوتریخوالي په هکله د ماشومانو مکلفیتونه

سره له هغو ویناؤ چې په پراخه پیمانې سره خپرې شوي چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي شدت او سطح د لویانو دهمغه وخت احساساتو پورې تړاو لري، ددې برعکس یو بله عامیانه څرګندونه هم وجود لري چې که چېرې ماشوم ووهل شي نو باید هغه یو خراب عمل ترسره کړی وي. دغه نظریه په واضح ډول سره د عکسونو په اړوند د خلکو ځوابونو کې روښانه شویدی، او دا موضوع د کړنلارو په څېرکي کې شرح شویده، نوموړي عکسونه په ډله یزه ناسته کې ښودل شوي کوم چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی منعکس کوي. که چېرې په یو عکس کې د ماشوم په وړاندې تاوتریخوالی صورت نیولای وي او دا عکس یو له برخه اخستونکو پواسطه تفسیر شي نو هغه به هرومرو ووایې چې ماشوم حتمي یو ناوړه کار سرته رسولی دی. په ځلورم بکس کې لومړی، دوه ویناوی په واضح ډول سره دې خبرې ته اشاره کړیده. په همدې بکس کې وروستی دوه ویناوې د لویانو مسولیتونه څرګندوي پداسې حال کې چې هغو د ماشومانو په وړاندې خپله حوصله د لاسه ورکړې وي. دا ماشوم دی چې د لویانو د قار او دهغوي د حوصلې دلاسه ورکولو سبب ګرځي. اوس په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي دا یو بله مذاکره ده کوم چې دمخه ذکر شوي اړوندو چلندونو سره په تضاد کې واقع کېږي.

پدې مرحله کې دا په ضروري وي چې هغه دلیلونه او سببونه چې د کتل شوو خلکو څخه لاسته راغلي دي، وکتل شي، لکه کوم شی دی چې د

لويانو د نااميدي، قار يا دروحي فشار سبب ګرځي او همدارنګه د خپلو ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي سببونه.

## ۲.۸ د اقتصادي نا خونديتوب غير مستقيمې اغېزې

بايد د مخه وويل شي چې ددې څېړنې په مطابق د تاوتريخوالي زياتوالی او کموالی د کورنيو په نسبي غريبوالي ، بې تعليم توب يا دماشومانو د شمېر زياتوالي پورې تړاؤ نلري. دا پدې معنی هم نه دی چې غربت يا په کور کې د ډېر شمېر ماشومانو موجوديت د تاوتريخوالي په عواملو کې مرسته نه کوي. پدې برخه کې به پر هغو نظرياتو چې په ټولنه کې د ځواب ورکونکو لخوا وړاندې شويدي، بحث وشي، لکه دا چې ولې دوی د فشار يا نااميدي احساس کوي.

عبدالرسول چې **۳۵** کلن سړی دی او په اقتصادي توګه نسبتاً مسترح او د نفوذ او قدرت لرونکې کورنۍ ده چې د باميانو ولايت په يو کلي کې ژوند کوي، او **۵** ماشومان لري. هغه اشاره وکړه چې يو ضعيف اقتصادي حالت د يو انسان روحي فشار څرنګه لوړوي چې په پايله کې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی منځ ته راځي:

> زما په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي اساسي وجه زما د کورنۍ ضعيف اقتصادي حالت او کورنی ماحول ګڼل کېږي. کله چې زه کور ته راشم او ووينم چې يو شخص دروازه کې ولاړ او هغه قرض چې ما ته يې راکړی د هغې غوښتنه کوي، نو پداسې حالاتو کې زه به په خپل ماشومانو په غوسه شم او همدارنګه په کوچنيو شيانو په ښځې به په قار شم. نو ددې په ځاې چې ماشومانو سره په ارامی سره خبرې وکړم نو زه به هغوې تهديد کړم.

په کورنۍ کې دا د شخص نظر وي چې فکر کوي دغه د بدني سزا ور کولو موقع ده. البته، هغه پدې پوهيږي، لکه څرنګه چې ذکر شوو ويناوو دا څرګنده کړه، چې څرنګه بيروني عوامل د لويانو په احساساتو باندې اغېزه کوي او دوې اړ باسي تر څو د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی اختيار کړي. په همدې دليل شخص په پورته وينا ووکې ضعيف اقتصادي حالت يو له بيروني عواملو څخه وښود.

البته، د رسول کورنۍ غريبه نه ده او په حقيقت کې دوي د نورو په نسبت په منطقه کې پوره اندازه ځمکه او څاروي لري. په ځانګړې تو ګه اقتصادي ستونزې پر هغه فشار واردوي. ټول وګړې نسبتاً شتمن وي يا غريب د اقتصادي نا خونديتوب حالتونو سره مخامخ کېږي.

اقتصادي ستونځې ددې سبب ګرځي چې خلک تر ځانګړې فشار لاندې راشي، او دوی اړ کېږي چې د نااميدي احساس يا حتی د کمزوري احساس وکړي، نور عوامل هم کولای شی په خلکو کې دغه احساسات وپاروي. د بېلګې په توګه، شکيب څوک چې خپلو واړه ورونو او خويندو په وړاندې تاوتريخوالی څرګندوي او دهغه مور او پلار د نورو ټولو کورنيو چې په څلور ولاياتو کې کتل شوي، د هغو پرتله شتمنه کورنۍ ده. شکيب پخپله څرګند کړه چې کله هغه د کالج څخه کورته راځي، هغه ستړی او وږی وي نو پداسی حال کې هغه خوښ ګڼي چې خپل خويندې او ورونو ته وهل ورکړي. د څېړنې ګروپ پدې شک لري چې شايد هغه کالج ته نه تله بلکه هغه وظيفه نه لرله، چې د هغه د کمزورۍ او نااميدۍ دا يو بل دليل کيدای شو.

د اشخاصو بې وظيفه توب يو بل لاسته راغلی دليل دی چې د قار او نااميدي باعث کېدای شي چې پداسې حالاتو کې هغوی اړکېږي تر څو د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی څرګند کړي. کامله چې په **۲.۲** برخه کې معرفي شوه، هغې واضح کړه چې د هغې خاوند چې بی وظيفې دی يوازې پدې معنی نه دی چې هغه زياتره وخت په کور کې دی بلکه همدارنګه دماشومانو د وهلو په اړوند ډېره موقع هم لاسته راوړي، ځکه چې هغه په کور کې ستومانه کېږي:

> زما خاوند وظيفه نه لري. هغه هميشه په کور کې وي. کله چې ماشومان خرابي وکړي نو هغه ورته وهل ورکوي او که چېرې زه ورته څه ووايم نوما هم په څپېړو او بوټانو وهي... هغه وايي چې زه په کور کې تنګ شوی يم ځکه چې تل په کور کې يم.

د لويې کورنۍ سره ژوند کول هم د روحي فشار د زياتوالي سبب ګرځي او دماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي کچه لوړوي. لکه څرنګه چې يو ځوان شخص د کابل په ښار کې ګډې ناستې ته وويل، «ښځې او ماشومان د يو خاليګاه په پيدا کولو کې سره سيالي کوي». دا بايد هم نوټ شی، چې امکان لري په لويو کورنيو کې د

تاوتریخوالي ښکار شوي کسان د فامیل د نورو غړو پواسطه حمایه شي، لکه څرنګه چې د شکیب عمه یعنی ملالی د هغه خور څخه حمایت وکړ. همدارنګه نیا ګانې د مور ګانو څخه د توندي په مهال ممانعت کوي تر څو د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی ونه کړي.[24]

بې له یو څو استثناأتو څخه، د جلال اباد اوسېدونکو د تاوتریخوالی لامل د ماشومانو د زیږیدنې لوړه کچه په ګوته کړه، چې د احساساتو فشار او نا امیدي د تاوتریخوالي سبب ګرځي. امکان دې وي چې مخکښې ورته اشاره شوي وي چې زیاتره کورنۍ په ځانګړو ناوړه حالاتو کې ژوند تیروي.

اقتصادي فشارونه، بې وظیفه توب او د ژوندون سخت حالات هغه څه د ي چې د ځواب ورکونکو لخوا دوباره پدې ټینګار وشو او د فشار او نا امیدي له سببو څخه شمېرل کېږي. په ۲.۱ برخه کې د ښځو نا امیدي د هغوي د کورني خپلوانو له وجې پیداکېږي او داهم په ځانګړې توګه په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي علت او سبب کېداي شي. همدارنګه د اشخاصو، فشار، نا امیدي، قار یا کمزوري احساسات کېداي شي چې په پراخه پیمانې سره د عواملو د ډولونو څخه وشمېرل شي. په پایله کې، دا به دقیق نه وي چې کوښښ وکړو چې دیوې کورنۍ حالات پرې مقصر وګڼو، لکه غربت، د ماشومانو د تاوتریخوالی په هکله، پدې اړوند داهم یو بې ځایه کوښښ به وي چې هغه لارې پیدا کړو تر څو د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی کم یا ختم کړو.

ددې په ځای چې پدې ځای کې مشاجره وکړو، له دې څخه به دا ډېره اړینه وي چې هغه علتونه پیداکړو چې ولې خلک کله کله چې د فشار او نا امیدي احساس کوي د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی څرګندوي. پدې اړوند یو علت د فشار د اداره کولو د تکنیکونو څخه بی خبرتیا دی او دوهم کله چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی ومنل شي، که چېرې د ټولو خلکو پواسطه قبول نشي، نو خلک به په پرله پسې توګه د تاوتریخوالي په اړوند د خفګان احساسات اظهاروي.

په همدې وجه، پدې بحث وشو چې دا به اړینه وي تر څو د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په روش کې عمومي تغیرات صورت ومومي. د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی باید نه صرف د منلو وړ ونه کرځول شي بلکه بې حرمته هم وګڼل شي او حتی پرې د یو داسې شی تصور وشي چې په هر قیمت ورڅخه مخنیوي وشي، او داسې یو شی چې د ټولنې لخوا ونه زغمل شي.

داسې بریښې چې د وخت په تیریدو سره به د تاوتریخوالي چلند او همدارنګه د تاوتریخوالي کچه تغیر ومومي. دغه تغیرات په لاندې برخه کې واضح شویدي ترڅو په اینده کې د لازیات تغیرات را په ګوته کړي.

[24] د کورنۍ د جوړښت او د هغې تأثیر په کورني تاوتریخوالي په اړوند د زیات معلومات لپاره د دغه اداری هغې راتلونکې ترکیبي مقالې ته ځیر شی چې د کورنۍ اړیکو او تاوتریخوالو په اړوند دی.

# ۹. په مخکې لارې: د بدلون لپاره فرصتونه

دغه برخه کې تاکید کیږي چې هم د تاوتریخوالي په وړاندې د ټولنې روشونه او هم انفرادي سلوک د ماشوم په وړاندې د بدلون وړتیا لري. دلته لومړی په یوه کورنۍ کې د نسلونو په اوږدو کې د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د سلوک د تغییر څرنګوالي ارزول کیږي. او بیا یا په دوهمه مرحله کې په کورنۍ کې دما شومانو په وړاندې د تاوتریخوالي د کچې د تغیرپه اړوند بحث کوی او د خلکو نظرونه چې څرنګه او ولې دوخت په تیریدو سره د هغوی په ټولنه کې د تاوتریخوالي کچه تغیر موندلی دی. په پای کې بحث پر دې دي چې څرنګه او ولې څنو خلکو د ماشومانو پر وړاندې خپل سلوک بدل کړی دی او په څه دلیل. دغه مساله یوازې دا نه ښکاره کوي چې روشونه او سلوک څرنګه تغیر موندلی دی بلکه داهم څرګنده وي چې څرنګه کیدای شی په راتلونکې کې منفي روشونه او سلوک بدل شي.

## ۱.۹ په یوه کورنۍ کې د نسلونو په اوږدو کې بدلون

په اکثرو مواردو کې د ماشومانو تادیب او د هغو پر وړاندې د تاوتیریخوالي په اړه د خلکو لید لوري او چلند د دی حقیقت څخه متاثر کیږي چې یو وخت هغوی خپله د ماشومانو په توګه تاوتریخوالی تجربه کړی دی. په خلکو کې دا ډیره عامه وه چې د خپل کوچنی والي د تاوتریخوالي په اړوند به یې څرګندونې کولې او ویل به یې چې تاوتریخوالی ډیر بد دی او نه غواړي چې په خپلو ماشومانو یې هم ترسره کړي. یو شمیر خلکو ویل چې په خپل کوچني والي کې یې د والدینو لخوا تاوتریخوالی ندی لیدلی او غوښتل یې چې دوي هم د خپلو ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه کار وانخلي او خپلو والدینو ته ورته چلند ورسره وکړي. بیاهم ځیني خلک ؤ چې د والدینو لخوا د تاوتریخوالي ښکار شوي ؤ، او نوموړو تاوتریخوالی یې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه ښه بیانوؤ او پخپلو ماشومانو یې هم تاوتریخوالی ترسره کاوه.

یو ځوان سړي چې په ننګرهار کې یې د یوې ګډې ناستې په مهال خبرې کولې وویل چې هیڅ کله به هغه چلند تکرار نکړي کوم چې پلار یې په هغه ترسره کاوه:

> په کور کې یو وراره لرم، هغه وړوکی هلک دی، زه هغه هیڅکله نه وهم ځکه چې د ماشومانو وهل ډیر بد عادت دی. کله چې زه ماشوم وم پلار به مې ډیر وهلم، نو زه به هیڅکله هغه څه تکرار نکړم چې زما پلار کول.

ددې یو بل مثال اسدالله چې د عبدالغالب اوښی دی وړاندې کوي (د کورنۍ ۸مه نخشه وګورئ)، هغه د څیړنې ټیم ته هغه کیسه وکړه چې د پلار له خوا په لس کلنۍ کې رټل شوی ؤ. هغه وویل چې د سیند په لور تللی ؤ، کله چې بیرته کورته راغی، پلار یې ډیر په غوسه ؤ او ډیر یې وواهه، ان تراوسه هغه ته د خپل پلار وهل وریه یاد دي او له نوموړي له وهلو څخه اوس هم خواشینی دی.

> هغه وهل مې لاتراوسه په یاد دي، او ځینې وخت ډیر خواشینی شم چې د وهلو پر ځای یې ولې نصیحت نه راته کاوه.

اسدالله کوښښ کوي چې د خپلو ۱۵ بچیانو سره بد چلند ونه کړي. هغه وایي چې هر وخت خپلو ماشومانو ته وړوکې تحفې په جیب کې ساتي ترڅو د هغوي چلند ښه شي. مګر بیاهم هغه د څیړنې ټیم ته یوه کیسه وکړه چې یوه ورځ یې خپل زوي په بازار کې ډیر سخت وواهه ان تر دې چې د بازار شاوخوا خلکو ورڅخه خلاص کړ، هغه نه غواړي چې د ماشومانو سره د خپل پلار په څیر چلند غوره کړي مګر بیاهم د کنترول د له لاسه ورکولو په اساس هغه د خپلو ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه کار واخیست.

ضیاء چې د دیرشو کلو په شاوخوا کې عمر لري او یو څه زده کړه یې کړې او همدارنګه اقتصاد یې هم نسبتاً پیاوړی دی، د ورته احساس لرونکی دی. هغه وویل چې پلار یې کوم چلند ورسره کړی نه غواړي په خپلو بچیانو باندې یې پلې کړي. مګر د هغه ورور یونس چې د ضیاء څخه ۱۵ کاله مشر دی، بل ډول نظر لري او د ضیاء سره په استثناء توند خویه دی، د نوموړي د تاوتریخوالي ښکار نه یوازې د کورنۍ ماشومان بلکه ښځې هم دي. یونس پخپله وویل چې هغه د کورنۍ د ماشومانو او ښځو په وړاندې ډیر توند دی، ان تر دې چې د خپل ورور ضیاء میرمن او ماشومان هم وهي، وهل یې معمولاً د څپیړې، بوټ،

لغته په واسطه دي مګر ځيني وخت ان هغوي د وژلو په ګواښ هم ويروي. نوموړي وويل چې يو ځل يې د ضياء مېرمن په لغته ووهله او په هغه وخت کې نوموړې حامله وه، نو کله يې چې ووهله د ضياء د مېرمنې په ګېډه کې د ماشوم لاس ټپي شو.

سره له دې د مرکې په يوه برخه کې هغه ته ورپه ياد شول چې پلار يې نه يوازې په يونس او خويندو باندې يې تاوتريخوالی کاوه بلکه د هغوي په مور باندې يې هم کاوه. نوموړي دا هم وويل چې هغه او خويندې او ورونه يې څومره د خپل پلار څخه نفرت کوي، او ويې ويل چې نه غواړي بچيان يې هم له هغه څخه د خپل پلار په څير نفرت وکړي. مګر ضياء يوازې دا ونه ويل چې يونس توند خويه دی بلکه دا يې هم وويل چې په کورنۍ کې يې ماشومان قدر نه کوي او نه يې خوښوي:

> کېداي شي د ورځې به ۲۰ ځلې ماشومان وهي. چې هغوي شوخي وکړي نو يونس يې ډېر سخت وهي. زما مشر ماشوم شپږ يا اته کلن دی او پاتې نور ټول له هغه څخه واړه دي. کله چې يونس راځي نو زما بچي داسې نه وايي چې کاکا راځي بلکه وايي چې اونګک (په هزارګۍ ژبې د بې احترامي کلمه ده) راغی.

نورو خلکو سره چې خبرې وشوې هغوي په پوره ډول پدې اند ؤ چې هرډول چلند چې د هغوي پلرونو له هغوي سره کړی وي، هغوي به همغه شان چلند خپلو ماشومانو سره کوي، د مثال په توګه يوه ځوان سړي د ځوانانو سره د يوې ګډې ناستې په مهال وويل چې خلک خپلو ماشومانو سره هغه چلند کوی چې پلرونو يې له دوی سره کړی:

> مونږ تل خپل ماشومان وهو ځکه همدغسې مونږ هم د خپلو پلرونو لخوا وهل کېدو، نو ورته پروسه له يوه نسل څخه بل ته ليږدول کېږي.

همدارنګه ملالۍ د شکيب د کورنۍ څخه داسې راپور ورکړ چې يوازې شکيب او مور يې د ماشومانو په وړاندې توند ندي بلکه د شکيب پلار هم توند دی. ملالۍ نوموړی تاوتريخوالی د کورنۍ د يو خاصيت په توګه بيان کړ:

> لکه چې مخکې مې درته وويل، د ماشومانو وهل د کورنۍ دعادت په څېر دی. زما ليور (د شکيب پلار) هم زما د يور او د هغې د زوي په څير ماشومان وهي، يعني ماشومان په څپېړو او سوکانو وهي. مطلب مې دا وه چې په ځيني کورنيو کې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی د يو عادت په څير وي او د يو نسل څخه بل ته د ميراث په توګه نقليږي. نو زما د ليوره په کور هم وهل د يو ميراث په څير دي او زه پدې باوري يم چې کله شکيب واده وکړي خپله مېرمن به هم وهي، ځکه دا د يو عادت په څير دی او هغه ورسره عادي شوي دي.

توند خوي د والدينو څخه زده کېږي، يعني له هغو والدينو څخه چې هغوي هم توند وي او يا دا چې په يوه توند کورنۍ کې غټېدل څوک دې ته هڅوي چې د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالی ترسره نکړي. مګر ځيني نور خلک چې د څېړنې ټيم ورسره مرکې کړي ويل چې والدينو يې ورباندې توندي نده کړې نو هغوي هم نه غواړي چې په خپلو ماشومانو باندې توندي او تاوريخوالی ترسره کړي.

نورالله د کابل د کليوالي سيمې اوسېدونکی چې د ديرشو کلو په شاوخوا عمر لري، شپږ زامن او درې لونې لري په ډېر شوق سره وايي چې نه غواړي د خپلو ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي څخه کار واخلي ځکه پلار يې هم په هغه باندې هېڅکله تاوتريخوالی ندی کړی:

> زه قسم کوم چې يوه ورځ مې هم پلار نه يم وهلی. هغه ډېر مهربان ؤ او فکر کوم چې زه د هغه په وجه مهربان يم.

ددې بل مثال غلام نبي دی چې د څلويښتو کلو په شاوخوا عمر لري او د هرات په کليواله سيمه کې اوسېږي. هغه وايي چې خپل ماشومان وهي او بيا پيښمانه کېږي ځکه چې پلار يې هغه نه وهل:

> ما د خپلو ماشومانو وهل هغه وخت پيل کړل چې ماشومان مې اووه کلن ؤ... وروسته ډېر پيښمانه شوم، ځکه چې زه کوچنی وم هېڅکله مې پلار نه وهلم نو زه هم بايد د خپل پلار کړنه تعقيب کړم. د ماشومانو وهل يوه ډېره بده د حل لار ده.

هغه څه چې له دغو مثالونو او معلوماتو څخه په لاس راغلل ښيي چې دا په دې معنی ندی چې څوک د تاوتريخوالی څخه ډکه کورنۍ کې

غتې شي هغه به خامخا توند او د تاوتریخوالي پلوي کوي، بلکه حالت فرق کوي او ډېر پیچلې دی ځکه په ځینې کورنیو کې د ماشومانو سره د سلوک په وړاندې کټ مټ د والدینو کړنلارې تعقیبیږي او ځینې نور کوښښ کوي چې د والدینو د هغه سلوک څخه چې په ماشومانو یې تاو تریخوالی کړی وي، ځان وژغوري.

## ۲.۹ د وخت په تیریدو سره په انفرادي سلوک او کړو وړو کې بدلون

سره له دې په کومو ټولنو کې چیری چې دغه څیړنه تر سره شوه، اکثره د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوندو پېښنو رپوټ ورکول کېده که څه هم د هغو سیمو څخه چې څېړنې پکښې ترسره شوي د تاوتریخوالي ډېر راپورونه ترلاسه شول مګربیاهم زیاتره خلک په دې اند ؤ چې دا ډول تاوتریخوالی د وخت په تیریدو سره کم شوی دی، په ځانګړې ډول د تیر نسل په ترڅ کې. د مثالونو لپاره ۵م چوکاټ وګوئ.

د پورتني عمومي موافقې په خلاف یو څه مخالفتونه موجود ؤ چې یو زیات شمېر یې د ننګرهار ولایت په ښارې او کلیوالو سیمو کې په سترګو کیدل او هغوي ویل چې د تیر نسل په اوږدو کې د کورنیو د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی کچه لوړه شوې ده. ددې ځانګړیتوب د ربښتینوالي سبب لاتر اوسه ندی معلوم. د ورته نظر لرونکو خلکو (نارینه او ښځې) پدې اند ؤ چې اوس مهال هلکان او نجونې د پخوا په پرتله ډېر شوخ شوي دي، او چې سبب به یې ورڅخه وپوښتل شو نو یوازې دا به یې ویل چې اوس مهال د ماشومانو لپاره د شوخوالي ډېر چانسونه شتون لري او د مشرانو په وړاندې ډېر لږ ادب موجود دی. په پاي کې د ماشومانو د خرابیدو سبب د هغوې د فکرونو او اخلاقو بدلیدل په ګوته شول، او ویل کیدل چې د لویانو په اخلاقو کې د ماشومانو په پرتله لږ بدلون راغلی.

مګر ځینې وخت به د ماشومانو د اخلاقي پرمختګ خبرې هم کیدې یعني ویل کیدل به چې د ماشومانو اخلاق د پخوا په پرتله ډېر ښه شوي دي. د لویانو د اخلاقو د بدلون په اړوند ګڼ شمېر نظرونه موجود ؤ. ځینې له دغو نظرونو څخه ډېر عام ؤ چې خلکو به ویل چې دا ځکه چې په جهالت او ناپوهی کې کموالی راغلی او خلک اوس پوه شول چې وهل د ماشومانو د تأدیب لپاره اغېزمن ندي. او ځینو نورو به ددې اساسي سبب د فکرونو بدلون ښوده.

د خلکو په اخلاقو کې بدلون معمولاً دباندني مهاجرتونه په ګوته کیدل او داسې به ویل کیدل چې خلکو پاکستان او ایران ته مهاجرتونه وکړل نو ځکه په اخلاقو کې بدلون رامنځته شو. دغه ټکي

### پنځم چوکاټ: د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالی د لږیدو درک

*اوس هغوی خپل ماشومان نه وی، خو پخوا به یې وهل. اوس وخت خلک ښه شوی دی خپله غوسه په ښه توګه کنټرولوی. هغوی وړه خبر نه لویوی ځکه چې د دنیا په بیلا بیلو برخو کې یې ژوند کړی دی.*—د بامیان له کلیواله سیمې څخه، د ځوانو نارینه وو سره د یو دله ییزه مرکې څخه یو تکی

*پخوا به هر کله مور او پلار خپل ماشومان وهل خو اوس یې دومره کلک نه وی. اوس ماشومان زیات وهل نخوی ځکه چې هغوی شوونځې ته زی. پخوا ښوونځې نه وو که یو ښوونځی هم وو د کورنی جګړی له کبله به ماشومان تللای نشوی.*—د کابل کلیواله سیمه، له سپین سرو ښځو سره د یو ډله ییزه مرکې څخه یو ټکې

*پخوانیو خلکو به خپل ماشومان ډیر وهل او سزا یې ورکوله ځکه چې ناپوهې وه. د ننننی زمانې خلک لا اوس هم خپل ماشومان وهی، خو سزا را کمه شوی ده. زه دا نه وایم چې اوس خلک خپل ماشومان نه وهی خو د سزا کچه را ټیټه شوی ده.*—په کلیواله ننګرهار کې، عبدالغالب د دایا له کورنی څخه

*هو، زموږ وخت دیر بد وو، کله به چې ما څه خطا وکړه نورو به وهلم. ما خپله به زما زوی کله چې کوچنی وو په رسی واهه. زه خپل لمسیان هغومره نه وهم چې خپل زامن به می وهل، دوی یوازی یوه یا دوه ځاپیړې وهم.*—د بامیان له کلیواله سیمې څخه، سپین سری ښځه

ته د کابل ولایت د ښارې سیمې یوې مېرمن د یوې ګډې ناستې په مهال داسې اشاره وکړه چې په اخلاقو کې دا ستر بدلون د خلکو د مهاجرتونو په وجه رامنځته شوی دی، مګر هغې داسې هم وویل چې د ځینو خلکو په اخلاقو کې یوازې د بهرنیو مهاجرتونو په واسطه هم بدلون را نه غللو:

> فکر کوم چې د کورنۍ جنګ جګړې د پیل راهیسې چې زیاتره خلک پاکستان او ایران ته مهاجر شول، او هلته یې ډېر څه زده کړل، په ځانګړې توګه د کلیوالو سیمو خلکو فکر په پوره ډول بدلون وموند او اوس هغوی خپل ماشومان نه وهي. مګر یو شمېر خلک دي چې د مهاجرتونو سربېره هم د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه کار اخلي چې روڼ مثال یې زما لیور دی چې مخکښې مې درته وړاندې کړ.

زیاتره وخت خلک د هغو خلکو په اړوند چې مهاجرت یې کړی داسې خبرې کوي چې هغوی د نوؤ معلوماتو او نظرونو سره راستانه شوي دي. د بامیانو په ولایت کې چې زیاتره خلک یې په داخل کې بېځایه شويؤ هم ورته نظر موجود ؤ:

> د پخوا په پرتله د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي نظر اوس بدلون موندلی ځکه چې مخکې خلکو ښار او نوره نړۍ نه وه لیدلې نو ځکه به یې ماشومان د اوس په پرتله ډېر وهل، ما پخپله د دانش کلی چې د نیم ساعت په واټن کې پروت دی، کله هم نهؤ لیدلی.

یوازې په مهاجرت باندې هم ټینګار نه کېده چې ګواکې په ټولنه کې یې د ماشومانو په وړاندې د خلکو چلند ته بدلون ورکړی وي، ولې بیاهم ځینې خلکو ویل چې په ځانګړې توګه یې اخلاق تر تأثیر لاندې راغلي، لکه څرنګه چې یو د پاخه عمر سړی داسې بیانوي:

> ما دري ځلې خپل زوی ډېر سخت وهلی، ما به خپل ماشومان ډېر وهل. مګر نړۍ او نور خلک مې ولیدل نو اوس خپل بچیان نه وهم.
>
> (په بامیانو او هرات کې یو څو ځلې خلکو داسې وویل چې ماشومانو یې هم نړۍ وکتله نو که یې ډېر ووهو نو هغوي به ښار او یا ایران ته تېښته وکړي.)

عادله ګل یوه کونډه ښځه چې د څلویښتو کلو په شاوخوا عمر لري او د خپلو والدینو سره د کابل په کلیواله سیمه کې یوځای اوسېږي، د رسنیو رول چې د خلکو د نظرونو په اړولو کې یې لري، داسې بیان کړ:

> کال په کال د خلکو نظرونه بدلون مومو، سږ کال خلک د پروسږ کال په پرتله ډېر پوهیږي، راتلونکی کال به خلک د سږ کال څخه ډېر معلومات لري. نو ځکه کال په کال د خلکو ذهن پراختیا مومي او نوي شیان لاسته راوړي او د ټلویزیون، خبرونو او نورو ځایونو څخه نوي معلومات ترلاسه کوي.

همدارنګه خلیل یو ۲۷ کلن هلک چې د کابل اوسېدونکی دی وویل چې هغه د ایرانی تلویزیون څخه د ماشومانو د وهلو په اړه پروګرام لیدلی و او دا یې زده کړی و چې وهل څومره بد کار دی. هغه وویل

> ما له ایراني تلویزیون څخه ډېر څه زده کړل او اوس پوهیږم چې د ماشومانو وهل څومره ناوړه عمل دی. که چېرې دوی اشتباه کوی نو باید د هغه لامل و موندل شی.[۲۵]

د ماشومانو د تاوتریخوالي د کچې په راټیټیدو کی د هغوی تعلیم د ځواب ورکونکو له خوا یو ښه دلیل وپېژندل شو. په خاص ډول په کلیواله بامیانو کی چېرې چې دغه تحقیق تر سره شوی. له همدی امله پدې وروستیو کې یو لومړنی ښوونځی جوړ شوی دی. د دې دلایل چې ماشومان ولی ښوونځي ته ولیږل شی او د تاو تریخوالي په را ټیټیدو کې څه رول لري هم په تفصیل سره بیان شول. په دې لومړي مثال کې رحیم د بامیانو اوسېدونکی خپل نظر داسې بیان کړ چې د ماشومانو ښوونځي ته تلل د هغوی په چال چلند څومره مثبته اغېزه لري.

[۲۵] د یادونې وړ ده چې په عمومي توګه د مشهورو رسنیو نظر له دغو دوؤ څخه منفي دی، او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په هغې راتلونکې ترکیبي مقالې کې چې د کورنۍ د اړیکو او تاوتریخوالي په اړوند ده، ژور معلومات ترلاسه کولای شی.

> که زه ووایم چې زه خپل ماشومان هېڅکله هم نه وهم تا سو څه فکر کوی؟ په تیرو و ختو کی ښونځی نه وو خو اوس ښونځی شته او ډېر ښه ښونکي پکښې ښوونه کوي او هغوی ته نظم او دیسپلین ورښي. هغوی ته وایی چې یو بل ته سلام وکړی او جګړې نکوي او نظافت ته پام و کړي. اوس ماشومان له مخکې څخه ډېر با ادبه دي.

ددې سړي ورور نظیر خپل وړوکوالی د خپلو ماشومانو سره مقایسه کړ او ویی ویل چې ښونځی د ماشومانو پر روزنه مثبته اغېزه لري.

> اوس موږ ماشومان نه وهو او نه پوهېږم چې موږ مور او پلار ولې وهلو. ښایی موږ به شوخي کوله. خو اوس موږ ماشومان نه وهو. ښایی چې هغوی به شوخی نه کوي خو زه په دې تر اوسه نه پوهېږم. اوس موږ ته ماشومان د ښونځی قصه کوی. د مثال په ډول دوی د خپلو د شمیرو او د خپلو ټولګیوالو په اړه موږته وایي.

ټولو کسانو خپلی تجربې د خپلو زده کړو په هکله او دا چې زده کړه ددوی د ماشومانو په اړه په چال چلند کې څه تآثیر لري بیان کړې. یوې مېرمنی چې تقریباً د ۳۵ کالو وه دوه واده شوې او دوه پیغلې لونې او یو زوی یې لاره او په کابل کې اوسیده په وړکتون کې یې کار کاوه او په څو روزنیزو پروګرامونو کې یې برخه اخیستې وه ویې ویل چې دا اوس په دې پوهېږي چې له ماشومانو سره څرنګه چلند وشي. هغه وویل چې مخکې لدې چې په دغه روزنیزو پروګرامونو کی برخه واخلي خپل ماشومان به یې په څپیړه یا لرګي وهل.

یوه بله مېرمن چې دیبا نومیده او په هرات کې په یوه لومړني ښونځي کې ښونکې وه وویل چې هغی د خپلو تجربو له مخی خپلو زده کوونکو ته د دیسپلین او د تاو تریخوالی د نه کولو په هکله ډېر څه ور زده کړیدي. هغې د یوی شاګردی په هکله چې درس به یی نه ویلو او بیا به دې وهله وویل چې دغی شاګردی بیا په دې وجه ښونځی پرېښود. د څو هفتو وروسته هغه نجلی بیرته راستنه شوه او دیبا هوډ وکړ تر څو هغه وهڅوي چې نور زحمت هم وباسي. دیبا زیاتوي چې وهلو ټکولو ښه نتیجه ورنکړه ځکه هغه اوس غواړي چې زده کوونکې وهڅوي.

صادق یو پنځه ویشت کلن ځوان چې دننګرهار اوسېدونکی دی او پنځه د لسو کلو څخه کم ماشومان لري وویل چې هغه د شرعی کتابونو په لوستلو کی دا زده کړل چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی څومره خراب کار دی.

> زه له هغوی سره ښه چلند کوم او په ښو او بدو کارونو یی پوهوم. مخکی به یی چې کله خراب کار وکړ نو په څاپیړه به مې وهل خو اوس د شرعی کتابونو له لوستلو وروسته او له لویانو ما دا زده کړل چې د ماشومانو باید درناوی وشي او ددوی سره په مینه چال چلند وشي.

هغه دا هم وویل چې اوس هغه ماشومانو ته د وهلو په ځای هغوی ته نصیحت کوي.

دا فصل ددې ښکارندوی دی چې اکثراً ځواب ورکونکي پدې عقیده دي چې په کورنیو کې تاوتریخوالی څه نا څه کم شوی دی. د پام وړ خبره ده چې هر چا چې دا خبره کړې نو دا یې یو مثبت ګام هم بللی دی. دغه خبر بیا هم د دغه کتاب مونږ یز باور پیاوړی کوی چې که څه هم په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی منل شوی دی خو په بشپړه توګه د منلو وړ ندی.

هر هغه څه چې په ټولنو کې د تاوتریخوالی د کچو په بدلون باندی مثبته اغیزه کړی، د هغو په هکله له خلکو سره د بحثونو او همدارنګه د هغو عواملو پیژندنه چې د افرادو د سلوک په بدلون کې یې د اصلی دلایلو په شان عمل کړی، په پام سره، د امکان وړ دی چې د لا زیاتو بدلونونو لپاره فضا هواره شی. د رسنیو او مهاجرتونو مثبتی اغېزې خلکو ته ددې زمینه مساعدوي چې په نورو ټولنو کې خلک د ماشومانو سره څنګه چلند کوي او دوی ته په دې اړه نور نظرونه پیدا کوي. همدارنګه، د وړکتون د ښوونکي په توګه یوې ښځې په ځانګړې زده کړه څخه تر لاسه کړل چې باید د ماشومانو د روزلو په اړوند خپل آند ته بدلون ورکړی. د ښوونځې یوی ښوونکې د انضباط تجربې هم هغه د سلوک بدلون ته وهڅوله. او د بل شخص ځانی اسلامي کتابونو مطالعه د لار ښونې سبب شوه. ښونځي ته د ماشومانو تګ هم د ماشومانو لپاره د دسپلین د ښه ژوند لاره په حیث و پیژندل شوه.

## ۱۰. په مخکې لارې ۲: پايلې او وړانديزونه

په دې څېړنه کې  په کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندې د تاوتريخوالي په هکله زيات نظريات او د تاوتريخوالې پر وړاندې سلوکونه وړاندې شول او د دی نظرياتو په رڼا کې  د تاوتريخوالي عوامل و څيړل شول چې اکثراً د لويانو له خوا پيښيږي. د پای فصل کې د لويانو له خوا د ماشومانو پر وړاندی د تاوتريخوالی په کچو کې د بدلون لپاره لاری په ګوته شوی. او هغه پر دی بنسټ په ګوته شوی چې په کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندی د تاوتريخوالی کچو او د تاوتريخوالی په اړه د افرادو د سلوک څنګه بدلون موندلی دی

په کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندی د تاوتريخوالي پوهه د دغو مواردو توپير پر بنسټ څرګنديږی؛ د ماشومانو پر وړاندی خشونت منل شوی (په زياترو کورنيو کې عام او معمول سلوک ګڼل کيږی) له دی سره په توپير چې د ماشومانو پر وړاندی خشونت د منلو وړ دی (تاو تريخوالی د مشرانو له خوا د ماشومانو پر وړاندی اخلاقاً ښه سلوک دی). په داسی حال کې چې د ماشومانو پر وړاندی د خشونت لپاره د خلکو رټل د ټولنې لخوا غير معمولې خبر ده خو زياتو خلکو سره چې زموږ څېړنيزه ډلې خبرې وکړی هم په دی پوهيدل چې تاوتريخوالی ماشومانو ته زيان ور رسوی او هم دا احساس درلود چې تاوتريخوالی د ماشومانو د تاديب لپاره ښه لاره نده.

په دی پاڼه کې څرګنده شوه چې لويان پر ماشومانو باندی د تاوتريخوالي په رواني او فزيکي اضرارو څخه آګاه دی. هغوی ددی په اړه هم ښه پوهيږي چې ښه مور او پلار خپل ماشومان څرنګه په ښه توګه روزلی شي. دغه راز دا هم و پتيل شوه چې څومره او په څه اندازه ځواب ويونکي خپل حالت او په خپلو کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندی د تاوتريخوالي د پېښېدو عامل تعبير او تحليلولې شي. دغه پوهه او خبرتيا د نارينه او ښځو، زړو او ځوانو، شتمنو او غريبو، تعليم يافته و او بې تعليمو په منځکې ټولو سره شته.

دا هم معلومه شوه چې د وګړو او ټولنو نظريه د جسمې سزاګانو په ښه تاوتريخوالی د ښه والي او بدوالي په اړه يو شان نه وه. ددی پر ځاي خلک پر دی آند دي تر څو د ماشومانو د دسپلين لپاره ښې لارې چارې تر غور لاندې ونيسي. اکثرو خلکو نه يوازې دا چې ددی کار مخالفت نه کولو بلکه دې ته هم تيار و چې تر څو دداسې مسايلو په وړاندې بحث ته خپل چمتووالی څرګند کړي. دا څيړنه د وګړو  د نظرياتو تر منځ توپير په دې اړه چې د ماشومانو سره څنګه چلند وشي هم را په ګوته کوي. دا توپير که څه هم په ټولنو کی په عامه توګه ليدل کېږي خو د خلکو اکثريت په دې باور دي چې د ماشونو په وړاندې تاوتريخوالی ښه کار ندی او که څوک يی کوي هم په ځينې خاصو حالاتو کی بايد وي. ځينې خلک د ماشونو په وړاندې د تاوتريخوالی د هر ډول سره مخالف وو او دې ته هم چمتو و چې د نورو خلکو سره و غږيږی تر څو د هغوی نظر او کړنې ته په دې اړه تغير ورکړي.

په عام ډول داسې اټکل کېږي چې په کورنيو کی د ماشومانو پر وړاندی په تاوتريخوالي برلاسی کيدل ډېر ګران کار دی، لکه څرنګه چې د ملګروملتونو د سر منشي د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالی په ۲۰۰۲ ريپوټ کې راغلي: "د ماشومانو په وړنداې پر تاوتريخوالي په کورنيو کې په هر ډول برلاسی کيدل ډېر ګران کار دی. په دې اړه په کورنيو کی کارکول ګران کار دی ځکه په اکثرو ټولنې دا يو شخصي کار بولي." دا کيدای شی تر يوه حده صيحيح خبره وي خو دا ددې سبب نشي کېداي تر څو خلک په کورنيو او ټولنو کې د ماشونو په وړاندې  د تاوتريخوالی د بحث څخه منع کړي. د څېړنې لپاره د معلوماتو د راټولولو په پروسه کې دا ثابته شوه چې په يوه آرام چاپيريال کې د ډاډ وړ تسهيل کونکو په مرسته نر او ښځې نه يوازې دې ته حاضر و چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي بحث وکړي بلکه هغوی ددې چمتوالی هم وښود تر څو هغه خاص کړه وړه په ګوته کړی چې دوی به د خپلو ماشومانو په وړاندې کول.

### پنځه اساسی دلايل چې د ماشومانو پر وړاندی د تاوتريخوالی سبب ګرځي:

- لمړی، ځينې خلک جسمي سزاګانې د ماشومانو د ښې روزنې لپاره يوه ښه لاره ګڼي.
- دوهم، بل هغه خلک چې داسې سزاوې دماشومانو د ډېر بد سلوک په حالت کې دهغوی لپاره سزايې ګڼي چې دا ورستی لاره

ده، خو دا پداسې حال کې وي چې داسې میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د روزنې لپاره د دسپلین د نورو لارو چارو څخه بیخبره وي.

- دریم، د میندو او پلرونو هغه تشویش چې د خپلو ماشومانو د راتلونکې په باب او دا چې دوی به په راتلونکې کې و ټولنې سالم غړي نه شي، او د دسپلین د نورو لارو چارو څخه د بیخبرۍ په صورت کې هغوی ته د جسمي سزاګانو د ورکولو باعث ګرځي، پداسې حال کې چې دوی پدې پوهیږي چې ددوی وهل ټکول ښه کار ندی او یوه موثره طریقه نده.

- څلورم، کله نا کله ذهني فشار او خواشینیتوب میندي او پلرونه پر ماشومانو باندي تاوتریخوالی ته اړ باسي. په کورنیو کې د لویانو تر منځ د ترخو اړیکو موجودیت او اقتصادي ضعف د ذهني فشار او خواشیني احتمالي عوامل ګڼل کېږي.

- پنځم: د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی په ټولنه کی په پراخه پیمانه رواج لري او خلکو ته د یو عام کار په شان ښکاري، او پدې اړه د ټولنې په عام ډول د منفی قضاوت تغیرول آسانه کار ندی.

## د پالیسۍ او پروګرامونو لپاره وړاندیزونه:

- هر هغه پروګرام چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی د مخنیوي لپاره کار کوی باید له دی خبری اګاه وي چې په ټولنه کې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی د منفي نتایجو یو عمومی درک موجود دی او خلک په دې پوهیږی چې تاوتریخوالی د ماشومانو د روزنی او هڅولو لپاره ښه لاره نده. ځکه خو د عام پوهاوي پروګرامونه باید خلک د ماشومانو د روزلو په نورو مهارتونو او لارو چارو باندې سمبال کړی.

- د روزنې نور مهارتونه او لارې چارې باید د هغو موسساتو له خوا د مختلفو ټولنو په مرسته طرح شي چې په دې اړه کار کوي تر څو ډاډه شی چې دغه لاری د افغانستان د بیلابیلو چاپیریالو سره مناسبې دی، او د افغانستان ډیرو راز راز کورنیو او ټولنو لخوا به اختیار شی. او ځکه باید ډاډه شی چې له تاو تریخوالی څخه پرته د ماشومانو د روزلو دغه لارې د افغانستان په چاپیریال کې د پلی کیدو وړ دی.

- د روزنې نور مهارتونه او لارې چارې باید په ټولنه کې په مستقیمه توګه تدریس او پری بحث وشي. دا کار د رسوخ د خاوندانو لکه سپینږیرو ( نارینه او ښځو )، ملا امامانو، نرسانو او ښونکو له خوا په ټولنه کې په ښه توګه تر سره کېدای شي.

- څېړنې داسی خلک هم په ټولنو کې په ګوته کړل چې د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي کاملاً مخالف و. د داسې خلکو څخه په ټولنه کې د عام پوهاوي په تبلیغ او روزنیزو کارونو کې د موثرو پروګرامونو په لاره اچولو سره د تاو تریخوالي د مخنیوي لپاره ښه ګټه اخیستل کېدای شي.

- دا پروګرامونه باید د ټولنې د هڅولو لپاره پکار واچول شي تر څو پوره د هغه کسانو سره چې د ماشومانو سره تاو تریخوالی کوی مرسته وکړي چې د هغوی په وړاندې تاوتریخوالی بس کړي.

- دا پروګرام او کمپاین باید د ټولنې د هڅولو لپاره پکار واچول شي تر څو خلک په دې باندې قانع شي چې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي په ټولنو کې د منلو وړ کار ندی. (حتی د فکري فشار او خواشینیتوب په حال کې هم د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي په ټولنو کې د یو نورمال او قبول شوي سلوک په حیث نه پیژندل کېږي )

[۳۲] د سیالو ډلو (زیاتره یې پخپله افغانانو) سره د ورکشاپ د مباحثې په مهال چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې لخوا په کابل کې د یوه کنفرانس په ترڅ کې ترسره شو د مورتوب او پلارتوب نورې لارې چارې د ماشومانو د تأدیب لپاره تر بحث لاندې ونیول شوې، او همدارنګه په بامیانو، هرات او ننګرهار کې هم نوموړی بحث چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې او د بشر د حقوقو د نړیوال کمیسون لخوا ترتیب شوی ؤ، تر بحث لاندې ونیول شو. او ګڼ شمېر نظرونه وړاندې شول تر څو پدې پوه شي چې په افغاني ټولنه کې د مورتوب او پلارتوب لپاره د تاوتریخوالي څخه بغیر کومې نورې لارې چارې د تطبیق وړ دي.

- د فکري فشار او خواشينيتوب د اداره کولو مهارتونو ته وده ورکول او په کورنيو باندې د هغو د تاثيراتو په اړه پوهاوی به هم د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي په مخنيوي کې مرسته وکړي.[۲۷]

[۲۷] لکه څرنګه چې پدې څېړنې کې د ماشومانو د تاوتريخوالي په اړوند د افغانستان د ملي پاليسۍ په اړوند ذکر ندی راغلی او همدارنګه نوموړې پاليسې په اړوند يې سپارښتنې هم ندي بيان کړي، مؤلف به د ماشومان په وړاندې د تاوتريخوالي په اړوند قوانينو کې تغير راولي په ځانګړي ډول په هغو قوانينو کې چې د ماشومانو د تاوتريخوالی يادونه پکښې شوې ده. افغانستان د ملګرو ملتونو د غړيو هيوادونو د کنوانسون غړيتوب په ۲۷ اپريل ۱۹۹۴ کې ترلاسه کړ. مګر د نوموړي قانون احکام د افغانستان په قوانينو کې نه دي اضافه شوي. په نوموړي کنوانسون کې داسې راغلي چې د ټرون غړي هيوادونه بايد ټول قانوني، اداري، ټولنيز او د زده کړې تدبيرونه تر لاس لاندې ونيسي تر څو ماشوم د ذهني او جسمي تاوتريخوالی، ناوړه ګټې اخيستنې، ناوړه چلند د استثمار او جسمي ګټې اخيستنې د مخنيوي په برخه کې کله چې ماشوم د هغه د مور او پلار قانوني سرپرستانو يا نورو هغو کسانو چې د دغه پالنه يې په غاړه وي بايد د ماشوم څخه هر ډول حمايت او پالنه وکړي (۱۹:۱ماده)؛ د ټرون ټول غړي هيوادونه بايد زيانمنو دوديزو درملنو د له منځه وړلو په اړه ټول اغېزمن او ګټور اقدامونه تر لاس لاندې ونيسي (۳:۲۴ ماده)؛ د ټرون لوري هيوادونه بايد ډاډ ترلاسه کړي چې: (الف) هېڅ ماشوم د ځورونې، سپکاوي نه ډک عمل او ترغير انساني او ناوړه چلند لاندې نه واقع کېږي تر (۱۸) کلونو د ټيټ عمر لرونکو کسانو د پاره د جرمونو د ترسره کولو په صورت کې د هميشني بند او مړينې سزاګانې بايد ورنه کړلې شي (۳۷ ماده)؛ او بايد وړ اقدامونه تر لاس لاندې ونيسي تر څو هغه ماشوم چې د وسله والو شخړو د سپکاوي وړ عملونو، زياتي، ځورونې، استثمار او نورو تيريو قرباني شوی وي د کورنۍ سره د بيا يو ځاي کېدو او د هغه د ژوند د ښه والي په اړه وړ چارې ترلاس لاندې ونيسي دغه ښه والی او سمون بايد په داسې چاپيريال کې رامنځته شي چې ماشوم ته د درناوي بهير ګرندی کړي (۳۹ ماده) (د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، سند /A/RES ۴۴/ ۲۵ (۱۲ دسمبر ۱۹۸۹)) د لازيات بحث او معلومات لپاره ټولييز نوښت (Global Initiative) ته ځير شی چې د ماشومانو په وړاندې د بدني سزا د پای ته رسولو (۲۰۰۲) يادونې په کې شوي دي. د ماشومانو په وړاندې د معمول تاوتريخوالي پاي ته رسول.

# ماخذ


Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU), forthcoming Issues Paper on marriage practices.

Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU), forthcoming Synthesis Paper on family dynamics and family violence.

Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU), forthcoming child labour study.

Agarwal, B. 1997. "Bargaining and Gender Relations: Within and beyond the household." *Feminist Economics,* 3: 1-51.

Chant, S. 1991. *Women and Survival in Mexican Cities: Perspectives on Gender, Labour and Low-Income Households*. Manchester: Manchester University Press.

Global Initiative to End All Corporal Punishment for Children. 2006. *Ending Legalised Violence Against Children*. www.endcorporalpunishment.org.

Hunte, P. 2006. *Looking Beyond the School Walls: Household Decision Making and School Enrolment in Afghanistan.* Kabul: AREU.

Jalil, F. 2003. *Mini Survey Report on Corporal Punishment*. Kabul: Save the Children Sweden.


Save the Children Sweden and Norway. 2006. *Disciplining Children? An Exploration of the Impact of Physical and Humiliating Punishment of Children in Afghanistan*. Kabul: Save the Children Sweden and Norway.

*United Nations Secretary-General's Report on Violence Against Children. 2006. www.unicef.org/violencestudy/reports.html.*

Yarshater, E. (ed). 2001. *Encyclopedia Iranica Volume 1.* New York: Biblioteca Persica Press.


# ضميمه: د كورنيو نخشې او د نخشو لارښود

## د كورنيو د نخشو لارښود





د څېنو ډېرو لويو كورنيو ټول غړي په نخشو كې ندي راغلي يوازې د كورني اصلي غړي په دغو نخشو كې شامل دي


## د لومړۍ کورنۍ نخشه: د بامیان ښاری سیمه، د جهانزیب کورنۍ




## د دوهمې کورنۍ نخشه: د کابل ښارې سیمه، د شکیب کورنۍ




## د دریمې کورنۍ نخشه: د بامیانو کلیواله سیمه، د مومنې کورنۍ





## د څلرمې کورنۍ نخشه: د کابل ښاری سیمه، د ماه جان کورنۍ




## د پينځمې کورنۍ نخشه: د ننګرهار ښاري سيمه، د عبدالصبور کورنۍ





## د شپږمې کورنۍ نخشه: د باميانو کليواله سيمه، د ګل بخت کورنۍ




## د اوومې کورنۍ نخشه: د ننګرهار کليواله سيمه، د سمندر کورنۍ





## د اتمې کورنۍ نخشه: د باميانو کليواله سيمه، د دايه کورنۍ



## د نهمې کورنۍ نخشه: د بامیانو کلیواله سیمه، د مجید کورنۍ




## د لسمې کورنۍ نخشه: د کابل کلیواله سیمه، د رفیعې کورنۍ



# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری خپرونې

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af او په کابل کې د دغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې موجودی دی.

نوموړی لیست د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کې نوی شوی دی. نوموړې ټولې خپرونې په انگریزی ژبه لیکل کیږی او بیا دری او پښتو ته اړول کیږی او دغه ټولې خپرونې په پښتو او یا دری ژبه موجودی ندی یوازی هغه خپرونې په دری موجودی دی چې د ستورې ( * ) نښه لری او هغه چې د غه ( ^ ) نښه لری په پښتو موجودی دی.

| | |
|---|---|
| جون ۲۰۰۸ کال | اوبه څنگه بهیږی: په افغانستان کې د اوبو لږونې د سیستم د بنو پیژندنه، باب روت |
| می ۲۰۰۸ کال | بیا زیات شوی او که کم شوی: په ننگرهار او غور کې د کوکنارو د کر په کچه کې د بدلونونو شرح، ۰۷-۲۰۰۶ کلونه، ډیویډ منسفیلډ |
| اپریل ۲۰۰۸ کال | کوچنې قرضې، غیر رسمې پورونه او کلیوال معیشت: په بامیان ولایت کې د یو کلي موضوعې څېړنه، ارنا اندرسن، پالا کانتور او امندا سیم |
| اپریل ۲۰۰۸ کال | په ایران کې د افغانانو دوهم نسل: بیرته پر ځای کیدل، هویت او راستندیل، محمد جلال عباثی شهواز او داسی نور کسان |
| اپریل ۲۰۰۸ کال | *^د افغانستان د څېړنو خبر پاڼه ۱۷مه گڼه |
| اپریل ۲۰۰۸ کال | په افغانستان کې د سیمه ییزه حکومت جوړښت، هیمش نیکسن |
| اپریل ۲۰۰۸ کال | عوامل چې پر ماشومانو باندی د مزدور کارۍ کولو په هکله پریکړو باندی اغیزه لری: په کابل کې د بی وزله کورنیو موضوعی څېړنه، پالا کانتو او اناستاسیا هیزیاینوا |
| فبروري۲۰۰۸ کال | د جندر د پرمختګ په لور: د افغانستان په ملي پالیسۍ کې د جندر بشپړتیا ، انا وردسورټ |
| فبروري ۲۰۰۸ کال | *^د سیمه ییز حکومتداری بدلیدونکی حالت: په افغانستان کې د ټولنیز پرمختګ شورا ، همیش نیکسن |
| فبروري ۲۰۰۸ کال | *^مینه، ویره او روزنه: په افغان کورنیو کې پر ماشومانو ورځنې اجبار/تیری، دیبرا جی. سمیټ، (په نږدی راتلونکي کې په پښتو او دري) |

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د گل فروشی کوڅه (د ۲می کوڅې څنډه)
نوی ښار کابل افغانستان
ټلفون: ۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+ برېښنا پته: areu@areu.org.af برېښنا پاڼه: www.areu.org.af

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشی کوڅه (د دوهمې کوڅې څنډه)
نوی ښار کابل، افغانستان
ټلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+
برېښنا پته: areu@areu.org.af
برېښنا پاڼه: www.areu.org.af